
جنگونه تل د حقیقت لپاره نه وی،
خیني د قدرت او مفاد لپاره وی !
اصلی
ترهگر
Dr. Atiqullah Zhman
ډاکتر عتیق الله ژمن
لومړي پړاو

# بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب په اړه د لیکوال خبرې

ځینې ناولونه یوازې ناولونه نه وي.

ځینې کیسې د انسان د ژوند له هغو پاڼو څخه راولاړېږي چې په اسانه نه هېرېږي. داسې کیسې شته چې یوازې د لوستلو لپاره نه لیکل کېږي، بلکې د یوې زمانې د درد، د خلکو د تجربو او د تاریخ د هغو پېښو د یاد ساتلو لپاره لیکل کېږي چې که نن هېرې شي، کېدای شي سبا یې حقیقت هم ورک شي.

اصلي ترهګر هم له همدې ډول کیسو څخه دی.

ما دا ناول یوازې د خیال له مخې نه دی لیکلی، بلکې د یوه انسان د حقیقي ژوند له کیسې څخه مې

الهام اخیستی دی. هغه کس چې دا کیسه یې راته کړې، له ما سره یې یو شرط ایښی و؛ هغه دا چې د ده اصلي نوم، د ده د کورنۍ نومونه او د هغو کسانو اصلي نومونه چې په دې کیسه کې شامل دي، باید هېڅکله ښکاره نه شي.

ما د هغه شرط ته درناوی کړی دی.

له همدې امله په دې ناول کې ډېری نومونه بدل شوي او ځینې نومونه مې په قصدي ډول نه دي یاد کړي. د کرکټرونو نومونه، ځینې ځایونه او ځینې نور جزئیات مې داسې بدل کړي دي چې د اصلي کیسې ویونکی او د هغه له ژوند سره تړلي کسان د هغه د غوښتنې سره سم خوندي او پټ پاتې شي.

خو د نومونو بدلون په دې معنا نه دی چې د کیسې حقیقت بدل شوی دی.

دا کیسه د هغو کلونو له تجربو سره تړاو لري چې افغانستان د جګړې، اشغال، وېرې، بېلتون او مرګ له سختو ورځو تېرېده. د دې ناول په لیکلو کې مې هڅه کړې چې د هغو خلکو د ژوند یوه برخه وړاندې کړم چې د جګړې په منځ کې یې خپلې کورنۍ، خپل عزیزان، خپل کورونه او کله ناکله خپل ټول ژوند له لاسه ورکړ.

د دې کیسې تر شا د هغو خلکو درد پروت دی چې د جګړې له امله یې د ژوند عادي حالت له منځه تللی و.

ځینې ناوې د واده په ورځ د خپل ژوند د ملګري د مرګ خبر ته پاتې شوې. ځینې میندې د خپلو زامنو د بېرته راتلو په تمه پاتې شوې، خو زامن یې هېڅکله کور ته ستانه نه شول. ځینې ځوانان د جګړې په منځ کې خپل ژوند له لاسه ورکړ، ځینې بندیان شول او ځینې د زندانونو له سختو شرایطو سره مخ شول.

زه نه غواړم د دې ټولو پېښو هر جز په ښکاره او تفصیل بیان کړم، ځکه د دې ناول د لیکلو پر مهال مې ځینې محدودیتونه هم په پام کې نیولي دي. له همدې امله مې ځینې پېښې لنډې کړې، ځینې مې یوازې په اشاره بیان کړې او ځینې هغه څه مې چې په اصلي روایت کې موجود وو، په بشپړ ډول مې نه دي راوړلي.

نو که د ناول په ځینو برخو کې پېښې په چټکۍ سره پر مخ ځي، باید لوستونکی پوه شي چې دا یوازې د لیکوال د بې پروایۍ له امله نه دي؛ ځینې ځایونه مې د موجودو محدودیتونو له امله لنډ کړي دي.

ما هڅه کړې چې د کیسې اصلي روح، د پېښو تسلسل او د هغو کسانو درد له منځه ولاړ نه شي.

دا ناول د افغانستان د يوه سخت پړاو د ژوند يوه ادبي انځورګري ده. په دې کې د جګړې، مقاومت، کورنيو ستونزو، مينې، بېلتون، خيانت، باور، تېرېدنې او د انسان د وجدان خبرې شته.

خو يوه خبره بايد روښانه کړم.

ما دا ناول د دې لپاره نه دی ليکلی چې د يوه نظام ستاينه وکړم او يا پر بل نظام يوازې د سياسي مخالفت له مخې نيوکه وکړم.

زما اصلي موخه له دې څخه لوړه ده.

ما غوښتل د هغه وخت د خلکو د ژوند يوه برخه تاسو ته وړاندې کړم؛ هغه څه چې د جګړې په منځ کې د عادي خلکو پر ژوند تېرېدل، هغه څه چې د دې خاورې خلکو ليدل، اورېدل او زغمل.

په ځانګړي ډول مې هڅه کړې چې د بهرنيو ځواکونو د حضور او د هغوی د پوځي عملياتو هغه اغېزې په کيسه کې راولم چې د دې کيسې له اصلي روايت سره تړاو لري.

زه نه غواړم لوستونکی يوازې زما خبره ومني؛ زه غواړم کيسه ولولي، د کرکټرونو ژوند تعقيب کړي، د پېښو تر شا حالت درک کړي او خپله پرېکړه وکړي.

دا کتاب د کوم سياسي نظام لپاره اعلاميه نه ده او نه د کومې ډلې لپاره تبليغ دی.

دا د يوه انسان د ژوند له تجربې څخه راوتلې کيسه ده.

که په دې ناول کې مې د جګړې، اشغال او د خلکو د ځورېدو خبرې کړې دي، موخه مې دا ده چې د هغه وخت د ژوند يو روايت له هېرېدو

وژغورم. تاریخ یوازې په رسمي اسنادو نه پاتې کیږي؛ کله ناکله د یوه عادي انسان په حافظه کې هم د تاریخ داسې پاڼه خوندي وي چې د یوه نسل د ژوند حقیقت پکې پروت وي.

ما غوښتل هماغه پاڼه تر تاسو پورې ورسوم.

کېدای شي په دې کتاب کې ځینې ادبي نیمګړتیاوې وي. کېدای شي په ځینو ځایونو کې مې املایي تېروتنه کړې وي، کېدای شي ځینې جملې مې د لیکوالۍ له معیار سره سمې نه وي او کېدای شي ځینې پېښې مې هغسې نه وي انځور کړې لکه څنګه چې باید انځور شوې وای.

که داسې څه مو ولیدل، نو ما انسان وبولئ.

انسان تېروځي، انسان زده کړه کوي او انسان د خپلې تجربې په اوږدو کې خپلې نیمګړتیاوې اصلاح کوي.

له لوستونکو څخه مې هیله دا ده چې د کیسې تر شا د لیکوال نیت هم وګوري، نه یوازې د هغه تېروتنې.

دا کتاب د یوه انسان له خولې راوتلې د ژوند کیسه ده، ما یوازې د هغې کیسې د لیکلو هڅه کړې ده.

هغه نومونه چې تاسو یې په دې کتاب کې لولئ، ټول اصلي نومونه نه دي؛ ځینې د اصلي کسانو د هویت د ساتنې لپاره بدل شوي دي. ځینې ځایونه او جزئیات هم د همدې لپاره بدل شوي چې د کیسې اصلي ویونکی او د هغه اړوند کسان د هغه د غوښتنې سره سم خوندي پاتې شي.

خو د نومونو تر شا احساسات، د درد تر شا حقیقت او د جګړې تر شا د انسانانو ژوند هغه څه دي چې ما غوښتل تاسو یې وویني.

شاید د دې کتاب تر ټولو مهمه خبره همدا وي:

جګړې یوازې ښارونه نه ورانوي؛ جګړې د انسانانو ژوند، کورنۍ، خوبونه او راتلونکی هم بدلوي.

او تاریخ هغه وخت معنا لري چې موږ یې یوازې ونه لولو، بلکې له هغه څخه عبرت هم واخلو.

که دا کتاب د تېر وخت یوه کوچنۍ برخه ستاسو په ذهن کې ژوندۍ کړي، که تاسو د یوه انسان درد د هغه له نوم پرته هم احساس کړئ، او که د دې کیسې له پای وروسته مو لږ تر لږه یوه شېبه د جګړې د قربانیانو په اړه فکر وکړ، نو زما لپاره به د دې کتاب لیکل بې معنا نه وي.

د کتاب پیژندنه !

دا یوازې د جګړې او مینې کیسه نه ده؛ دا د هغو انسانانو کیسه ده چې د جګړې په منځ کې یې انسانیت، باور، مینه او وجدان له سختو ازموینو سره مخ کیږي. دلته هره پیښه یو زخم پرېږدي او هره پرېکړه یو درونډ قیمت لري.

دا ناول پوښتي چې کله د جګړې په منځ کې انسان د خپل وجدان او د خپل امر تر منځ ودرېږي، نو کومه لار به غوره کړي؟

ځینې کسان په جګړه کې مري، خو ځینې نور د خپلو پرېکړو له امله تر مرګه پورې ژوند کوي.

اصلي ترهګر ناول یوازې د جګړې او دښمنۍ کیسه نه ده؛ دا د هغو انسانانو کیسه ده چې د جګړې په منځ کې د حق، وجدان، مینې او انسانیت ترمنځ پرېکړې کوي. ناول ښيي چې د انسان تر ټولو ستره ماتې هغه وخت وي چې خپل وجدان

وبایلي، او تر ټولو ستره بریا هغه وخت وي چې د حقیقت په پېژندلو سره د بدلون جرئت وکړي.

# متن

دا د 2008 م کال د ډسمبر میاشت وه

اسمان ځای ځای په تورو وریځو پوښلی و. پر هغه زوړ شین سړک د پوځي موټرو اوږد قطار روان و. په مخ کې څو رنجر موټرونه وو او تر شا یې د امریکایي ځواکونو درانه او زغره وال ټانکونه په احتیاط مخته روان وو. د لارې په اوږدو کې سړک په یوه ځای کې سخت ویجاړ او ژور کنده کنده و. موټرو خپل سرعت ورو کړ او یو په بل پسې یې له هغه خرابې برخې څخه د تېرېدو هڅه کوله.

لا څو موټرونه نه وو اوښتي چې ناڅاپه یوه درنه چاودنه وشوه. د ځمکې له زړه سره داسې ولګېده لکه غر چې ونړېږي. خړ لوګي او دوړې د اسمان پر لور پورته شوې او ټوله سیمه یې تر خپل سیوري لاندې ونیوله. دا له هغو ماینونو څخه و

چې وسلوالو مجاهدینو به د خپل پخواني جنګي تاکتیک له مخې د سړکونو لاندې ځای پر ځای کول.

د چاودنې زور دومره سخت و چې دوه ټانکونه له ځمکې پورته شول او په ځو شېبو کې بېرته پر ځمکه راولوېدل. نور موټرونه وارخطا شول او په بېړه یې هڅه کوله له هغه ځایه ووځي، خو لا یې حرکت نه و چټک کړی چې د غرونو او شنو باغونو له لورو د مرمیو باران پیل شو.

له هرې خوا ډزې کېدې. د ټوپکو او درنو وسلو غړ.ونو فضا ولړزوله. سره لمبې د لوګي له منځه پورته کېدې او د باروتو بوی په هوا کې خپور شوی و. د امریکایي ځواکونو قومندان رینالډ Rinald چي تقریباً د پنځه ځلویښت کلونو معلومیدي او په کوچني ږ.یره کي یي ځاي ځاي

سپین تارونه هم ښکاره وه هغه په بیړه مخابره راواخیسته او په لوړ غږ یې د دفاع امر وکړ. سرتېرو سمدستي سنګرونه ونیول او له هرې خوا یې ځوابي ډزې پیل کړې.

جګړه نږدې یو ساعت روانه وه. د دواړو خواوو مرمۍ د هوا په منځ کې سره اوښتې. کله چې جګړه ورو ورو سړه شوه، وسلوال د یوه خړ او خامه کلي تنګو کوڅو ته ننوتل او د کورونو ترمنځ ورک شول. داسې ښکارېدل لکه هېڅوک چې هلته نه وي راغلي.

په دې نښته کې د امریکایي ځواکونو څو سرتېري وژل شوي وو او یو شمېر نور ټپیان شوي وو.

د لومړي رنجر له موټر څخه یو ښکلی ځوان افسر راکښته شو. ږیره یې خرییلې وه، خو په څېره کې

يې ستړيا او اندېښنه ښکاره وه. شاوخوا يې وکتل، بيا يې وويل

رينالډه، موږ بايد ژر تر ژره قرارګاه ته ستون شو.

رينالډ په قهر ور وکتل. له کمربند څخه يې خپله پوليسي تومانچه راوايسته، مرمۍ يې ورتېره کړه او په لوړ غږ يې وويل.

زه تر هغه وخته له دې ځايه نه ځم، څو چې د خپل هر وژل شوي عسکر په بدل کې درې وسله وال نه وي وژل شوي.

حميد ، چې د ملي اردو يو زړور قومندان و، څو ګامه مخته راغی او په ارامه خو جدي لهجه يې وويل

جنرال صاحب، زه پوهېږم چې څه باید وکړو، خو دا ځای ستاسو لپاره مناسب نه دی. امکان لري د دښمن دوهم برید پیل شي. که همدلته پاتې شو، ښایي یو ځل بیا تر برید لاندې راشو.

خو ریناللډ د حمید خبره ونه منله. غرور یې د احتیاط پر ځای پرېکړه کوله. هغه په ټینګار وویل همدا اوس به هغه کلی محاصره کوو. هېڅوک باید له کلي ونه وځي.

حمید ځو ځله هڅه وکړه هغه له خپلې پرېکړې راوګرځوي. د خطر اندازه یې ورته بیان کړه او ویې ویل چې بې له دقیقې پلټنې پر کلي ورننوتل ښایي نورې مرګ ژوبلې هم ولري، خو د ریناللډ باور پر خپلو عسکرو او د غچ اخیستلو احساس دومره پیاوړی و چې د بل چا خبرې یې نه اورېدې.

حميد نور چوپ شو. رينالډ د رتبې له مخې تر هغه لوړ و او حميد يوازې د همدې پوځي کاروان د امنيت دنده پر غاړه لرله.

بلاخره رينالډ خپل وروستی امر صادر کړ

کلی دې سمدستي محاصره شي او ټول شکمن کسان دې ونيول شي.

سرټېرو خپل ټپيان او د وژل شويو ملګرو جسدونه روغتون ته ولېږل. وروسته ټول ټانکونه او رنجر موټرونه له پاخه سړک څخه خامې لارې ته واوښتل او د کلي پر لور وخوځېدل.

څو شېبې وروسته کلی له ټولو خواوو کلابند شو. د کلي ټولې لارې وتړل شوې او هر کور د سختې څارنې لاندې راغی. ماشومان د خپلو ميندو تر شا پټ وو، سپين ږيري د خپلو کورونو مخې ته ولاړ وو او د خلکو په سترګو کې وېره او بې باوري له ورايه ښکارېده.

رينالډ د کلي له يوه اوسېدونکي سره مخامخ شو او ويې ويل

هغه کسان چې نن دې کلي ته راغلي دي، ټول راته وښايه.

هغه سړي يوازې شاوخوا وکتل. په څېره کې يې حيرانتيا او وېره ښکاره وه، خو هېڅ يې ونه ويل.

ترجمان مخته راغی او په پښتو يې هماغه خبره ورته تکرار کړه.

هماغه مهال قومندان حميد په چټکو ګامونو ورننږدې شو. د غوسې له امله يې سترګې سرې شوې وې. هغه سړی يې په زور په څپېړه وواهه، له ګرېوانه يې ونيو او ځان ته يې راکش کړ. بيا يې يو سوک پر مخ ورکړ او په لوړ غږ يې وويل

ته زموږ خبرې نه اورې؟ ژر هغه ټول کسان راته وښایه چې دې کلي ته راغلي دي. که رښتیا ونه وایې، همدلته به دې ووژنم.

سرې د خولې وینې له لاړو سره تو کړې. د شونډو له کونجونو یې لا هم وینه روانه وه. په سختۍ یې ساه واخیسته او په مات غږ یې وویل

صبر وکړه... هر څه درته وایم، خو ژمنه وکړه چې ما او زما کورنۍ ته به زیان نه رسیږي.

د هغه خبرې د حمید غوسه لږه سړه کړه. د هغه له ګرېوانه یې لاس خوشې کړ او په ارامه لهجه یې وویل

که رښتیا ووایې، هېڅ تاوان به نه دررسیږي. زه خپله ضمانت کوم. ته یوازې هغه کسان را وښایه او نومونه یې راته ووایه.

په همدې وخت کې رينالډ وپوښتل

هغه څه وايي؟

حميد ورته وويل

چمتو دی هر څه ووايي، خو د خپل ځان او مال د خونديتوب غوښتنه کوي.

د رينالډ پر شونډو يوه سړه موسکا خپره شوه. په ټيټ غږ يې له ځان سره څه وويل، بيا يې خپل يوه سرتېري ته اشاره وکړه.

سرتېری سمدستي مخته راغی. د سړي دواړه لاسونه يې ولچک کړل، له بازو يې ونيو او په زور يې د ټانک پر لور کش کړ.

سړي په ژړغوني غږ نارې وهلې

زه هر څه وايم... د خدای لپاره ما مه بيايئ... زه هر څه درته وايم.

حمید په حیرانتیا رینالډ ته وکتل او ویې ویل

هغه خو چمتو دی هر څه ووایي، بیا دې ولې بوت؟

رینالډ وخندل، خو په هغه خندا کې د رحم هېڅ نښه نه وه.

حمیده، ته لا هم ما نه یې پېژندلی.

همدا یې وویل او د خپلو سرتېرو په منځ کې روان شو.

د حمید مرستیال، قاسم، چې هر څه یې له لرې څارل، ورو یې خپل قومندان ته وویل

صاحب، رینالډ ولې دلته د خپل حکومت قانون چلوي؟ که هر څه همدوی کوي، نو زموږ شتون د څه لپاره دی؟

حمید ژوره ساه واخیسته. څو شیبې چوپ پاتې شو، بیا یې وویل

زه د هغه په دې کارونو پوهېږم، خو نه پوهېږم چې بل ګام به يې څه وي.

حميد هم د رينالډ پسې روان شو او د هغه ساتونکي ورپسې حرکت وکړ.

کله چې دوی د کلي يوې تنګې کوڅې ته ننوتل، هلته د رينالډ ټول سرتېري په بشپړ چمتووالي ولاړ وو. هر چا خپله وسله نيولې وه او سترګې يې د کوڅې دواړو غاړو ته نيولې وې.

رينالډ په احتياط د يوه کور پر لور ورنږدې شو. لاس يې ورو پورته کړ او مټ شوی سوک يې هماغسې په هوا کې ونيو. ټول شېبې بې حرکته ودرېد، داسې لکه د کور له دننه کوم غږ ته غوږ نيسي.

وروسته يې شاته وکتل او حميد ته يې د ورنږدې کېدو اشاره وکړه.
حميد په کراره ګامونو ورغی.

رينالډ په ټيټ غږ وويل
همدا کور دی. بايد چاپه پرې واچوو.
حميد خپلو ساتونکو ته د تيارسۍ امر وکړ او هر سړي ته يې خپل ځای وښود.

هماغه شېبه د چا د قدمونو غږ واورېدل شو.
غږونه ورو ورو رانږدې کېدل. ناڅاپه د کور دروازه په زور خلاصه شوه او څلور تنه، چې افغاني کالي يې اغوستي وو، په منډه له کوره راووتل هغوي خبر نه وه چي ريناڵډ او ورسره پوځيانو کمين ورته نيولي دي .

رينالډ پرته له ځنډه خپل پورته شوی لاس ښکته کړ.

هماغه اشاره د برید نښه وه.

په یوه شېبه کې د امریکايي سرتېرو او د ملي اردو د عسکرو له وسلو د مرمیو باران پیل شو. د کوڅې په منځ کې دوړې پورته شوې، د ډزو غږونه د کورونو تر منځ انګازې کولې او هر لوری په باروتو پوښل شوی و.

څو شېبې وروسته ډزې ودرېدې.

سرتېري په احتیاط مخته ورغلل.

دوه کسان د کوڅې په منځ کې پراته وو. د مرمیو ګڼ ټپونه يې پر بدن ښکارېدل او ساه يې ورکړې وه.

خو نور دوه کسان د تنګو کوڅو له لارې وتښتېدل.

عسکرو او سرتېرو په منډه د هغوی تعقیب پیل کړ. د تیښتې او تعقیب پر مهال دواړو خواوو ډزې کولې. د مرمیو غږونه ورو ورو د کلي له لرې کوڅو څخه اورېدل کېدل، تر دې چې ورو ورو چوپتیا خپره شوه.

رینالډ ورو مخته راغی. د وژل شوي کس پر نس یې پښه کېښوده او په بې احساسه څېره یې حمید ته وکتل.

حمید هم ورته کتل، خو په سترګو کې یې د ناخوښۍ نښې څرګندې وې.

رینالډ غوښتل څه ووایي چې ناڅاپه یې د مخابرې غږ پورته شو.

قومندان صاحب...

رينالډ د مخابرې سويچ کېکاږه.

زه رينالډ يم، څه شوي؟

له بلې خوا د ډزو او شور غږونه اورېدل کېدل.

وروسته يو سرتېري وويل

يو کس مو ټپي نيولی دی، خو بل وتښتېد.

رينالډ بې له ځنډه وويل

سمه ده، ټپي کس ژر راولئ.

حميد خپلو عسکرو ته مخ واړاوه او هغه کور ته يې اشاره وکړه چې وسلوال ترې راوتلي وو.

همدا کور په بشپړ ډول ولټئ.

عسکر په احتیاط د کور انګړ ته ننوتل. حمید هم ورپسې داخل شو.

د کور په منځني انګړ کې څو ښځې ولاړې وې. کله چې عسکر ننوتل، ټولې په وارخطایۍ خپلو خونو ته وتښتېدې.

یوه سپین سرې ښځه مخته راغله. د عمر له درانه باره یې ملا کږه شوې وه، خو په سترګو کې یې لا هم جرئت ښکارېده.

هغې په غوسه وویل

خدای مو تباه کړه. ولې د خلکو کورونو ته بې اجازې ننوځئ؟ نه وینئ چې دلته ښځې دي؟

حمید هغې ته په سره څېره وکتل، بیا یې په زور یوې خوا ته ټېله کړه او عسکرو ته یې وویل

ټول کور وپلټئ.

عسکر خونو ته ننوتل. ښځې يې له خونو راوايستلې.

ځينې په ژړا وې، ځينې د وېرې رپېدې او ځينې داسې حيرانې ولاړې وې، لکه لا هم نه پوهېږي چې پر دوی څه تېرېږي.

حميد سترګې پر يوې ځوانې نجلۍ ولګېدې.

هغې خپل ټيکری کلک پر سر راکش کړی و. سترګې يې ځمکې ته نيولې وې او د وېرې له امله يې ټول بدن رپېده.

حميد ورو د هغې مخې ته ودرېد او پوښتنه يې وکړه

تاسو د همدې کور اوسېدونکې ياست؟

سپين سرې ښځې له لرې په نارې وويل

زما پر لونړو لاس مه اچوئ. د خدای لپاره، هغوی بې ګناه دي.

نجلۍ په ټیټ غږ ځواب ورکړ

هو... دا زموږ کور دی.

حمید غوښتل بله پوښتنه وکړي چې ناڅاپه یوې بلې ښځې په ژړا وویل

وروره، د خدای لپاره پر موږ رحم وکړئ. موږ هېڅ ګناه نه ده کړې. ولې مو بې دلیله ځوروئ؟

حمید په غوسه هغې ته وکتل، خو تر هغه مخکې قاسم ورمخکې شو، هغې ښځې ته یې یوه کلکه څپېړه ورکړه او په تریو تندي یې وویل

چوپه شه، بې له پوښتنې خبرې مه کوه.

هغې قاسم ته په داسي نظر وکتل چي قاسم يي
پخپل دې عمل شرمنده کړي .

حميد ببرته نجلۍ ته مخ واړاوه او ويې پوښتل
هغه کسان څوک وو چې لږ مخکې ستاسو له کوره
راووتل؟

نجلۍ څو شېبې چوپه پاتې شوه. په سترګو کې يې
اوښکې راټولې شوې، بيا يې ورو وويل
موږ هغوی نه پېژنو. هغوی هم لکه تاسو، په زور
زموږ کور ته راننوتل. وسلې ورسره وې. لږ
وخت دلته پاتې شول او بيا ټول ووتل.

حميد له انجلي څخه وپوښتل
څو کسان وو؟
هغې په ارام غږ ځواب ورکړ

شاوخوا لس کسان وو.

حمید لږ سوچ وکړ، بیا یې قاسم ته وکتل او ویې ویل

موږ خو یوازې درې یا څلور کسان ولیدل چې له دروازې راووتل. نور یې چېرته لاړل؟

انجلي وویل

نور ټول د کور له شا څخه د دېوال پر سر واوښتل او وتښتېدل. په دی خبره سره انجلۍ د حمید او نورو عسکرو فکر ټول د کور د شا طرف ته کړ ، حال داچي نه هلته کسان تښتیدلي وه او نه هم د کور له شا څخه څوک وتلي وه خو حمید په دې چل پونسو.

حمید بې له ځنډه قاسم ته مخ واړاوه.

قاسمه، ځو عسکر درسره واخله او د هغوی په تعقیب ولاړ شئ. بنایي لا ډېر لرې نه وي تللي.

قاسم په درناوي وویل

سمه ده، قومندان صاحب.

هغه له درېیو عسکرو سره په بیړه د کور له شا ووت او د تښتېدلو کسانو د لټون لپاره روان شو.

حمید ورپسې غږ کړ

قاسمه!

قاسم ودرېد او بېرته یې ورته وکتل.

حمید په جدي لهجه وویل

احتیاط کوئ. دښمن هر ځای کمین نیولی شي. بې احتیاطه ګام مه اخلئ.

قاسم سر وخوځاوه.

سمه ده، قومندان صاحب.

بیا له خپلو ملګرو سره روان شو.

اوس په کور کې یوازې حمید، د کور ښځې پاتې شوي.

حمید څو شیبې چوپ ودرېد. بیا یې ورو له انجلي وپوښتل

ستا نوم څه دی؟

هغې د وېرې او شرم په ګډ احساس، په رپېدلي غږ وویل

زما نوم ذاهده دی او د څنګ انجلۍ چې په څیره باندي ذاهدی ته ورته او یو شان ښکاریدل اشاره وکړل ویل دا زما خور ملیکه ده ، دا هغه انجلۍ وه چې قاسم لږ مخکي په څپېړه وهلي وه.

د ذاهدې نوم د حمید په زړه ښه ولګېد. خو یوازې نوم نه و، د هغې ارامي خبره، ټیټې سترګې، باوقاره چلند او نرمې خبرې هم د حمید پام ځان ته اړولی و. هغه نه پوهېده چې ولې یې ذهن بیا بیا د همدې نجلۍ پر لور ځي.

حمید بیا وپوښتل

او دا نور ...

ذاهدې وویل ، دا یوه زما مور خالده ده هغې بوډۍ ته یي اشاره وکړل چي حمید لومړي پوري وهلي وه ، بیا یې د لاس په یوه ګوته د ښنګ ښځي ته اشاره وکړل ، دا زما ورینداره صوفیه ده ،

هماغه مهال یو امریکایي سرتېرى کور ته راننوت. حمید ته وویل چې رینالډ یې غواړي.

حمید یو ځل بیا ذاهدې ته وکتل، بیا یې سرتېري ته مخ واړاوه.

هغه زړه نه غوښتل چې دومره ژر له دې کوره ووځي. لا یې خپلې پوښتنې بشپړې کړې نه وې، او د ذاهدې په اړه یې هم په زړه کې یو ناپېژندل شوی احساس راټوکېدلی و، داسې احساس چې خپله یې هم لا نوم نه شو ورکولای.

خو د دندې مجبوریت تر هر څه لوی و.

حمید ورو قدمونه واخیستل او له کوره ووت.

کله چې دباندې راورسېد، رینالډ یې ولید چې یو ټېپي کس یې د خو سرتېرو ترمنځ درولی و. هغه په غوسه له ټپي سړي څخه د نورو ملګرو په اړه معلومات غوښتل، خو د پوښتنو طریقه یې ډېره سخته او بې رحمه وه.

حمید ورنږدې شو او ویې ویل

ریناالډه، ما مخکې هم درته ویلي وو چې باید ژر او په خوندي ډول قرارګاه ته ورسیږو. دلته هره شېبه د بل برید امکان شته.

خو ریناالډ د هغه خبرو ته هېڅ پام ونه کړ.

د کلي خلک له لرې خپلو کورونو او دېوالونو ته ولاړ وو. په پټه یې د سرتېرو هر حرکت څاره او په خپلو کې یې ورو ورو خبرې کولې. هېڅوک نه پوهېدل چې راتلونکې شېبه به څه پېښه شي.

امریکایي سرتېرو د کلي ټولې لارې تړلې وې او هېچا ته یې د تګ یا راتګ اجازه نه ورکوله.

ټېپي کس د ډېرې وینې بهېدو له امله بې هوښه شو.

ریناالډ خپلو سرتېرو ته وویل

دا کس او هغه بل سړی چې د کلي په پيل کې مو نيولی و، دواړه يو ځای قرارګاه ته ولېږدئ.

امر يې وکړ او خپله د خپلو سرتېرو په منځ کې روان شو.

د رينالډ دا چلند د حميد لپاره ډېر دردوونکی و. هغه که څه هم پوځي قومندان و، خو نه يې غوښتل چې بې ګناه خلکو ته ستونزې پيدا شي او نه يې د بې رحمۍ ملاتړ کاوه.

خو رينالډ له جګړې پرته بل څه نه پېژندل. د هغه لپاره هر شکمن انسان دښمن و، او د نورو احساساتو ارزښت ورته هېڅ نه درلود.

حميد څو شېبې چوپ ودرېد، بيا بېرته هماغه کور ته ستون شو چې ذاهده پکې وه.

کله چې انګړ ته ننوت، ويې ليدل چې ټولې ښځې په يوه کونج کې سره ناستې دي. په ټيټ غږ يې له يو بل سره خبرې کولې، هغوي خپل په منځ کي

ویل چي قومندان او نور سرتيري په موږ باندي شک ونکړي ځکه چي زموږ مجاهدين له همدې کور څخه ور وتلي وه.

خو د حميد په ليدو سره ټولې چوپې شوې.

حميد په ارام غږ وويل

اجازه ده؟

خو هېچا ځواب ورنه کړ.

حميد په زړه کې ورو وويل

که اجازه وغواړم هم څوک ځواب نه راکوي، او که بې اجازې ننوځم، بيا هم خفه کيږي.

ورو ورو مخته ولاړ.

ټولې بنځې ودرېدې او په خاموشۍ يې ورته کتل.

سپین سرې ښځې، چې له پیل څخه پرې غوسه وه، په تریو تندي وویل

بیا د څه لپاره راغلې؟ لا دې زړه نه دی یخ شوی؟

حمید د هغې خبرې ته څه ونه ویل. سترګې یې په انګړ کې وګرځولې.

د ذاهدې تر څنګ یو وړوکی ماشوم ولاړ و. ماشوم د وېرې له امله د ذاهدې لمن کلکه نیولې وه.

حمید ورو وپوښتل

دا ماشوم څوک دی؟

یوه بلې ښځې ځواب ورکړي.

دا زما زوی دی...

خو حمید په غوسه ورته وکتل او ویې ویل

ما له تا پوښتنه نه ده کړې.

بیا یې خپلې سترګې ذاهدې ته واړولې.

ذاهدې د خپل ټیکري څنډه د مخ مخې ته ونیوله. پوه شوه چې حمید غواړي د هغې ځواب واوري.

هغې ورو وویل

دا زما وراره دی. نوم یې یاسر دی.

حمید په نرمه موسکا د ماشوم مخې ته کېناست. په مینه یې لاس د هغه پر سر تېر کړ او ویې ویل

مه وېرېږه. مور تا ته هېڅ نه وایو.

ماشوم، چې د حمید په غږ کې یې نرمي احساس کړه، لږ زړه ور شو. د ذاهدې له شا راووت، حمید ته یې وکتل او په ماشومانه معصومیت یې وویل

ماما... زما پلار هم ستا په شان توفنچه لري. هره شپه ورسره وي.

د ماشوم له دې خبرې سره سم ذاهدې په نرمۍ د هغه پر اوږه لاس کېښود او خبره یې بله خوا واړوله.

هغې وویل

هو، د ده پلار ورته پلاستیکي توفنچه اخیستی ده، ځکه هماغه درته یادوي. ماشوم نور چوپ سو.

حمید څو شېبې غلی پاتې شو. د ماشوم خبرې یې په ذهن کې تاوېدې. د هغه په زړه کې د شک یو نوی څرک پیدا شو. د ماشوم خبرې ډېرې ساده وې، خو کله ناکله د ماشومانو له خولې هغه حقیقت وځي چې لویان یې په پټولو کې پاتې راشي.

هماغه وخت د حمید د مخابرې زنګ پورته شو.

قاسم و.

هغه وویل

قومندان صاحب، موږ تر ډېره ځایه ولاړو، خو د هغو کسانو هېڅ نښه مو ونه موندله.

حمید ځواب ورکړ

سمه ده، بېرته هماغه کور ته راشئ.

مخابره یې بنده کړه او بیا یې ذاهدې ته وکتل.

ورو ورو هغې ته ورنږدې شو او په جدي غږ یې وویل

ذاهدې، زه باور لرم چې هغه کسان، چې ستاسو له کوره ووتل، پردي نه وو. هغوی ستاسو د کور خلک وو.

تر اوسه مې په لاس کې ثبوت نشته، خو یوه ورځ به دا ثابته کړم چې تاسو له ترهګرو سره اړیکه لرئ.

ذاهدې ناڅاپه سر پورته کړ. په سترګو کې یې د غوسې لمبې بلې شوې.

مور ترهګر نه یو... ترهګر تاسو یاست چې د خلکو کورو ته بې اجازې ننوځي او ښځو سره یې داسې چلند کوي لکه د وحشیانو .

هغې غوښتل نورې خبرې هم وکړي، خو احساساتو پرې برلاسي شول. ساه یې تېزه شوه، خبرې یې نیمګړې پاتې شوې او چوپه شوه.

حمید د حیرانتیا په سترګو هغې ته کتل.

ورو یې وویل

ستا دا خبرې دا ښيي چې ته د هغو کسانو ملاتړ کوې، هماغه کسانو چې پر موږ يې بريد وکړ.

د سپين سرې ښځې حوصله ختمه شوه. او پو سوه که چيري دا قومندان نور هم دلته پاتي سي نو خبره خرابيږي او د ذاهدی له خولي به هر څه ووځي او ټول به ونيول سي . هغه مخته راغله او ذاهدې ته يې وويل

لورې، پرېږده يې. دوی نه پوهيږي چې غيرت څه ته وايي. زموږ په ښځو کې چې څومره غيرت شته، د دوی په ټول نظام کې به يې هم ونه موندې.

د سپين سرې دې خبرو د حميد غرور سخت وپاروه.

هغه په غوسه د هغې پر لور ګامونه واخيستل.

خو ذاهده په بیړه ورمخکې شوه. د حمید لاس یې ونیو او په زاریو یې وویل

زما له مور سره کار مه لرئ.

کله چې د ذاهدې لاس د حمید له لاس سره ولګېد او د هغې نرم، رپېدلی غږ یې واورېد، د هغه غوسه ورو ورو سړه شوه.

حمید ذاهدې ته وکتل.

ذاهدې هم ورو خپل لاس خوشې کړ او یو ګام شاته شوه.

حمید د سپین سرې ښځې پر لور وکتل او په سړه خو جدي لهجه یې وویل

که ته ښځه نه وای، نن به مې درښودلې وای چې غیرت څوک لري او بې غیرتي څوک کوي.

همدا یې وویل، مخ یې واړاوه او له کوره ووت.

څو ساتونکي يې ورپسې روان شول.

سپين سري ذاهدی ته په غوسه وويل ،

ته ليوني سوي يې تا به موږ ټول په مشکل کې اچولي واي ته نه يې خبره چې ورور دی توته څه ويل وه.

ذاهدی په نرمه وويل ،

خبره يم موږې خو ددې قومندان خبري ... بيا چوپه سوه او لويه ساه يې واخيسته د حميد پسې يې کتل چې مليکي خور يې وويل ،

راسه خوني ته دلته مه دريږي.

د کوڅې په سر کې قاسم هم د خپلو عسکرو سره يوځای شو او ټول خپلو پوځي موټرو ته وختل.

د شاوخوا دوه ساعتونو مزل وروسته کاروان قرارګاه ته ورسېد.

د قرارګاه مسؤل، جیف سون، د دوی هرکلي ته راوتلی و. هغه لا مخکې خبر شوی و چې د لارې په اوږدو کې پر کاروان برید شوی، یو شمېر سرتېري وژل شوي او ټپیان هم لري.

جیف سون د وژل شویو سرتېرو د مړینې خواشیني څرګنده کړه، بیا یې حمید ته مخ واړاوه او ویې ویل

قومندانه، د دې کاروان خوندي راوستل ستا مسؤلیت و.

حمید په درناوي ځواب ورکړ

هو، دا زما مسؤلیت و، خو رینالډ زما مشوره ونه منله. لومړی یې خپله لاره بدله کړه، بیا یې پر کلي د محاصرې امر وکړ.

رینالډ په غرور وویل

موږ دوه کسان ژوندي نیولي دي. باید ترې پلټنې وشي.

حمید وویل

د هغوی پلټنه به زه کوم. هم په ژبه ورسره پوهېږم او هم د همدې سیمې خلک یو. زه پوهېږم چې څنګه باید ترې خبرې واخیستل شي.

جیف سون، چې سره اوږده ږیره یې درلوده او په خپل پوځي لباس کې باوقاره ښکارېده، د رینالډ په پرتله ډېر ارام طبیعت درلود.

## هغه وويل

سمه ده، نيم ساعت وخت لرې. راپور به راته راوړې.

حميد او قاسم د قرارګاه هغې خونې ته روان شول چې بنديان پکې ساتل کېدل.

کله چې کوټې ته ننوتل، يو بندي يې وليد. لاسونه يې شاته تړل شوي وو او پر سترګو يې تور ټوکر تړل شوى و. د خونې په يوه کونج کې په ناهيلۍ ناست و.

د دروازې د خلاصېدو غږ يې واورېد او پوه شو چې څوک راغلي دي.

له هماغه ځايه يې په بيړه وويل

وروره، زما سترګې ولې تړلې دي؟ زه چمتو يم هر څه درته ووايم.

حمید قاسم ته اشاره وکړه.

سترګې او لاسونه یې خلاص کړه.

قاسم همداسې وکړل.

کله چې بندي سترګې پرانیستې، لا یې بنه شاوخوا نه وو لیدلي چې حمید بله اشاره وکړه.

قاسم ورمخکې شو او بې له کومې خبرې یې یو کلک سوک پر مخ ورکړ.

سړی پر ځمکه ولوېد.

حمید په ارامه لهجه وویل

اوس راته ووایه، ستا نوم څه دی او په هر څه چې پوهیږې هغه ووایه .

سړي د خپل شونډې وينه پاکه کړه او ويې ويل زما نوم اشرف دي او ،

هغه کسان چې پر تاسو يې بريد کړی و، د جابر کسان وو دې سړي غوښتل چي قومندان حميد ته ځان. پښتني ثابت کړي ، خو ددې خبري تر شا يې ډير نور هدفونه درلودل.

حميد وپوښتل

جابر څوک دی؟

سړي وويل

جابر زمور. د کلي اوسېدونکی و، خو پنځه کاله مخکې له کلي ووت. وروسته يې له مجاهدينو سره يوځای شو.

له پخوا څخه ديندار او د ښو اخلاقو خاوند و، خو د وخت په تېرېدو د مجاهدينو په منځ کې يې لوړ مقام پيدا کړ او د ډېرو کسانو مشر وټاکل شو.

اوس وخت ناوخت د امریکایي ځواکونو پر کاروانونو بریدونه کوي او هغوی ته زیان رسوي.

حمید په غوسه یو بل سوک ورکړ او ویې ویل

زموږ مخې ته د دښمن ستاینه کوې؟

سړي په وېره وویل

زه هر څه وایم چې تاسو یې غواړئ، خو مه مې وهئ.

حمید بله پوښتنه وکړه

جابر او د هغه کسان اوس چېرته وي؟

هغه وویل

دقیق نه پوهېږم، خو دومره خبر یم چې د کلي تر شا په باغونو او شنو سیمو کې کله ناکله راټولېږي او یو له بل سره ګوري.

هماغه شېبه د کوټې دروازه خلاصه شوه.

یو عسکر دننه راغی او ویې ویل

قومندان صاحب، هغه ټېپي کس اوس لږ ښه شوی دی.

حمید تندی تریو کړ.

کوم ټپي؟

عسکر وویل

هماغه چې ریناالډ نیولی و، هغه چې غوښتل له کوره وتښتي.

حمید ته ناڅاپه خبره ور په یاد شوه.
سمه ده، ورځو.

بیا یې بندي له اوږې ونیو او ویې ویل
ته هم راسره راځه.

بندي بې له کوم اعتراضه ورپسې روان شو.
کله چې د قرارګاه روغتون ته ورسېدل، د درملو ځانګړی بوی په فضا کې خپور و. سپین دېوالونه، د روغتیایي وسایلو غږونه او څو نرسان، چې د خپلې نوبت تر پای ته رسېدو انتظار یې کاوه، د روغتون فضا لا خاموشه کړې وه.

عسکر یوې خونې ته اشاره وکړه.
ټول هغې خونې ته ننوتل.

په سپین کټ یو د پوخ عمر سړی پروت و. اوږده ږیره یې په خاورو او دوړو ککړه وه. لاس او د سینې یوه برخه یې په پټیو تړل شوې وه.

هغه یوازې سترګې ورو ورو د راغلو کسانو پر لور واړولې.

هغه بندي، چې له حمید سره راغلی و، ناڅاپه حیران ودرېد ټېپي او راغلي کس یي بل ته په سترګو کي ځیني ځانګړي اشاري وکړي چي یواځي دويورباندي پوهیدل .

حمید د ټپي سړي تر څنګ کېناست او په موسکا یې وویل

څنګه یې، مجاهده؟

ټپي سړي په سختۍ شونډې وخوځولې. د درد له امله يې مخ يوې خوا ته کږ ه شو، خو بيا هم موسکا يې وکړه.

الحمدلله، لا ژوندی يم. تر څو چې ساه لرم، د مقاومت هيله هم لرم او ستاسي رژيم به ختوم.

حميد ورو وخندل او قاسم ته يې وکتل.

قاسم لا له مخکې موسکی ولاړ و.

حميد بيا اشرف ته مخ واړاوه او ويې ويل

دا سړی پېژنې؟

اشرف لا هم حيران ولاړ و. يو ځل به يې ټپي ته وکتل او بل ځل به يې حميد ته.

قاسم په پښه یوه لغته ورکړه او په غوسه یې وویل ځواب ورکړه. موږ هره خبره درې ځله نه تکرارو‌و.

اشرف د ټېپی پخوا وکتل ، هغه په سترګو کي ورته اشاره وکړل چي ریښتیا وایي، خو اشرف هم په تمثیلي برخه کار پیل کړ.

اشرف په وارخطایۍ وویل

هو... دا جابر دی.

جابر ورو خپلې سترګې پټې کړې، بیا یې په زړه کې وویل

پر تا دې د خدای لعنت وي... بې غیرته غداره...

دا جملی یې په حمید او قاسم په دی سبب واوریدي تر څو چي په اشرف باندي شک ونکړي او هغه خوشي کړي او دا هم د جابر او اشرف د پلان یوه برخه وه.

د جابر نوم په اورېدو سره د حمید او قاسم سترګې له حیرانتیا پراخې شوې.

حمید په ناباورۍ وپوښتل

رښتیا وایې؟

سرې سر وخوځاوه.

هو، همدا د ټولو مشر دی.

قاسم په حیرانه موسکا وویل

موږ یې په اسمان کې لټاوه، خو خدای زموږ په لاسونو ځمکې ته راوسپاره.

حمید ببرته د جابر پر لور وکتل.

موږ ستا په اړه ډېر معلومات لرو. ستا ډېر نږدې کسان یا وژل شوي او یا زموږ پر وړاندې تسلیم شوي دي.

د دې خبرو اغېز د جابر په څېره کې ښکاره شو. سترګې یې پر هغه بندی ولګېدې او په غوسه یې وویل

غداره... ته هم د کفارو ملګری شوې؟ که مې مخکې خبر درلودای، نو هماغه وخت به مې په خپل لاس وژلی وې.

بندي سر ټیټ کړ. د شرم، وېرې او پښېمانۍ له امله یې هېڅ ونه ویل.

خو جابر او اشرف پوهیده چې څه یې روان کړي دي

حمید بیا وویل

ته د دوی مشر يې، خو خپله د جګړې له ډګره د تېښتې هڅه کوې. دا دی ستا مقاومت؟

جابر وويل ، هر شاتګ ماتي نه وي ځيني کارونه او پلانونه په شاتګ مخي ته ځي او ته څه پوهيږي چي د چا سره د خداي د دين مينه وي هغه ستاسو په څير غلامانو څخه کله تيښته کوي بلکي هغوی خو بيرته راګرځيدونکي دي او د نوي پلان سره به ستاسی مخي ته دريږي ،

د جابر الفاظ ډير سخت وه او زيات مخالفت يي وکړ دده په جواب کي قاسم او قومندان حميد دواړو خبري پيل کړي خو جابر چوپ پاتې شو.

هغه نور د حميد خبرو ته غوږ نه نيوه. فکر يې يوازې خپلو ملګرو ته تللی و. نه پوهېده چې اوس به د هغوی برخليک څه شوی وي.

ورو يې سترګې پټې کړې.

د سترګو له کونجونو یې بې اختیاره اوښکې راووتې، خو هڅه یې وکړه چې څوک یې ونه ویني.

حمید د هغه حالت ته وکتل او په ارامه یې وویل

اوس یې روغتیایي حالت د نورو پوښتنو لپاره مناسب نه دی. وروسته به بیا پلټنې ورسره کوو.

هغه له خونې ووت.

ورپسې قاسم هم روان شو.

دواړه بلې خونې ته ننوتل، هلته د ملي اردو څو ټپي سرتېري بستر وو. ځینو لاسونه تړلي وو، د ځینو پر سرونو پټۍ وې او ځینې لا هم د درد له امله په سختۍ خبرې کولای شول.

حمید د هر یوه پوښتنه وکړه، ډاډ یې ورکړ او د درملنې په اړه یې له ډاکټرانو معلومات واخیستل.

له هغه ځایه مستقیم د قومندانانو د غونډې خونې ته روان شو.

د خونې دروازه یې ورو وټکوله.

له اجازې وروسته دننه ننوت.

په غونډه کې د امریکایي او افغان ځواکونو لوړپوړي چارواکي ناست وو. د رینالډ او جیف سون تر څنګ څو نور امریکایي جنرالان او د ملي اردو قومندانان هم حاضر وو.

حمید د مېز یوې څوکۍ ته کښېناست.

قاسم د خونې په یوه کونج کې د امنیت لپاره ودرېد.

د هر قومندان مخې ته د اوبو يو بوتل ايښودل شوی و.

حميد يو بوتل راواخيست. لا يې خو غوړپونه نه وو کړي چې رينالډ چوپتيا ماته کړه.
قومندان حميده، پلټنې دې بشپړې کړې؟

حميد بوتل پر مېز کېښود.
خو شېبې چوپ پاتې شو، بيا يې وويل
هو.
هغه ټيپي کس د وسلوالو مرکزي قومندان جابر دی. ډېر مهم کس دی. زه لا هم حيران يم چې څنګه دومره په اسانۍ زموږ لاس ته ولوېد.

رينالډ قلم د ګوتو تر منځ وځرخاوه.

د هغه بل کس په اړه څه؟

حمید ځواب ورکړ

هغه د همدې کلي یو عادي اوسېدونکی دی. له موږ سره يې همکاري وکړه او جابر يې را وپېژاند.

یو بل امریکایي قومندان، ډین بیر ، خبرې پیل کړې.

رینالډ، اوس به څه کوو؟

رینالډ څو شېبې چوپ پاتې شو.

د خونې پر ټولو ناستو يې نظر وګرځاوه، بیا يې وویل

ډېر ساده.

موږ به خپل جاسوسان هماغه کلي ته ولېږو.
هغوی به د کلي له خلکو سره اړیکې جوړې کړي،

تر جومات او نورو مهمو ځایونو پورې به ځان ورسوي او ټول معلومات به راټول کړي.

حمید وویل

اشرف هم دا کار کولای شي.

جیف سون وپوښتل

اشرف څوک دی؟

حمید وویل

اشرف هماغه کس دی چې موږ له کلي نیولی و. هغه له پیل څخه له موږ سره همکاري وکړه او ټول معلومات یې راکړل. زه باور لرم چې هغه زموږ لپاره ښه استخباراتي همکار کېدای شي، ځکه سیمه هم ښه پېژني.

ریناالډ په لنډه لهجه وویل

ستا خبره سمه ده، خو زه خپل جاسوسان لېږم.

حمید په زړه کې سخت غوسه شو، خو د غونډې د نظم لپاره چوپ پاتې شو.

وروسته قومندان ظفر وپوښتل

له نیول شویو کسانو سره به څه کوو؟

رینالډ بې له ځنډه وویل

له هغوی سره باید هماغه چلند وشي چې مستحق يې دي.

په خونه کې چوپتیا خپره شوه.

ټولو قومندانانو یو بل ته وکتل.

رینالډ خپله خبره روښانه کړه.

دواړه بندیان باید اعدام شي.

د دې خبرې په اورېدو د حمید څېره بدله شوه.

هغه سمدستي وویل

نه.

هغه کس چې له موږ سره یې همکاري کړې، ما ورته د ځان، مال او کورنۍ د خوندیتوب ژمنه ورکړې ده. زه هېڅکله هغه مرګ ته نه سپارم.

بیا یې غږ نور هم لوړ شو.

او هغه ټېپي کس جابر دی... هماغه جابر چې موږ پنځه کاله پسې ګرځېدو، د نیولو لپاره مو لسګونه عملیات کړي، خو بریالي نه شو.

اوس چې ژوندی مو نیولی، ته غواړې له پلټنې، محکمې او معلوماتو اخیستو مخکې یې ووژنې؟

رینالډ په سړه لهجه ووېل

ته لا کوچنی قومندان یې.

د دې پرېکړو په مانا نه پوهېږې.

دلته هم قاضي زه يم او هم حکم زه کوم.

د رينالډ دا خبرې د حميد د زغم وروستی حد هم مات کړ.

هغه په غوسه له څوکۍ پورته شو.

څوکۍ يې شاته ټېله کړه، په سوک يې پر مېز ګوزار وکړ او په لوړ غږ يې وويل

ستا امر يوازې پر خپلو امريکايي سرتېرو چلېږي، نه پر موږ افغانانو.

زه به هېڅکله اجازه در نه کړم چې داسې کار وکړې چې زموږ د قانون او حکومت خلاف وي.

له دې خبرې وروسته يې نور د چا ځواب ته انتظار ونه کړ.

په چټکو ګامونو له خونې ووت.

قاسم هم ورپسې روان شو.

حمید مستقیم مېلمستون ته لاړ.

د کړکۍ ترڅنګ ودرېد، یو سګرېټ یې ولګاوه او ژوره ساه یې واخیسته.

ذهن یې له فکرونو ډک و.

هغه پوهېده چې د رینالډ دا پرېکړه به یوازې د دوو بندیانو ژوند نه، بلکې د دواړو ځواکونو ترمنځ باور هم له منځه یوسي. بیایي په ذهن کې د جابر خبري راغلي چي ویل تاسي غلامان یاست او د خپل کور د تللو اجازه هم د امریکایي قوماندانانو څخه اخلي ، ددې خبري حقیقت یي په اوسنۍ شیبه کي تجربه کړ ،

هماغه وخت قاسم خونې ته ننوت.

د حمید تر څنګ ودرېد او ویې ویل

قومندان صاحب، ما خو مخکې هم درته ویلي وو.

رینالډ غواړي موږ د خپلو امرونو تابع او غلامان کړي، نه همکاران.

حمید د غوسې له امله سګريټ پر ځمکه وغورځاوه، بیا یې قاسم ته مخ واړاوه او په سترګو غږ یې وویل:

قاسمه! ما یوازې پرېږده، اوس نه غواړم له چا سره خبرې وکړم.

قاسم د حمید حالت درک کړ. پرته له دې چې څه ووایي، ورو ورو ترې لرې شو.

حمید څو شېبې هماغسې غلی ودرېد. بیا یې هماغه غورځول شوی سګريټ له ځمکې پورته کړ، خاورې یې ترې وڅنډلې او بېرته یې خولې ته ونیو.

ناڅاپه د ذاهدې څېره یې ذهن ته راغله. د هغې مړې سترګې، رپېدلی وجود او خاموش غږ یې لا هم د ذهن په کونجونو کې انګازې کولې.

هغه هڅه وکړه خپل فکر بېرته د نن ورځې پېښې ته واړوي او د ذاهدې خیال له ذهنه وباسي، خو

ونه توانېد. هر ځل چې يې ذهن بلې خوا ته اړاوه، د ذاهدې تصوير بېرته مخې ته درېده.

وروسته د هغه کوچني ماشوم خبرې هم ور په ياد شوې:

زما پلاړ هم توفنچه لري ،

دې جملې يې فکر نور هم دروند کړ.

حميد په چټکو ګامونو د قرارګاه د روغتون پر لور روان شو. د جابر خونې ته ننوت.

جابر ويښ و. په يوه لاس کې يې کينولا لګېدلې وه او سروم ورته روان و.

حميد ورو وويل:

وينم چې حالت دې لږ ښه شوی دی.

جابر يوازې په کرکه ورته وکتل، خو هېڅ يې ونه ويل.

حميد غوښتل اصلي خبرې ته ورسېږي. لږ وړاندې ولاړ او ويې ويل:

زه پوهېږم چې ذاهده او ملیکه ستا له خپلوانو څخه دي.

د جابر په سترګو کې غوسه لا پسې زیاته شوه. هغه پوه شو چې حمید د ده په اړه ډېر معلومات لري، ان د کورنۍ د غړو نومونه هم ورته معلوم دي.

په سخت غوسه یې وویل:

زما د خویندو نومونه په خپلې مردارې خولې مه اخله، رذیله!

حمید په ارامۍ وویل:

هممم... نو دا ستا خویندې دي؟

جابر غلی پاتې شو.

حمید غوښتل خبرې ته دوام ورکړي.

ما یوازې غوښتل چې...

خو جابر یې خبره پرې کړه.

زما سره به څه کېږي؟

حمید ژوره ساه واخیسته.

رښتیا ووایم، نه پوهېږم. خو رینالډ نن وویل چې باید ووژل شي.

د دې خبرې په اورېدو جابر موسکی شو.

حمید په حیرانتیا وویل:

ته خاندي؟

جابر په ډاډه غږ وویل:

ته پوهېږې؟ پنځه کاله کېږي چې د شهادت په لټه کې ګرځم. که د یو کافر په لاس ووژل شم، دا زما لپاره د شرم خبره نه، بلکې ویاړ دی. خو ته فکر وکړه... ستا انجام به څه وي؟ ته په خپلو لاسونو مسلمانان وژنې او یا یې کفارو ته سپارې.

د جابر خبرې د حمید پر زړه د درنو تیږو په څېر ولګېدې.

هغه هېڅ ځواب ونه شو ویل.

همدا چوپتیا د ده لپاره تر هر ځواب سخته وه.

په غوسه له خونې راووت او دروازه يې تر شا په زور وتړله.

په هماغه وخت کې حميد د اشرف کوټي ته ورغلي ورته يي وويل ،

اشرفه ، ته به زمونږ لپاره جاسوسي کوي او د جابر دوي ټول معلومات به په دوه ورځي تر مونږ پوري رسوي کني نو...

اشرف د حميد خبره پري کړل ويل ،

قومندان صاحب ، ته يواځي امر وکړه نو ټول کار زه کوم ،

حميد هم اشرف خوشي کړ او هغه لاړ .

د شپې تيارو ورو ورو ښار په خپله غېږه کې رانغاړه. د ښار څراغونه بل شول او د خلکو عادي تګ راتګ بېرته پيل شو.

خو په هغه کلي کې د ورځې د خونړۍ پېښې خبرې د هر مجلس موضوع وې.

بل لور ته د جابر ملګري په یوې زړې ختټینې کوټې کې راټول وو. د ټولو پر څېرو د غم سیوری خپور و، ځکه پوهېدل چې جابر نیول شوی او درې ملګري یې هم وژل شوي دي.

یو تن په غوسه وویل:

نن شپه باید جابر د هغوی له منګولو وباسو.

بل وویل:

زه هر ډول قربانۍ ته تیار یم، خو نه پوهیږم څنګه.

په دې وخت کې اشرف خوني ته ننوت ،

ټول ور وکتل ، اشرف وویل ، زه غواړم جابر وژغورم نو باید زما له عملیاتو څخه څوک خبر نسي بي له دغه ناستو کسانو څخه.

يو تن وويل ، ته يې ښځه خوشې کړې ،

اشرف ددوي په منځ کې کيناست بيايې ټوله کيسه په تفصيل سره وکړل چې ښځه يې ټول قومندانان خطا کړل او ځان يې خوشې کړ.

هماغه مهال د جابر نږدې ملګري، نصير احمد، خبرې پيل کړې.

موږ به په قرارګاه منظم بريد وکړو. زه پلان لرم او پوهيږم چې دا کار ښځه ترسره شي...

ټولو د نصير خبره تاييد کړه خو اشرف وويل ، هلته بريد اسانه نه دي مګر زه هلته بلد يم او د جابر د ساتنې ځاي هم راته معلوم دي.

د جابر خوشې کيدل

بل لور ته حمید په خپله کوټه کې یوازې ناست و. په موبایل کې یې د شفیق مرید یوه سندره غږېده، خو ذهن یې لا هم له ګډوډو فکرونو ډک و.

څه شېبه وروسته یې په تصور کې د ذاهدې څېره د خونې پر دېوال رسم کړه. هماغسې یې دېوال ته کتل او داسې یې احساس کاوه، لکه ذاهده چې رښتیا هم د ده مخې ته ناسته وي. زړه یې بې اختیاره درزا وکړه.

له ځان سره یې وویل:

که نن شپه ورشم او یو ځل یېووینم؟

دا فکر یې په ذهن کې نور هم پیاوړی کېده، تر دې چې پرېکړه یې وکړه.

له ځایه پورته شو، پوځي یونیفورم یې وځړاوه او عادي کالي یې واغوستل. پرته له دې چې څوک خبر کړي، په پټه له قرارګاه ووت او د کلي پر لور روان شو.

لا په لاره کې و چې د قاسم زنګ راغی.

قومندان صاحب! رینالډ تاسو لټوي. زه مو کوټې ته راغلم، خو هلته نه وئ. ساتونکي وویل چې له قرارګاه وتلي یاست.

حمید په ناخوښۍ وویل:

دا رذیل رینالډ اوس د شپې څه کار راسره لري؟

قاسم ځواب ورکړ:

نه پوهېږم، خو ډېر اندېښمن ښکاري.

حمید لږ چوپ شو، بیا یې وویل:

سمه ده، لږ وروسته راځم. اوس د خپلوانو لیدو ته روان یم. ته یوازې رینالډ ته ووایه چې ژر به ستون شم.

قاسم بیا هم په اندېښنه وویل:

قومندان صاحب، یوازې مه ګرځئ. دا خطرناکه ده.

حمید په لنډه توګه وویل:

اندېښنه مه کوه، ژر راګرځم.

ټیلیفون پای ته ورسېد.

شپه تیاره وه. د موټرسایکل څراغ یوازې د سړک یوه لنډه برخه روښانه کوله، او له هغې هاخوا هر څه د شپې په تیارو کې ورک وو. یخ باد د حمید ویښتان شاته اړول او هغه په چوپتیا خپل سفر ته دوام ورکاوه.

څه موده وروسته یې دوه موټر ولیدل چې د مقابل لوري څخه راتلل. دواړه لوري له یو بل څخه تېر شول او هر یو خپلې لارې ته دوام ورکړ ، حمید پوهسو چي دا دوه موټرونه به د قرارګاه سره څه کوي .

په دی دوه موټرونو کي د اشرف او نصير د پلان سره سم ټول مجاهدين د قرارګاه په خوا د بريد کولو لپاره روان وه.

حمید کلي ته ورسېد او د ذاهدې د کور دروازې ته ودرېد. لړ په زړه نا زړه یې دروازه وټکوله.

ځواب رانغی.

دوهم ځل یې ټک ټک وکړ.

له دننه د ماشوم غږ راغی:

څوک یې؟

حمید سمدستي وپېژاند چې دا یاسر دی.

یاسره، دروازه خلاصه کړه.

ماشوم چې خپل نوم واورېد، ګومان یې وکړ چې د کور کوم آشنا کس دی، نو دروازه یې خلاصه کړه.

خو چې حمید یې ولید، وارخطا شو او په منډه دننه ولاړ.

حمید ورو د کور انګړ ته ننوت. د دوو ختینو خونو څخه د څراغ کمزورې رڼا خپرېدله.

هماغه مهال د ذاهدې مور بوډۍ، په لاس کې د ځراغ سره، راووتله. رڼا یې د حمید پر مخ واچوله، بیا ورو ورو ورنږدې شوه.

په سړې لهجې یې وویل:

ته بیا څه غواړې؟

حمید غلی ولاړ و.

په همدې وخت کې ملیکه له خونې راووتله. سترګې یې چې پر حمید ولګېدې، بې له کومې خبرې بېرته خونې ته ننوته.

حمید ددې لپاره چې ځان د ټولو سره مخامخ کړي او ذاهده هم ووینې نو بهانه یې وکړل

حمید وویل باید ټول د کورنۍ غړي راټول کړي زه مهمه خبره ورته لرم ،

د حمید مقصد ددې خبرو څخه داو چي ذاهده وويڼئ .

بوډې بیا وویل:

که څه خبره لرې، همدلته یې راته وکړه.

حمید په درناوي ځواب ورکړ:

زه د جابر په اړه مهمې خبرې لرم. ښه به وي چې د کور ټول غړي راوغواړئ.

د جابر نوم چې واورېد، د بوډۍ رنګ واوښت.

ورو یې وپوښتل:

جابر؟ څوک دي؟

حمید وویل:

زه پوهیږم چي جابر ستاسی زوي دي  هغه اوس زموږ په قرارګاه کې تر درملنې لاندې دی. غوښتل مې تاسو خبر کړم.

بوډۍ بې له دې چې څه ووايي، ورو ورو د خونې پر لور روانه شوه، او حمید په تیاره انګړ کې یوازې پاتې شو.

ناڅاپه له لرې د یوې درنې چاودنې غږ پورته شو، داسې لکه غر چې ولړزیږي. حمید سمدستي شااوخوا وکتل، خو د غږ سرچینه یې ونه لیدله. یوازې یې انګازې تر غوږونو رسېدې.

څو شېبې وروسته یاسر راغی او په ارامه یې وویل:

راځه.

حمید د هغه په تعقیب خونې ته ننوت.

په خونه کې درې ښځې، یو ماشوم او یوه سپینسرې ښځه ناست وو. حمید ورو سترګې پرې وګرځولې. لومړی یې ملیکه ولیده چې د ذاهدې ګومان یې پرې وکړ، ځکه د هغې او ذاهدې څېرې ډېرې سره ورته وې. بیا یې سترګې پر ذاهده

ولګېدي. هغه د بوډۍ ترخنګ په ډېر ادب او حیا ناسته وه، سر یې ټیټ و او هېڅ خبرې یې نه کولې مخ ته یې پړوني ټیکري نیولي وو.

حمید سلام واچاوه، خو هېچا ځواب ورنه کړ.

هغه که څه هم د ټولو مخې ته ولاړ و، خو سترګې یې یوازې پر ذاهده راڅرخېدې. بوډۍ ته داسې ښکارېده چې ګواکې حمید هغې ته ګوري ځکه بوډي او ذاهده څنګ په څنګ ناستي وي.

حمید ورو وویل:

ستاسو په کور کې یو کس، جابر، شته. ښایي تاسو ته معلومه وي چې هغه له وسلهوالو سره تړاو لري. نن غرمه ټپي شوی او اوس تر درملنې لاندې دی.

د ده د خبرو په اورېدو هېڅوک حیران نه شول.
ټول په خاموشۍ ورته کتل.

دغه چوپتیا د حمید ذهن نور هم ګډوډ کړ. ستونی
یې تازه کړ او بیا یې وویل:

تاسو خو هېڅ حیران نه شوئ؟

ذاهدې په ارام غږ ځواب ورکړ:

مور له دې مخکې خبر شوي وو چي زمونږ مجاهد
ورور ستاسي له طرفه نیول سوي دي .

حمید په حیرانتیا وپوښتل:

څنګه؟

ذاهدې په ډاډه لهجه وویل:

لږ مخکې مونږ ته خبر راورسېد.

او زمونږ مجاهدینو اوس مهال ستاسی په قرارګاه باندي حمله وکړل او انشاالله چي جابر ورور به مي بيرته تر کوره راولي.

حمید د باور په حالت کې نه و. لږ موسکی شو او ویې ویل:

ګومان کوم له ما سره ټوکې کوئ.

ملیکې وویل:

نه، مورږ ټوکې نه کوو.

په همدې وخت کې بوډۍ په غمجنه لهجه وویل:

مورږ د کورنۍ غړي مو له لاسه ورکړل. د دې درد هېرول اسان نه دي، کوم کسان چي تاسو ووژل د هغوي شهادت نصيب سو مګر نن به ستاسی او امریکایي اشغالګرو جسدونه تر حساب ووځي.

په خونه کې درنه چوپتیا خپره شوه.

حمید غوښتل څه ووایي، خو ذاهدې ترې مخکې وویل:

هر څوک د خپلو باورونو او خپلو پرېکړو پایله ویني. دا خاورې ډېر دردونه لیدلي دي په موږ کې د هغه مجاهدینو وینه ده چې د اسلام او خاورې لپاره د نارینه غوندې وجنګیږي، موږ که په ظاهره ښځې یو خو که اړتیا سوه د لسو نارینوو سره جنګیږو.

حمید په حیرانتیا ورته کتل بیایي وویل :

ما توته ویلي وه چې تاسې د وسلوالو سره لاس یې خو هغه وخت ثبوت نه و مګر نن دادې تاسو خپله اقرار وکړ.

تاسې موږ وژنې او بیا وایاست چې جهاد کوو

ذاهدی په احساساتي اواز وويل
که چيري تاسو د کفارو او امريکايي اشغالګرو حفاظت نه کوه نو موږ به ولي ستاسي په کاروانونو باندې حمله کول.

د دوی تر منځ خبرې اوږدې شوې، خو د حميد هغه هيله چې د ذاهدې له ليدلو سره به يې زړه ارام شي، برعکس لا نوره ماته شوه. ذاهده يې مخې ته ناسته وه، خو د هغې له خبرې نه خواخوږي ښکاره کېده او نه هم کوم بل احساس هغی يواځي د اسلام د ملاتړ او دين خبري کولي.

حميد د زړه د ډاډ لپاره خپل موبايل راوويست او قاسم ته يې زنګ وواهه.
زنګ پای ته ورسېد، خو چا ځواب ورنه کړ.

دوهم ځل يې هم زنګ وواهه، خو بيا هم بېځوابه پاتې شو.

اندېښنه يې نوره هم زياته شوه. په ناخوښۍ يې موبايل پر ځمکه وغورځاوه او په ټيټ غږ يې وويل:

لعنت...

په بيړه له خونې ووت. غوښتل يې ژر ترژره قرارګاه ته ستون شي، خو د کوڅې له لورې د موټرو د راتګ او د خلکو د شور غږونه يې پام ځانته واړاوه.

دروازه يې لږه خلاصه کړه او بهر يې وکتل.

هماغه موټرونه وو چې لږ مخکې يې په لاره کې ليدلي وو.

د حميد سترګې له حيرانتيا پراخې شوې.

څو کسان له موټرو ښکته شول د وسلو سره د کور پر لور راغلل.

حمید په چټکۍ سره شاته شو. ذهن یې ببلابېل فکرونه کول. غوښتل ځان پټ کړي، خو وخت ډېر کم و.

بېرته د خونې پر لور روان شو، خو چې ورسېد، د کور ټول غړي لا له وړاندې په انګړ کې ولاړ وو.

هماغه شېبه د کور دروازه خلاصه شوه او راغلي کسان هم دننه شول.

د هغوی پام سمدستي حمید ته واوښت ټولو ټوپکونه او نورې وسلې په حمید باندې ونیولې ،

حمید، چې پوه شو د تېښتې لار نه لري، ورو ورو خپل لاسونه پورته کړل او هماغسې ولاړ پاتې شو.

یو تن په لوړ غږ وپوښتل:

دا څوک دی؟ دلته څه کوي؟

حمید غلی و. نه پوهېده څه ووایي.

په همدې وخت کې د بوډۍ غږ پورته شو:

زما زوی مو راوستی؟

یوه سړي د نورو له منځه څو ګامه مخکې کړل.

حمید چې ورته وکتل، له حیرانتیا یې ساه بنده شوه.

هغه جابر و.

جابر، سره له دې چې لا هم د ټپونو نښې پرې ښکارېدې، د حمید مخې ته ودرېد. لږه شېبه یې ورته وکتل، بیا یې خپلو ملګرو ته په ارام غږ وویل:

وسلې ښکته کړئ... نن یو ناڅاپي مېلمه زموږ مخې ته ولاړ دی.

حمید د جابر په لیدو سره ورو خپل لاسونه ښکته کړل او بې له کومې خبرې هماغسې ولاړ پاتې شو.

جابر په موسکا وویل:

څنګه قومندانه، لاسونه دې موږ وتړو که خپله یې را وړاندې کوې؟

حمید په حیرانۍ وپوښتل:

ته څنګه له قرارګاه څخه راووتي؟

جابر وخندل، بیا یې په ټیټ غږ وویل:

زموږ ملګری د الله نصرت دی.

حمید د جابر سترګو ته وکتل. نن یې د پرونۍ کرکې پر ځای یو ډول ډاډ او باور پکې لیده.

ورو یې خپل دواړه لاسونه مخ ته ونیول ترڅو وتړل شي.

جابر وويل.

همداسې ښه ده، هوښيار يې.

بيا يې د خپلو کسانو له يوه څخه يو پټو واخيست، د حميد لاسونه يې وتړل او پر سترګو يې هم ټوکر ور واچاوه. وروسته يې خپلو ملګرو ته وويل:

دا زموږ د استوګنې ځای ته يوسئ. تر سبا پورې يې وساتئ، زه به هم سهار درشم.

دوه کسانو حميد له دواړو اوږو ونيو. يو بل کس په بېړه هغه په لغته وواهه او په تنده لهجه يې وويل:

مخکې شه!

جابر چې دا صحنه وليده، په لوړ غږ يې وويل:

خلکو!

ټول ودرېدل او بېرته ورته وګرځېدل.

جابر په جدي غږ وويل:

دې سړي ته هېڅ ډول تکليف مه رسوئ. يوازې يې وساتئ.

هغوی وویل:

سمه ده.

وروسته یې حمید له ځان سره بوت.

د حمید له تلو وروسته د جابر د کور ټول غړي د هغه شاوخوا راټول شول.

یاسر په معصومه لهجه وویل:

بابا! تا ولې ماما ونیو؟ هغه خو ښه سړی دی.

جابر وخندل، د یاسر پر مخ یې لاس راښکود او ویې ویل:

زه دې له همدې پاکو خبرو قربان شم. زه پوهېږم چې ستا ماما بد سړی نه دی، که داسې وای، نن به زه دلته ستاسو تر منځ ولاړ نه وم.

د کور فضا لږه ارامه شوه.

ذاهده ورو خپل ورور په غېږ کې ونیو. سترګې یې له اوښکو ډکې وې.

په لړزېدلي غږ یې وویل:

د الله شکر چې بېرته راغلې. موږ ډېر بد فکرونه کول.

جابر په مهربانۍ وویل:

اوس خو راغلم. نور دې په سترګو کې اوښکې نه غواړم، که نه...

جمله یې نیمګړې پرېښوده او خپلې بلې خور، ملیکې، ته یې اشاره وکړه.

ملیکه هم ورنږدې شوه او خپل ورور یې په مینه غېږ کې ونیو.

هغه شپه د کور په انګړ کې د خوښۍ او سکون شپه وه.

خو د قرارګاه حالت بیا بالکل بل ډول و.

د شپې چوپتیا د چاودنو له لوګي او ګډوډۍ سره ماته شوې وه. هر لور ته منډې وې. ټپیان روغتیايي مرکز ته لېږدول کېدل، ساتونکو خپلې ګزمې کولې او قومندانان د رامنځته شوي وضعیت ارزونه کوله.

رینالډ په ښکاره غوسه کې و. قاسم ته یې مخ واړاوه او ویې ویل:

ستا قومندان چېرته دی؟

قاسم خپله وارخطايي پټه ساتله. نه پوهېده څه ځواب ورکړي.

هماغه وخت جیف سون هم راغی. هغه که څه هم عموماً ارام طبیعت درلود، خو د نن شپې پېښو سخت اندېښمن کړی و.

هغه رینالډ ته وویل:

ته لا هم دلته ولاړ یې؟ اوس د حساب ورکولو وخت نه، د وضعیت د سمبالولو وخت دی.

رینالډ د هغه خبره نیمایي واورېده. ټول فکر یې یوازې پر حمید راټول و.

هغه جیف سون ته وویل:

تر برید مخکې حمید دلته و، خو اوس ورک دی. هېڅوک نه پوهېږي چېرته تللی.

قاسم غوښتل شکونه بل لور ته واړوي.

ورو یې وویل:

ماښام مې ولید چې خپلې کوټې ته ولاړ، خو وروسته چې ورغلم، یوازې یې جامې هلته پاتې وې. امکان لري وسله والو له ځان سره بیولی وي.

د قاسم خبره لا نه وه ختمه چې یو امریکایي سرتېری په بېړه راغی، سلام یې وکړ او ویې ویل:

ښاغلی ریناله! هغه بندي چې جابر نومېده، نور په توقیف کې نشته. موږ یې هېڅ ځرک ونه مومی.

د دې خبر په اورېدو د ریناله رنګ واوښت. څو شېبې چوپ پاتې شو، بیا یې په قهر پوځي په سوک ووهه او هغه په ځمکه ولوید ده په لوړ غږ یې وویل:

دا څنګه ممکنه ده؟

سرتېري ولاړ سو او خاوري یې له لباس څخه وڅنډلي په ټیټ غږ یې وویل:

تر اوسه نه پوهېږو، پلټنه روانه ده.

ریناله په تنده لهجه امر وکړ:

ټوله قرارګاه وپلټئ. هر ځای وګورئ. زه د هغه په اړه بشپړ راپور غواړم کني ژوند به مو ډېر درته بي خونده کړم.

سرتېري سمدستي ولاړ.

ريناليډ قاسم ته وکتل او ويې ويل:

ستا خبره هم کېدای شي سمه وي. که بندي تښتېدلی وي، امکان لري حميد هم د همدې پېښې پر مهال نادرکه شوی وي.

جيف سون ورو وويل:

ريناليډ، راځه. بايد سمدستي د افسرانو غونډه پيل کړو.

دواړه د غونډې خونې ته ننوتل.

قاسم يوازې پاتې شو.

هغه بيا د حميد شمېره ووهله، خو هر ځل هماغه چوپتيا وه.

نه پوهېده چې قومندان يې ژوندی دی، بندي شوی که بل څه ورپېښ شوي دي.

همدې اندېښنې په هغه شپه په قرارګاه کې هېچا ته خوب نه ورکاوه.

## کله چې قومندان خوشي سو

د سهار لمر ټوله سيمه داسې روښانه کړې وه، لکه هېڅکله چې پرې شپه نه وي تېره شوې.

په قرارګاه کې حالت تر ډېره بېرته عادي شوی و، خو د غونډې په خونه کې د افسرانو پر څېرو اندېښنه لا هم ښکاره وه. ټول لوړپوړي افسران راټول شوي وو. رينالډ او جيف سون دواړه سخت خواشيني ښکارېدل.

جيف سون په دې فکر کې ډوب و چې څنګه په دومره لويه او کلکه قرارګاه دومره ستر بريد وشو او دومره درانه مالي او ځاني زيانونه يې واړول.

خو رينالډ دې پېښې ته له بلې زاويې کتل.

هغه جيف سون ته مخ واړاوه او ويې ويل:

ښاغلی سون! زه باور لرم چې په دې بريد کې حتماً زموږ د خپل منځ د يوه کس لاس دی. څوک شته چې دښمن ته معلومات رسوي.

جيف سون په حيرانتيا وپوښتل:

دا به څوک وي؟ او ته څنګه دومره ډاډه يې چې زموږ له منځه څوک جاسوسي کوي؟

رينالډ خپلې شونډې سره ټينګې کړې او ويې ويل:

له پرون ماښام راهيسې قومندان حميد ورک دی. زموږ د استخباراتو کسانو پلټنه کړې ده. معلومه شوې چې هغه له قرارګاه څخه تر وتلو وروسته نه خپل کور ته تللی او نه د کوم خپلوان کور ته. دا پخپله لوی شک دی.

بله خبره دا چې کله مې د جابر د وژلو امر ورکړ، حمید په غونډه کې ښکاره مخالفت وکړ. تاسو ټولو د هغه عکس العمل ولید. که هغه د جابر ملاتړ نه وای، هیڅکله به یې داسې دریځ نه نیوه.

ډین بیړ هم خبرې وکړې:

که فرض کړو چې حمید له دښمن سره اړیکه لري، نو یقیناً دلته به نور کسان هم ورسره وي. یو انسان په یوازې ځان دومره لوی خطر نه شي اخیستلای.

قومندان ظفر سمدستي د ده خبره رد کړه.

زه دا خبره نه منم. که حمید د دښمن سړی وای، نو له دې مخکې به یې هم په عملیاتو کې خیانت کړی وای. هغه کلونه زموږ سره عملیات کړي، تل یې خپله دنده په ښه ډول ترسره کړې ده.
یوازې د یوې پېښې له امله پرې داسې تور لګول انصاف نه دی.

بحثونه ډېر اوږده شول، خو هېڅ يوې پايلې ته ونه رسېدل. غونډه بې له کومې پرېکړې پای ته ورسېده.

بل لور ته حميد په يوې ختيځې کوټې کې، لاس تړلی، ناست و.

په ذهن کې يې سلګونه پوښتنې تاوېدې. تر ټولو ډېر په دې حيران و چې د جابر کسانو څنګه وکولای شول له دومره خوندي قرارګاه څخه خپل مشر راوباسي.

د کوټې پرده پورته شوه.

جابر له څو مجاهدينو سره دننه راغی.

هغه خپلو کسانو ته وويل:

د ده د سترګو ټوکر لرې کړئ.

کله چې د حمید له سترګو ټوکر لرې شو، د لمر رڼا پرې ولګېده. هغه لږ شېبه سترګې نیمې پټې وساتلې، بیا یې ورو ورو جابر ته وکتل.

وه یې ویل:

جابره... اوس غواړم هماغه جمله تا ته تکرار کړم چې تا راته په قرارګاه کې ویلې وه. هغه وخت دې پوښتنه وکړه چې زما سره به څه کیږي. اوس زه هم هماغه پوښتنه کوم... زما سره به څه کیږي؟

جابر د حمید تر څنګ کېناست، په زنګون یې ورو وټکاوه او ویې ویل:

قومندانه! موږ تا د وژلو لپاره نه کاروو. تا د یو بل مهم هدف لپاره ژوندی ساتو.

حمید په حیرانتیا وپوښتل:

کوم هدف؟

جابر وویل:

تر هر څه مخکې، دا راته ووايه چې زموږ کور ته ولې راغلی وې؟ ته پوهېدې چې هغه زما کور دی او هره شپه هر څه پېښېدای شول.

حميد لږه شېبه چوپ پاتې شو، بيا يې وويل:

زه ستاسې کور ته د دې لپاره راغلی وم چې ستاسې کورنۍ ته د زړه ډاډ ورکړم.

جابر ترخه موسکا وکړه.

رښتيا؟ نو ته دومره زړه سواندی يې؟ خپلو بادارانو ته همدومره وفادار يې او زموږ پر کورنۍ هم رحم درځي؟

حميد هېڅ ونه ويل.

هماغه وخت اشرف کوټې ته ننوت.

ټولو ورته وکتل.

اشرف خپله پګړۍ په ځمکه کېښوده او جابر ته يې وويل:

د امریکایي ځواکونو یوه ډله، د ملي اردو د ساتونکو په ملتیا، تر غرمې پورې د قرارګاه پر لور را روانه ده. که ورسیږي، ښایي د هغوی وضعیت ډېر پیاوړی کړي.

جابر بې له ځنډه وویل:

که د خدای رضا وي، دا ډله به هم د هغو نورو په شان له منځه ولاړه شي.

بیا یې حمید ته وکتل او ویې ویل:

قومندانه! تا واورېدل چې اشرف څه وویل؟

ستا سرتېري د امریکایي ځواکونو ساتنه کوي. هماغه ځواکونه چې د افغانانو پر کورونو چاپې وهي، بې ګناه خلک نیسي او کورنۍ یې ځوروي او د پیغلو عزتونه لوټي خو بیا هم تاسې د هغوی ملاتړ کوئ.

حمید سر ټیټ کړی و. د جابر خبرې یې په چوپتیا اورېدې.

جابر اشرف ته مخ واړاوه.

اشرفه! مجاهدينو ته ووايه چې ټول چمتو شي. تر غرمې مخکې به دا کار پای ته رسوو.

اشرف سر وخوځاوه او له کوټې ووت.

حميد ورو وويل:

اشرف مخکې موږ ته دوکه راکړې ده. امکان شته چې تاسې ته هم دوکه درکړي. زه وايم، په ده ډېر باور مه کوئ.

جابر يوازې موسکا وکړه، هېڅ يې ونه ويل او د وتلو لپاره ودرېد.

حميد ورپسې غږ کړ:

جابره!

جابر بېرته ودرېد.

څه دي؟

حميد په ارامه لهجه وويل:

زه د مرګ د انتظار توان نه لرم. که مې وژل غواړې، ژر مې ووژنه، او که مې خوشې کوې،

خوشې مې کړه. بیا به که قسمت وي، په بل میدان کې به سره مخ شو.

جابر څو شېبې د حمید سترګو ته وکتل، بیا یې په مانادراه موسکا وویل:

صبر وکړه، ځوانه! زه به ستا لپاره داسې پرېکړه وکړم چې ته یې هېڅ تصور هم نه شې کولای.

هغه دا خبره وکړه او له کوټې ووت.

حمید یو ځل بیا یوازې په هماغه ختېنه کوټه کې پاتې شو، خو دا ځل د هغه په ذهن کې د جابر وروستۍ جمله بیا بیا انګازې کولې.

د غرمې وخت و.

هماغه سړک چې څو ورځې مخکې د حمید کاروان ترې تېر شوی و، نن بیا د جابر او د هغه د ملګرو تر څار لاندې و. هغوی د همدې لپاره کمین نیولی و چې د قرارګاه مرستندویه کاروان ونیسي.

خو دا ځل هر څه د دوی د اټکل خلاف روان وو. کاروان تر مازیګره ونه رسېد.

د انتظار اوږدو ساعتونو د مجاهدینو حوصله ختمه کړې وه. ځینو ویل چې بنایي استخباراتي معلومات ناسم وي، او ځینو ګومان کاوه چې د کاروان مسیر بدل شوی دی.

جابر لږ فکر وکړ، بیا یې وویل:

نن نور دلته پاتې کېدل ګټه نه لري. راځئ، کلي ته ستانه شو. که کاروان هم راشي، تر دې وخته به له بلې لارې تېر شوی وي.

ټول بېرته کلي ته ستانه شول.

خو حقیقت بل ډول و.

د کاروان مشري یوې ځوانې امریکایۍ افسرې، لوزینا، کوله.

که څه هم عمر یې له شلو کلونو ډېر نه و، خو د جګړې په تاکتیکونو کې یې د ډېرو تجربه لرونکو قوماندانانو په شان مهارت درلود. هغه هېڅ پرېکړه له ارزونې پرته نه کوله.

د حرکت له پیل مخکې هغې د سیمې ټول معلومات څو ځله مطالعه کړي وو. راپورونو ښودله چې همدې لارې ته نږدې دوه ځله پر پوځي کاروانونو بریدونه شوي وو.

همدې معلوماتو هغې ته شک پیدا کړی و.

هغې د حرکت وخت بدل کړ، د لارې امنیتي تدابیر یې زیات کړل او خپلو ټولو موټرو ته یې د بېړنې حرکت امر ورکړ.

ماښام د اذان غږونه په ښار او شاوخوا کلیو کې خپاره شوي وو.

په همدې وخت کې لسګونه زغره‌وال ټانکونه او پوځي موټرونه په لوړ سرعت د قرارګاه پر لور روان وو.

لوزینا د لومړي ټانک دننه ناسته وه.

ورسره لارا، سومیا او یو شمېر نور افسران هم موجود وو.

هغې غوښتل د قطار مخامخ وضعیت خپله وڅاري، ځکه باور یې درلود چې قوماندان باید د خپلو سرتېرو تر شا نه، بلکې د هغوی په مخکې حرکت وکړي.

لوزینا مخابره پورته کړه او په ډاډمن غږ یې وویل:

د ټولو موټرو پام دې وي. سرعت به کم نه کړئ. که هر ډول خنډ یا مشکوک شی مو مخې ته

راغی، مه درېږئ. مستقیم خپل مسیر ته دوام ورکړئ.

د هغې امر سمدستي عملي شو.

ټول زغره‌وال موټرونه په منظم قطار او لوړ سرعت روان پاتې شول.

په همدې وخت کې د سړک غاړې یو دوکاندار، چې له لرې یې د موټرو قطار ولید، ژر یې خپل موبایل را وایست.

هغه د جابر لپاره پټ معلومات راټولول.

بې له ځنډه یې جابر ته زنګ وواهه.

جابر چې زنګ پورته کړ، ویې ویل:

څه خبره ده؟

سړي په وارخطا غږ وویل:

کاروان راورسېد. که ژر ځانونه ونه رسوئ، ټول به درنه تېر شي.

جابر بې له ځنډه ځواب ورکړ:

سمه ده. موږ همدا اوس حرکت کوو.
هغه موبایل بند کړ او خپلو ملګرو ته یې وکتل.
بیا یې په لوړ غږ وویل:

مجاهدینو ورونو! وخت را رسېدلی. ژر چمتو شئ.

موږ د الله تعالی دډین د ساتونکو په حیث روانیږو او په دې لاره کې د هر ډول تکلیف لپاره اماده یو ، نورې یې هم زیاتي خبري وکړي چي د ټولو مجاهدینو حوصله یې لوړه کړل.

د جابر په خبرو کې دومره ځواک او ډاډ و چې ټول سمدستي له خپلو ځایونو پورته شول، وسلې یې واخیستې او په منډه د سړک پر لور روان شول هر کس د الله اکبر تکبیر له ځان سره وایه.

کله چي هلته ورسیدل حالت بدل سوي و ټول ټانکونه د وخت څخه مخکي تیر شوي وه.

جابر څو شېبې د سړک منځ ته ولاړ و او د هغوی پر لور یې وکتل. د ټانکونو وروستۍ دوړې هم ورو ورو ورکېدې.

هغه په ژوره ساه وویل:

یوه ښه موقع مو له لاسه ووتله.

بیا یې د دوکاندار خواته مخ واړاوه.

تا ویل کاروان راورسېد، نو بیا ولې ترې مخکې خبر نه شوې؟

دوکاندار په شرمېدلې لهجه وویل:

قومندانه، هر څه دومره ناڅاپه وشول چې د زنګ وهلو فرصت مې هم ونه موند. کله چې مې موبایل راواخیست، هغوی لا د کلي له پولې وتلي وو.

جابر د لږ وخت لپاره چوپ پاتې شو. بیا یې په ارام غږ وویل:

خیر... جګړه همدا ده. هره ورځ بریا نه وي. ان شاء الله، بیا به ورسره مخ کېږو.

هغه خپلو ملګرو ته اشاره وکړه.

راځئ، کلي ته ستانه شو.

ټول بېرته روان شول.

بل لور ته د امریکایي ځواکونو کاروان له کوم خنډ پرته قرارګاه ته ورسېد.

د دروازې ساتونکو له لرې د ټانکونو قطار ولید.

سمدستي یې د قرارګاه دننه د رسېدو خبر خپور کړ.

څو شېبې وروسته ټول زغروال موټر یو په بل پسې قرارګاه ته ننوتل.

په موټرو کې خوراکي توکي، طبي وسایل، مهمات، اضافي وسلې او نور پوځي تجهیزات بار وو.

رینالډ چې د کاروان د خوندي رسېدو خبر واورېد، د خوښۍ احساس یې پټ نه شو کړای.

هغه خپله تومانچه راوویسته او د خوښۍ له امله یې څو ډزې هوا ته وکړې.

بیا یې په لوړ غږ وویل:

ما ویل لوزینا به دا کاروان په سلامتي راولي.

جیف سون یوازې ورته وکتل، خو څه یې ونه ویل.

د ټانک دروازه خلاصه شوه.

لومړی لوزینا راکوزه شوه.

هغې خپل خولۍ سمه کړه، د یونیفورم دوړې یې وڅنډلې او په ډاډه قدمونو د قرارګاه منځ ته روانه شوه.

شینې سترګې یې هر لور ته ګرځېدې. داسې معلومېده لکه د قرارګاه هره برخه چې ارزوي.

هغه د ښایست یوه نمونه او د قدرت د معجزو څخه د ښایست حد و.

لارا، سومیا او نور افسران هم ورپسې روان وو.

رينالډ ژر ورمخې ته شو، نظامي سلام يې وکړ او د ښه راغلاست په انداز يې وويل:

قرارګاه ته ښه راغلاست، قومندان صاحبې.

لوزينا هم رسمي سلام ورکړ.

بيا يې په ارام، خو باوري غږ وويل:

زه لوزينا يم، د اتم کنډک قومندانه. له نن څخه د دې قرارګاه د عمومي قوماندانۍ مسؤليت زما پر غاړه دی.

رينالډ په خوشحالۍ لاس ور وغځاوه.

لوزينا ورسره روغبړ وکړ، خو د بېځايه خبرو لپاره ونه درېده.

هغې مستقيم وويل:

غواړم سمدستي د افسرانو غونډه پيل شي. وخت ډېر مهم دی.

رينالډ سر وخوځاوه.

لکه څنګه چې امر وي.

خو جيف سون چوپ ولاړ و.

هغه ښه پوهېده چې له همدې ورځې وروسته به د قرارګاه مشري د ده له لاسه وځي.

د کلونو قومنداني يې په څو شېبو کې بل چاته سپارل کېده.

رينالډ ورو ورو د جيف سون خوا ته ورنږدې شو او په ټيټ غږ يې وويل:

ته خپه ښکارې.

جيف سون ورو ځواب ورکړ:

طبيعي ده. دا قرارګاه مې کلونه اداره کړې ده خو اوس د يوې کم عمره انجلۍ لاس ته ورغلل.

رينالډ لږ موسکی شو.

زه بيا د بل څه لپاره خوشحاله يم.

جيف سون ورته وکتل.

د څه لپاره؟

رينالډ وويل:

د دې نجلۍ تجربه ما حيرانوي. زه باور لرم چې د همدې په مشرۍ به د هغو درې دېرش سرتېرو غچ واخلو چې تېره شپه ووژل شول.

جيف سون هېښ ونه ويل.

دواړه د غونډې خونې ته روان شول.

د غونډې خونه له افسرانو ډکه وه.

هر څوک پر خپل ځای ناست و او د نوې قوماندانې راتګ ته يې انتظار کاوه.

قاسم هم د ساتونکي په توګه د دروازې ترڅنګ ولاړ و، خو ذهن يې لا هم د حميد په فکرونو بوخت و. له تېرې شپې راهيسې يې نه د خپل قومندان کوم درک لګېده او نه يې د هغه د ژوندي يا مړي کېدو خبر درلود.

څو شېبې وروسته د غونډې دروازه خلاصه شوه.

لوزينا، لارا او سوميا يو ځای خونې ته ننوتلې.

سوميا قاسم ته وکتل ، څه شيبه يي سترګي د قاسم په مخ ګنډلي وي ، خو قاسم لکه بت ولاړ و هيڅ ښور يي نه خواړه،

خو د سوميا ددې کتلو څخه ورته مزاحمت کيده ،

قاسم د سوميا په لور يو ګام مخي ته سو ويل اغلي کوم کار راسره لري ؟

سوميا له فکرونو ووتل ، د قاسم د خبري په کولی کي يې يواځي يوه خوږه مسکا وکړل او ولاړل د لوزينا د څنګ څوکۍ ته ودريدل .

ټول افسران سمدستي له خپلو څوکيو پورته شول او نظامي سلام يې وکړ.

لوزينا هم په ارامه سلام ورکړ، بيا د غونډې د ميز سر ته ودرېده.

هغې لومړی د حاضر کسانو پر څېرو نظر تېر کړ، لکه د هر يوه څېره چې په ذهن کې ثبتوي.

بيا يې په ثابت او ډاډمن غږ وويل:

له نن ورځې وروسته د دې قرارګاه ټول مسؤلیت زما پر غاړه دی. زما لومړنی هدف دا دی چې د دې سیمې امنیتي وضعیت بېرته تر خپل کنټرول لاندې راوړم او د هغو وسله والو وړتیا له منځه یوسم چې زموږ پر ځواکونو بریدونه کوي.

هغې د خبرو په دوام وویل:

زه بې احتیاطي، بې نظمي او د معلوماتو پټول نه منم. هر افسر به د خپلې دندې بشپړ حساب ورکوي. هر راپور باید پر وخت او رښتینی وي.

بیا یې سومیا ته اشاره وکړه.

سومیا له ځان سره راوړی رسمي مکتوب د میز پر سر کېښود.

لوزینا وویل:

دا زما د ټاکنې رسمي حکم دی. له همدې شېبې وروسته ټول عملیات، پلانونه او پرېکړې به زما تر قوماندې لاندې ترسره کېږي.

ټولو افسرانو د منلو په توګه سرونه وخوځول.

بیا لوزینا خپلې خبرې بلې موضوع ته واړولې.

ما د تېرې شپې د برید ټول راپورونه لوستي دي. زموږ قرارګاه ته درانه زیانونه اوښتي دي. زه غواړم پوه شم، د دې برید اصلي لامل څه و؟

د خونې فضا درنه شوه.

رینالډ ورو وویل:

زما په اند د قرارګاه له دننه چا دښمن ته معلومات ورکړي دي.

لوزینا ورته وکتل.

ستا دلیل څه دی؟

رینالډ ځواب ورکړ:

د برید له پیل مخکې قومندان حمید ناڅاپه ورک شو. تر اوسه نه دی موندل شوی. هماغه شپه زموږ بندي جابر هم له قرارګاه څخه وتښتېد. زما په باور دا دواړه پېښې یو له بل سره تړاو لري.

یو شمېر افسرانو د رینالډ خبره تایید کړه.

خو قومندان ظفر مخالفت وکړ.

هغه وویل:

تر اوسه داسې هېڅ کره ثبوت نه لرو چې حمید دې خیانت کړی وي. هغه کلونه دلته دنده ترسره کړې او په لسګونو سخت عملیات یې رهبري کړي دي. تر ثبوت وړاندې پرېکړه کول سمه نه ده.

رینالډ په تنده لهجه وویل:

کله چې ثبوت راشي، ښايي ډېر ناوخته وي.

خونه یو ځل بیا چوپه شوه.

لوزینا د دواړو لورو خبرې واورېدې.

بیا یې په ارام، خو پرېکنده غږ وویل:

تر هغو چې کره اسناد نه وي، هېڅوک مجرم نه ګڼل کیږي. خو د حمید موندل زموږ لومړیتوب دی.

هغې سمدستي امر وکړ:

د کشفي ډلې ټول غړي دې د حمید او جابر د موندلو لپاره ځانګړی عملیاتي پلان جوړ کړي. زه هر شپږ ساعته وروسته بشپړ راپور غواړم.

ټولو افسرانو په یوه غږ وویل:

سمه ده، قومندان صاحبې.

غونډه تر نږدې یو ساعت بحث وروسته پای ته ورسېده.

له خونې د وتلو پر مهال لوزینا یوه بله مهمه پرېکړه هم اعلان کړه.

له نن ورځې وروسته به جیف سون بلې قرارګاه ته لېږدول کېږي. د دې قرارګاه مستقیمه قومانده به زما سره وي، او رینالډ به د پوځي سلاکار په توګه کار کوي.

جیف سون د اعتراض هېڅ خبره ونه کړه.

یوازې یې نظامي سلام وکړ او په خاموشۍ له خونې ووت.

د شپې تیاره ورو ورو پر قرارګاه خپرېده.

خو د دې تیارې تر شا یو نوی فصل پیلېده؛ یو فصل چې د حمید، جابر او لوزینا لارې به ډېر ژر یو ځل بیا سره مخامخ کړې.

د شپې وروستۍ برخه وه.

ټول کلی د ژور سکون په غېږ کې ویده و. یوازې د باد نرم غږ د ونو له څانګو سره لوبې کولې.

په همدې تیاره کې څو سیورې په ډېر احتیاط د کوڅو په منځ کې روان وو.

هغوی یو له بل څخه واټن ساتلی و. په لاسونو یې یو بل ته د تګ او درېدو پټې اشارې کولې، خو هېچا یوه کلمه هم نه ویله.

حتی د قدمونو غږ یې هم نه اورېدل کېده.

ټول په افغاني او ملکي جامو کې وو، خو په اصل کې د ځانګړو امریکایي ځواکونو سرتېري وو.

د دې پېټ عملیاتو مشري قاسم کوله.

لوزینا، او جیف سون د کلي څخه لږ لرې په یوه خوندي ځای کې د مخابرو له لارې عملیات څارل او قوماندې یې ورکوله، ځکه دوی نه غوښتل د لوړپوړو افسرانو شتون عملیات له خطر سره مخ کړي.

د دوی یوازینی هدف دا و چې د حمید ځای معلوم کړي او که امکان وي، جابر هم ژوندی ونیسي.

قاسم په ډېر احتیاط د جابر د کور تر دروازې ورسېد.

هغه د مخابرې په ټیټ غږ وویل:

زه د هغه کور مخې ته یم چې تر ټولو ډېر شک پرې لرم.

د لوزینا غږ د مخابرې له لارې واورېدل شو.

قاسمه، له شک سره عملیات نه کیږي. تر هر اقدام مخکې باید ډاډ ترلاسه کړې.

رينالډ سمدستي وويل:

زه پر دې ټول کلي شک لرم. هر کور ممکن د وسله والو پټنځای وي.

قاسم په ارام غږ ځواب ورکړ:

زموږ د نن شپې هدف جګړه نه ده. موږ يوازې حميد لټوو. که جګړه پيل شي، ټول عمليات به ناکام شي.

لوزينا د هغه خبره ومنله.

ښه... په احتياط مخکې لاړ شه. که کوم غير عادي حرکت دې وليد، سمدستي راپور راکړه.

قاسم مخابره بنده کړه.

هغه ورو د دروازې سوريو ته سترګې ونيولې.

د کور دننه بشپړه تياره وه.

نه د څراغ رڼا ښکارېده او نه د چا حرکت.

قاسم څو شېبې همداسې ودرېد.

بيا يې خپلو نږدې سرتېرو ته په لاس اشاره وکړه چې ددې کور تر څنګ چې کوم کور دي هغه ته متوجه شي او پام وکړئ چې له دې کوڅو خو څوک نه راځي .

هغه په ډېر احتياط د دروازې لاستی وازمايه، خو دروازه له دننه بنده وه.

قاسم په ټيټ غږ وويل:

اوس نو بايد دروازه ماته کړم.

په بله شېبه کې يې په زور لغته پر دروازه ووهله.

دروازه په درز سره خلاصه شوه او د لرګي يوه ټوټه ترې جلا شوه.

قاسم بې له ځنډه د دروازې له تشې دننه ورننوت.

تومانچه يې د دواړو لاسونو په منځ کې کلکه نيولې وه.

په ورو ورو، د عسکري روزنې له مخې، د کور د انګړ پر لور روان شو.

ټول کور په چوپتیا کې ډوب و.

یوازې د یوې ختمې خونې له دننه د څراغ کمزورې رڼا ښکارېده.

قاسم ورو ورو د خونې تر پردې ورسېد.

ژوره ساه یې واخیسته.

بیا یې په احتیاط پرده پورته کړه.

خو د هغه سترګې ناڅاپه ودریدې.

د خونې په منځ کې یوه ځوانه نجلۍ، په لوی سپین څادر کې پټه، د تهجد په لمانځه ولاړه وه.

د څراغ کمزورې رڼا یې پر مخ لګېده، خو هغې لا هم د خپل لمانځه تلاوت ته دوام ورکاوه او د چا د راتګ احساس یې نه کاوه.

د قاسم له ناڅاپي ننوتلو سره نجلۍ سمدستي پوه شوه چې په خونه کې بل څوک شته.

هغې د تهجد وروستی سلام واړاوه، دعا یې پرېښوده او په بیړه پورته شوه.

لا یې دوه ګامه نه وو اخیستي چې قاسم په چټک حرکت ورننږدې شو.

هغې ته یې د تېښتې فرصت ورنه کړ.

د یوې شېبې په ترڅ کې یې هغه د خونې دېوال ته ودروله. د نجلۍ شا دېوال ته ولګېده او مخامخ د قاسم سترګو ته ودرېده.

قاسم په یوه لاس د هغې خوله پټه کړه او په بل لاس کې یې تومانچه ونیوله.

د نجلۍ غټې سترګې له وېرې او حیرانتیا ډکې وې.

قاسم په ټیټ، خو جدي غږ وویل:

که دې لږ هم چیغه وکړه، مجبوره به شم پر تا ډز وکړم. زه نه غواړم چا ته زیان ورسېږي، خو ته هم ما مه اړ باسه،

نجلۍ ورو سر وخوځاوه.

قاسم پوه شو چې ارامه شوې ده.

ورو يې لاس د هغې له خولې لیرې کړ، خو لا هم يې تومانچه چمتو نیولې وه.

نجلۍ په رپېدلي غږ وويل:

ته... څوک يې؟

قاسم لنډ ځواب ورکړ:

زه پوښتنې کوم، ته ځواب راکوه.

بیا يې وپوښتل:

دلته څوک اوسېږي؟

نجلۍ چوپه پاتې شوه.

قاسم بیا وويل:

زما قومندان ورک دی. شک لرم چې دې کور ته راوستل شوی وي. که رښتیا راته ووايې، هېڅوک به زيان ونه ويني.

د نجلۍ له سترګو اوښکې ورو ورو راوبهېدې.

په ژړغوني غږ يې وويل:

زه ستا د قومندان په اړه هېڅ نه پوهېږم. ما مه وژنه.

د هغې ويره ځيره دومره معصومه وه چې د قاسم زړه نرم شو.

هغه ورو تومانچه ښکته کړه او بېرته يې په کمربند کې کېښوده.

د څراغ په کمزورې رڼا کې يې د نجلۍ څېره ښه وليده.

سپين مخ، له اوښکو ډکې سترګې او د وېرې رپېدلې شونډې يې د قاسم پام ځان ته واړاوه.

هغه څو شېبې بې اختياره ورته کتل.

خو ژر يې ځان راټول کړ.

بيا يې په ارام غږ وويل:

ستا نوم څه دی؟

نجلۍ لږه شېبه چوپه وه، بیا یې ورو وویل:

ملیکه.

قاسم د نوم له اورېدو وروسته ورو سر وخوځاوه.

بیا یې وپوښتل:

په دې کور کې نور څوک دي؟

ملیکې لا غوښتل ځواب ورکړي چې ناڅاپه د کور له انګړه د درنې دروازې د لګېدو غږ پورته شو.

دواړه یو ځل ولړزېدل.

قاسم سمدستي تومانچه بېرته راوویسته او د خونې د پردې خواته ورغی.

په احتیاط یې پرده لږ پورته کړه او د انګړ خوا ته یې وکتل.

خو تیاره وه.

هیڅوک نه ښکارېدل.

بېرته یې ملیکې ته وکتل.

هغې هم وارخطا د انګړ لوري ته کتل.

په همدې وخت کې د کور له منځه د يوې نجلۍ غږ واورېدل شو:

مليکې... ويښه يې؟

د غږ په اورېدو د مليکې رنګ نور هم واوښت.

قاسم په بيړه د خونې د دروازې شاته ودرېد.

تومانچه يې چمتو کړه او په ډېر ټيټ غږ يې وويل:

طبيعي خبرې کوه... داسې څه مه کوه چې هغه پوسي چې زه دلته يم.

د خونې پرده ورو پورته سوه...

ذاهده خونې ته ننوتله. د څراغ کمزورې رڼا پر مخ ولګېده. لومړی يې مليکې ته وکتل، خو د هغې وارخطايي يې سمدستي احساس کړه.

په نرم غږ يې وپوښتل:

مليکې... څه شوي؟ ولې دومره وارخطا ښکارې؟

مليکې د ځان د عادي ښودلو هڅه وکړه.

هېڅ نه دي شوي... لږ مخکې د باندې د کوم شي غږ شو، خوب يي را خراب کړ.

ذاهدې د خونې شاوخوا ته وکتل.بيايي وويل ،

زه هم په هماغه غږ راويښه شوم. داسې راته ښکاري لکه څوک چې د انګړ خوا ته ګرځي.

د دروازې شاته ولاړ قاسم بې حرکته ولاړ و. حتی ساه يې هم کرار اخيسته، ترڅو د هغه شتون احساس نه شي.

ذاهدې يو ګام نور هم مخکې واخيست.

بيا يې وويل:

جابر هم په کور کې نشته. که هغه وای، لږ به ډاډه وو.

مليکې بې له ځنډه ځواب ورکړ:

هغه خو نن ماښام یوه مېلمستیا ته تللی دی. ښایي تر سهاره راونه ګرځي.

ذاهده لږ حیرانه شوه.

موږ ته خو یې نه وو ویلي.

ملیکې په مصنوعي موسکا وویل:

ناڅاپه یې پرېکړه وکړه.

ذاهدې څو شیبې خپلې خور ته وکتل.

د هغې په زړه کې یو نااشنا شک پیدا شو، خو کوم څرګند دلیل یې نه درلود.

ورو یې وویل:

سمه ده... ته هم ژر ویده شه.

ملیکې سر وخوځاوه.

ښه.

ذاهده ورو له خونې ووته او پرده بېرته راولوېده.

قاسم څو شیبې هماغسې بې حرکته ودرېد.

تر هغه چې د ذاهدې د قدمونو غږ لیرې شو.

بیا یې ژوره ساه واخیسته او د دروازې له شا راووت.

ملیکه هم لا تر اوسه وارخطا ولاړه وه.

قاسم په ټیټ غږ وپوښتل:

هغه ستا خور وه؟

ملیکې کرار ځواب ورکړ:

هو... ذاهده وه.

قاسم سر وخوځاوه.

لا یې غوښتل بله پوښتنه وکړي چې ناڅاپه یې د مخابرې غوږۍ ژوندۍ شوه.

د لوزینا غږ واورېدل شو.

قاسمه... راپور ورکړه.

قاسم په ډېر ورو غږ ځواب ورکړ:

په کور کې مې د حمید هېڅ نښه ونه موندله.

هماغه شېبه د رينالډ غږ هم راغی.

موږ د کلي په لوېديځه برخه کې يو شکمن کور محاصره کړی. ټول ځواکونه دې هماغې خوا ته حرکت وکړي.

لوزينا په قاطع غږ وويل:

هيڅوک دې خپل ځای نه پرېږدي تر څو زما وروستی امر نه وي رسېدلی... ټول به په همغږۍ عمل کوي.

قاسم پوه شو چې اصلي عمليات اوس پيل شوي دي.

هغه ورو مليکې ته وکتل.

مليکی هم په خاموشۍ هغه ته کتل.

د دواړو ترمنځ څو شېبې هېڅ خبره ونه شوه.

قاسم وويل:

که نن شپه دلته څوک راشي، ځان او خپلې کورنۍ ته پام کوه.

بيا يې مخ واړاوه، د خونې پرده يې پورته کړه او په بشپړ احتياط له کوره ووت، څو له خپلو سرتېرو سره يوځای شي.

په همدې وخت کې د مخابرې له لارې د لوزينا غږ پورته شو.

هغې وويل: ټول تيمونه خپل موقعيتونه وساتئ. دويمه ډله دې د شا له لوري ورننوځي، دربيمه ډله دې چپ اړخ کلابند کړي. تر امر مخکې هيڅوک ډزې مه کوي.

شېبه وروسته د رينالډ غږ هم واورېدل شو.

هغه وويل: موږ خپل هدف ته نږدې يو. ټول کسان دې په احتياط حرکت وکړي.

قاسم پوه شو چې نور سرتېري د کلي په بله برخه کې عمليات پيل کړي دي.

بیا د رینالډ غږ پورته سو ، هغه وویل

موږ په بریالیتوب سره هدف تر لاسه کړ .

لوزینا د عملیاتو پایله وارزوله او د شاتګ امر یې ورکړ.

ټول سرتېري، بې له دې چې نور شور جوړ کړي، بېرته د قرارګاه پر لور وخوځېدل.

د سهار د اذانونو له پیلېدو سره سم ټول قرارګاه ته ورسېدل.

د نیول شویو کسانو د لېږد چارې پیل شوې.

رینالډ ډېر خوښ ښکارېده. هغه جیف سون ته په موسکا وویل:

وینې؟ ما مخکې هم درته ویلي وو چې لوزینا یوازې د عمر له مخې ځوانه ده، خو په پوځي تدبیر کې له ډېرو تجربه لرونکو افسرانو هم مخکې ده. د لومړۍ شپې عملیات بریالي وو او څو مهم کسان مو ونیول.

جيف سون ورو وخندل او ويې ويل:

ته خو يې دومره ستاينه کوې چې هسې نه زه هم د هغې مينه وال شم.

رينالډ هم وخندل.

شپېه وروسته دواړه د قرارګاه د قوماندانۍ ودانۍ ته ننوتل، څو د عملياتو بشپړ راپور واوري.

خو قاسم له نورو ټولو بېل و.

د ده ذهن لا هم د هغې شپې په پېښنو بوخت و.

نه يې د حميد درک لګېده، نه د جابر، او نه هم د هغې نجلۍ معصومې او له اوښکو ډکې سترګې له ذهنه وتلې.

هغه احساس کاوه چې دا کيسه لا تر اوسه خپل اصلي پړاو ته نه ده رسېدلې، او راتلونکې ورځې به تر دې هم ډېرې سختې او برخليک ټاکونکې وي.

موټرونه قرارګاه ته داخل شول. لوزینا په چټکو ګامونو له موټر څخه ښکته شوه. رینالډ هم ورسره روان و.

لوزینا د تګ په حال کې وویل:

تر لسو بجو پورې غواړم له ټولو نیول شویو کسانو څخه بشپړ معلومات واخیستل شي. هر څه چې پوهیږي، باید معلوم شي.

رینالډ سر وخوځاوه.

سمه ده، همداسې به وشي.

لوزینا له خپلو ملګرو سره د استوګنې خونې ته ولاړه، څو لږ استراحت وکړي.

رینالډ د جیف سون خوا ته ورغی او ویې ویل:

ملګري، داسې ښکاري چې ستا د پاتې کېدو وخت پای ته رسېدلی دی. پرون لوزینا هم وویل چې د

دې قرارګاه مشري يې په غاړه اخيستې، نو ته بايد خپلې نوې دندې ته ولاړ شې.

جيف سون په ارام غږ وويل:

هو، زه هم همدا اراده لرم. خو تر تګ مخکې بايد د قرارګاه ټول اسناد، تجهيزات او مهم معلومات لوزينا ته وسپارم، بيا به روان شم.

د سهار لمر په کلي خپل زرين وړانګې خورې کړې وې.

جابر په غوسه کور ته داخل شو. د کورنۍ ټول غړي چوپ ناست وو.

هغه په لوړ غږ خپلې مېرمنې صوفيې ته وويل:

زموږ د کور دروازه ماته شوې ده، او تاسې تر اوسه نه ياست خبر شوي؟

صوفيې سر ټيټ کړ او څه يې ونه ويل.

مليکې په زړه کې وويل:

آيا د تېرې شپې خبره ورته وکړم که چوپه پاتې شم؟

خو لا يې پرېکړه نه وه کړې.

ذاهده وويل:

وروره، موږ هم د شپې ناوخته يو دروند غږ واورېد، خو فکر مو وکړ چې ښايي د باندې کومه پيښه شوې وي.

جابر په ژوره ساه وويل:

دښمن تېره شپه زما اته کسان نيولي دي. په هغوی کې نصير هم و، چې زما له تر ټولو باوري کسانو څخه و.

هغه لږ غلی شو، بيا يې وويل:

نه پوهېږم څنګه یې زموږ پټ ځای پیدا کړ. اوس باید هغه بندي قومندان هم دلته راولو. که هماغسې هلته پاتې شي، ښایي دښمن بیا چاپه ووهي او هغه هم له ځان سره یوسي. دا به زموږ لپاره لوی تاوان وي.

ذاهدې په لنډه لهجه وویل:

هو، ښه به وي چې همدلته یې راولئ.

هغې بیا سترګې ښکته کړې.

ملیکه لا هم زړه نا زړه وه چې د قاسم د راتګ خبره وکړي، خو په پای کې یې چوپ پاتې کېدل غوره وبلل.

جابر د ټولو پر مخ یو نظر تېر کړ او ویې ویل:

د هغه بندي لپاره یوه جلا خونه برابره کړئ. دوه ورځې به همدلته وي، وروسته به يې بل خوندي ځای ته ولېږدوو.

ذاهدې وويل:

سمه ده، همدا اوس يې چمتو کوم.

ټول له خونې ووتل. يوازې جابر او ذاهده پاتې شول.

جابر ذاهدې ته وکتل او ويې ويل:

ته غواړې راته څه ووايې؟

ذاهده لږه شېبه چوپه پاتې شوه، بيا يې په ارام غږ وويل:

د هغه قومندان سره به څه کوې؟

جابر په حيرانۍ ورته وکتل.

ولې د هغه په اړه پوښتنه کوې؟

ذاهدې بې له دې چې احساسات څرګند کړي، وویل:

اندېښنه یې نه لرم، یوازې غواړم پوه شم چې ولې تر اوسه ژوندی دی.

جابر د هغې خبرو ته ډېر پام ونه کړ او ویې ویل:

زه پوهېږم چې څه باید وکړم. ته یوازې هغه خونه چمتو کړه چې بندي به پکې ساتل کېږي.

ذاهدې سر وخوځاوه.

سمه ده همدا اوس یې برابرم.

څو ساعته وروسته، د جابر څو ملګرو حمید د هغه پټنځای څخه راوویست. لاسونه یې تړلي وو او د کلي په تنګو کوڅو کې یې د جابر کور ته راوست.

کله چې حمید د انګړ له منځه تېرېده، ذاهده او ملیکه د کړکۍ تر شا ولاړې وې او په چوپتیا یې ورته کتل.

د حميد په زړه کې يو ناڅاپه د شاعرۍ حس پيدا شو

هغه د ځان سره وويل :

جانانه ويښ يې که ويده يې

ستا تر کوټه مې لاس تړلي تيروينه

ملېکې په ورو غږ د ځان سره وويل:

همدا د هغه قومندان دی.

ذاهدې بې له دې چې سترګې ترې واړوي، ورو وپوښتل:

څه وايې؟

ملېکې لږه شېبه چوپه پاتې شوه، بيا يې وويل:

تېره شپه چې ته زما خونې ته راغلې، تر تا مخکې د ده يو عسکر زموږ کور ته ننوتی و. هغه زما په خونه کې پټ شوی و او د خپل قومندان لټه يې کوله.

ذاهدې په حیرانۍ هغې ته وکتل.

ولې دې دا خبره تر اوسه له مور پټه ساتلې وه؟

ملیکې په وارخطایۍ وویل:

نه پوهېږم... هغه وخت وویرېدم. اوس هم درڅخه یوه هیله لرم، جابر ته دا خبره مه کوه. که خبر شي، سخت به راباندې غوسه شي.

ذاهدې د څو شېبو لپاره چوپه شوه. د ملیکې خبرې یې په ذهن کې تاوېدې، خو څه یې ونه ویل.

په همدې وخت کې حمید خونې ته دننه کړل شو. د خونې دروازه وتړل شوه.

حمید د خونې شاوخوا وکتل.

خونه له خټو جوړه وه. یوه زوړ فرش، یو بالښت او د اوبو یوه کوچنۍ منګي پکې ایښي وو. د

خوني له کوچنۍ کړکۍ څخه د لمر نرۍ وړانګې دننه راتلې.

هغه ورو کېناست، شا يې پر دېوال ولګوله او ژوره ساه يې واخيسته.

ده ته اوس دا څرګنده شوې وه چې د تېښتې هېڅ اسانه لار نه شته.

بل لور ته، په قرارګاه کې لوزينا له استراحت وروسته په بشپړ پوځي يونيفورم کې له خپلې خوني راووتله.

تازه يې حمام کړی و او ويښتان يې لا هم لږ لامده وو. هغوی يې په منظم ډول د اوږو تر شا تړلي وو په نرۍ سپينه غاړه يې يو کوچني صليب و يوې او بلې خواته يي خپلي جادوګری او شني سترګي اړولي.

هغې په چټکو ګامونو د قوماندانۍ ودانۍ ته روانه شوه.

په قرارګاه کې سرتېرو، چې کله نوې قوماندانه ولیده، هر یو ورته عسکري سلام وکړ.

لوزینا د هر سلام په ځواب کې یوازې سر وخوځاوه او بې له ځنډه د غونډو خونې ته ننوته، ځکه غوښتل یې د نیول شویو کسانو د پلټنو راپور واوري او د راتلونکو عملیاتو لپاره نوې پرېکړې وکړي.

هغې د افسرانو غونډې ته وکتل او په جدي غږ یې وویل:

ښه، نو هر څه مو معلوم کړي دي؟ اوس راته ووایاست.

خو د هغې مخې ته ټول افسران چوپ ولاړ وو. هېچا د خبرو جرئت نه کاوه.

لوزینا اندېښمنه شوه او ویې ویل:

ښاغلی رینالډ، معلومات مو ترلاسه کړل؟

رینالډ خپله خولۍ سمه کړه، ستونی یې تازه کړ او په ټیټ غږ یې وویل:

نه اغلې، هېڅ معلومات مو ترلاسه نه کړل. هغوی ډېر کلک مقاومت وکړ. که څه هم سختې شکنجې مو ورکړې، خو یوه خبره یې هم ونه کړه.

د دې خبرو په اورېدو لوزینا یوازې یوه ترخه موسکا وکړه. بې له دې چې څه ووايي، غونډه یې پرېښوده او د بندیانو خونې ته روانه شوه.

کله چې یې بندیان ولیدل، ټول سخت وهل شوي وو. جامې او مخونه یې په وینو ککړ وو او په سختۍ یې ساه اخیسته.

لوزینا د یوه بندي مخې ته ودرېده. د سر له ویښتانو یې ونیو، سر یې پورته کړ او سترګې یې ورسره مخامخ کړې.

په سړه لهجه یې وویل:

زموږ د قومندان او ستاسې د قومندان په اړه ټول معلومات راته ووايه، مخکې له دې چې نور هم درته زيان ورسوو.

بندي په سختۍ ساه اخيسته، خو بيا هم ورو وخندل.

يو ترجمان مخې ته راغی او د لوزينا خبرې يې په پښتو ورته وژباړلې. لوزينا څو ګامه شاته ودرېده او د هغه ځواب ته يې انتظار کاوه.

بندي ورو څه وويل. لوزينا سمدستي ورنږدې شوه چې خبرې يې په دقت واوري، خو ناڅاپه بندي د هغې پر مخ وينې او لاړې تو کړې، بيا يې په لوړ غږ وخندل.

لوزينا يوه ژوره ساه واخيسته.

هماغه شېبه قاسم په غوسه ورمخکې شو او بندي يې په مخ لغته وواهه.

لوزينا سمدستي د هغه لاس ونيو او په ټينګ غږ يې وويل:

کار ورسره مه لره. زما په کار کې دې هېڅوک مداخله نه کوي.

بيا يې خپل مخ پاک کړ، بېرته بندي ته ورنږدې شوه او ويې ويل:

که قومندان حميد تر سبا پورې روغ او جوړ زموږ لاس ته ونه لوېد، تاسې ټول به همدلته ووژل شئ او جسدونه به مو هم ورک شي.

قاسم دا خبرې په پښتو بنديانو ته وژباړلې.

له بنديانو څخه يوه په زحمت وويل:

زه پوهېږم چې قومندان حميد چېرته دی.

قاسم ژر وويل:

نو ووایه.

بندي په مات غږ یوه سیمه او یو کور وروښود او نښه یې هم ورکړه، خو په حقیقت کې یې غوښتل هغوی وغولوي او غلط لوري ته یې واستوي.

قاسم ټول معلومات لوزینا ته ورسول.

لوزینا څو شیبې چوپه پاتې شوه، بیا له خونې ووتله. ټول افسران ورپسې روان شول.

هغې وویل:

قاسمه ، دا سړی درواغ وایي. زه د ده په سترګو کې دوکه وینم.

قاسم په حیرانۍ وپوښتل:

ته څنګه دومره ډاډه یې چې درواغ وایي؟

لوزینا ترخه موسکا وکړه او په باوري لهجه یې وویل:

ما دوه کاله په حربي پوهنتون کې د ارواپوهنې او
روانشناسي زده کړې کړې دي. د یوه انسان
سترګو، د مخ حالت او د خبرو انداز ته چې
وګورم، ډېر وخت پوهېږم چې رښتیا وایي که
درواغ.

قاسم د هغې د خبرو په اورېدو سخت حیران شو.

لوزینا روانه شوه، خو لا څو قدمه نه وه تللې چې
مخې ته یې سومیا راڅرګنده شوه. سومیا په خوښۍ
ورمخکې شوه او لاس یې ورسره ورکړ.

لوزینا په کرار غږ څو خبرې ورسره وکړې.
خبرې دومره ورو وې چې قاسم وا نه ورېدې.

لوزینا لاړل او سومیا د قاسم په خوا راغلل ، ویل
قاسم

قاسم د هغي په لیدو آرام او غښ ودرید سترګي یې
د هغي په مخ ښخی کړي ویل ما څه وایي ؟

سوميا ور نږدې سوه ، ويل ته له ميني اکاډمي فارغ يې ؟

قاسم د خپلي پوځي اکاډمۍ نوم ورته وښوده ،

سوميا وويل ،

ته نور هم تمرين ته اړتيا لري که غواړئ زه تاته تمرين درکوم نښه ويشتل درته زده کوم او داسی نور څه هم ددې خبري په کولو يې په سترګو يو جالب حرکت هم وکړ.

قاسم وويل ، سمه ده خو...

سوميا د هغه خبره پري کړل ويل مازديګر زما دفتر ته راسه بيا خبري کوو په اوږه يې وټکاوه او د لوزينا په خوا روانه سوه.

قاسم په هغي پسي کتل ، زړه يي د خوښی څخه ټوپونه وهل خو اظهارول يي نه..

په همدې وخت کې حمید له جابر او څو نورو کسانو سره په هغه کوټه کې و. جابر او ملګري یې په کوټه کې راټول شوي وو. د ټولو پر څېرو اندېښنه خپره وه. هر څوک د خپلو نیول شویو ملګرو د خلاصون په اړه فکر کاوه.

یو تن وویل:

موږ باید یو ځل بیا پر قرارګاه برید وکړو او خپل کسان راخلاص کړو.

بل سړي سمدستي مخالفت وکړ.

نه، دا کار به سمه پرېکړه نه وي. هغوی اوس بشپړ چمتو او ویښ دي. که برید وکړو، ډېر دروند زیان به ووینو.

جابر هېڅ ونه ویل. لږه شېبه چوپ پاتې شو، بیا له کوټې ووت.

ټول ورپسې روان شول. جابر له خپلو نږدې ملګرو سره په خبرو بوخت و، خو ذاهدې د خونې له کړکۍ د دوی خبرو ته غوږ نیولی و.

جابر وویل:

زموږ هغه اته کسان ډېر مهم دي، باید هره بیه وي راخوشې شي. موږ به حمید د هغوی په بدل کې تبادله کړو.

بیا یې اشرف ته وکتل او ویې ویل:

ته ځان د دوی جاسوس معرفي کړه. قرارګاه ته لاړ شه او ورته ووایه، که زموږ اته کسان خوشې کړي، موږ به هم قومندان حمید روغ رمټ ور وسپارو.

ټولو د جابر خبره ومنله او تایید یې کړه.

ذاهدې چې دا خبرې واورېدې، زړه یې نااشنا درزا وکړه. داسې احساس یې وکړ چې تر اوسه یې هېڅکله نه و تجربه کړی.

څو شېبې وروسته ټول له کوره ووتل او حمید، چې لاسونه او پښې يې تړلي وو، په کوټه کې يوازې پاتې شو.

ذاهده ورو ورو ښکته شوه. لومړی يې شاوخوا ته وکتل، ډاډه شوه چې څوک نشته، بیا په احتیاط کوټې ته ننوتله.

هغې د حمید له سترګو تړلی ټوکر لرې کړ.

حمید چې ذاهده ولیده، حیران شو.

ویې ویل:

ته دلته څه کوې؟

ذاهدې سمدستي ګوته پر شونډو کېښوده.

ورو يې وویل:

کرار خبرې کوه، څوک يې وانه وري.

حمید په بېړه وویل:

نو لاسونه او پښې مې خلاصې کړه چې وتښتم.

ذاهدې سر وخوځاوه.

نه، دا کار نه شم کولای. ته زما د ورور امانت يې، زه له هغه سره خيانت نه شم کولای.

حميد په مايوسه لهجه وويل:

نو بيا د څه لپاره راغلې يې؟

ذاهدې ورو ځواب ورکړ:

غوښتل مې ستا حال واخلم.

بيا يې په موسکا ورزياته کړه:

هغه شپه دې ډېرې لويې خبرې کولې، خو اوس د زما د ورور بندي يې.

حميد هم ورو وخندل.

ويې ويل :

په يوه کس باندې لس کسان ډير وي

ستا ورور د څو کسانو سره وي هيڅکله يوائې ته راځې مګر زه يوائې يم او هر ډول حالت ته تيار يم

ذامدې وویل ، قومندانه ، حکمت د یو مسلمان ورک شوي څیز دي هر کله چي یي پیدا کړي نو ورڅخه کار اخلي ، دا به بي عقلي وي چي زما ورور تاته یواځي راسي ، ځکه ته روزل شوي پرسونل یې او زما ورور یو کلیوال سړي دي ، آفرین خو په دي ورته وایم چي په دی کوچني کلي کي اوسیږي او دومره لږ تعداد کسان دي خو بیا هم تاسي هیڅ نسي ورباندي کولاي .

حمید وپوښتل

ستا ورور او نور اوس چیرته دي؟

ذاهدې وویل:

له کوره وتلي دي، خو یوه مهمه خبره درته کوم.

حمید ورته په ځیر وکتل.

ذاهدې وویل:

تېره شپه ستاسې خلکو زموږ اته کسان نیولي دي. جابر غواړي تا د هماغو اته بندیانو په بدل کې تبادله کړي.

د حمید پر څېره د خوښۍ نښې څرګندې شوې.

ویې ویل:

دا خو ډېر ښه خبر دی.

ذاهده جدي شوه.

قوماندانه، کله چې خوشې شوې، بیا هېڅکله دې کلي ته مه راځه. خدای خبر، بیا به ژوندی هم ونه وځې.

حمید څو شېبې چوپ پاتې شو، بیا یې وویل:

ته پوهېږې، ستا ورور زما دښمن دی، خو ته...

خبره یې نیمګړې پرېښوده.

ذاهدې وپوښتل:

او زه؟

حمید د هغې سترګو ته وکتل او ورو یې وویل:

که خوشې شوم، بيا به خامخا دې کلي ته راځم.

ذاهدې په حيرانۍ وويل:

ولې؟

حميد لږ موسکی شو.

پخوا د دې لپاره راتلم چې خپل دښمنان وپېژنم، خو اوس مې په دې کلي کې داسې دوستان هم پيدا کړي چې د راتګ لپاره مې پلمه ګرځي.

ذاهدې په تېزه لهجه وويل:

څوک ستا دوست دی؟ څوک زموږ له خلکو سره خيانت کوي؟ نوم يې واخله.

حميد وخندل.

ويې ويل:

ته رښتيا هم ډېره ساده يې.

ذاهدې په غوسه وويل:

ماته ساده مه وايه.

حمید په ټوکو وویل:

نو بیا دې په څه نوم یاد کړم؟

بیا یې په لږ جدي غږ وویل:

که رښتیا ووایم، ته غواړې زما له خولې خپل نوم واورې.

ذاهده چوپه ولاړه وه.

حمید خپلو خبرو ته دوام ورکړ.

باور وکړه، هغه شپه چې دې کلي ته راغلم، یوازې د جګړې لپاره نه وم راغلی. نه پوهیږم ولې مې زړه غوښتل یو ځل بیا تا ووینم. هماغه فکر و چې زه یې دلته تر بند پورې راورسولم.

ذاهدې بې له څه ویلو یوازې هغه ته کتل.

حمید ورو وویل:

زه پوهیږم چې موږ د یو بل دښمنان یو، خو زړه کله کله د جګړې او دښمنۍ خبرې نه مني.

ذاهدې ژوره ساه واخیسته او ویې ویل:

قوماندانه، بېځايه خبرې مه کوه. زه يوازې د دې لپاره راغلې يم چې خبر دې کړم، کومه بې احتياطي ونه کړې، ځکه ته ژر خوشې کېږې. نورې خبرې هېڅ معنا نه لري.

حميد په ارام غږ وويل:

ذاهدې... زه پوهېږم چې ته ولې راغلې يې.

دا ځل ذاهدې نور د تمېدو توان ونه درلود. ژر له کوټې ووتله، خو د کوټې له دروازې تر وتلو وروسته هم د حميد وروستۍ خبرې د هغې په ذهن کې ځرخيدې.

حميد د ځان سره وخندل او خپل تړل شوي لاسونو ته يې وکتل ، بيايې وويل :

کله چې دښمن دوست شي بيانو هر کار په چپه مخ روانيږي .

بل لور ته قاسم د حميد لپاره سخت اندېښمن و. هغه هر ځای او هر کور وپلټل چې شک پرې

کېده، خو ټول شکونه ناسم وخوتل. د عملیاتو په پایله کې یوازې اته کسان ونیول شول، خو هغوی هم هېڅ معلومات نه ورکول.

قاسم نور بې صبره شو. د لوزینا د دفتر دروازې ته ورغی او ورو یې ټک وواهه.

له دننه د لوزینا غږ راغی.

راشه.

قاسم دفتر ته ننوت. تر ده مخکې هلته جیف سون او ریناللډ ولاړ وو. لوزینا د مېز تر شا ناسته وه. شنې سترګې یې د قاسم پر لور واړولې.

قاسم عسکري سلام وکړ او چوپ ودرېد، څو د هغوی خبرې پای ته ورسېږي.

لوزینا جیف سون ته وویل:

ښه، د دوهم پوړ د امنیتي ترتیباتو په اړه راته ووایه.

جیف سون په تفصیل خبرې پیل کړې. هغه د قرارګاه د دوهم پوړ، امنیتي پوستو، ساتونکو او نورو اړوندو چارو په اړه هر څه بیان کړل. نږدې شل دقیقې لوزینا له هغه سره په خبرو بوخته وه، خو قاسم هماغسې غلی ولاړ و. د دوی خبرې یې اورېدې، خو ذهن یې یوازې د حمید په لټه کې ګرځېده.

د خبرو له پای ته رسېدو وروسته جیف سون عسکري سلام وکړ، له لوزینا سره یې مخه ښه وکړه او لاس یې ورسره ورکړ. بیا یې له رینالډ سره هم خدای پاماني وکړه او د خپلې نوې دندې لپاره له قرارګاه ووت.

لوزینا د قاسم پر لور وکتل.

ښاغلی قاسم، څه خبره ده؟

قاسم لږ ستونی تازه کړ او یو ګام مخکې راغی.

زما زړه هېڅ ډاډه نه دی. داسې احساس کوم چې د قومندان حمید د موندلو وخت له لاسه ورکوو. هره شېبه بې ځایه تېرېږي. باید ژر یو څه وکړو.

لوزینا ژوره ساه واخیسته. له خپلې څوکۍ پورته شوه، د مېز بلې غاړې ته راغله او د قاسم مخې ته ودرېده. لاس یې د هغه پر اوږه کېښود او په ډاډمن غږ یې وویل:

زه باوري یم چې ستا قومندان به تر دوو یا دریو ورځو پورې پیدا کړو. یوازې پر موږ باور وساته.

قاسم څه ونه ویل. په خواشینۍ ولاړ و او سترګې یې ځمکې ته نیولې وې.

رینالډ وویل:

که قاسم په خپله خوښه تللی وي، بیا یې راوستل اسانه نه دي. خو که په زور بیول شوی وي، زه باور لرم چې لوزینا به یې هرومرو پیدا کړي.

لوزینا هم په تایید سر وخوځاوه.

قاسم د دوی له خبرو ډاډه نه شو. په زړه کې یې لا هم اندېښنه وه. ورو وګرځېد او له دفتره ووت.

کله چې د قرارګاه نیمایي ته ورسېد، یو سړی یې په ملکي جامو کې ولید. ورنږدې شو. هغه اشرف و.

قاسم وپوښتل:

ته دلته څه کوې؟ څنګه راغلې؟

اشرف وویل:

غواړم له جیف سون سره مهمې خبرې وکړم.

قاسم وویل:

له ما سره راځه.

اشرف د قاسم په ملګرتیا بېرته د لوزینا دفتر ته ورغی.

لوزینا او رینالډ لا هم په دفتر کې وو او په خپلو کې یې خبرې کولې. د قاسم او اشرف په ننوتلو سره یې خبرې ودرولې.

ریناله په پوښتنیز نظر قاسم ته وکتل.

لوزینا وپوښتل:

دا څوک دی؟

قاسم اشرف ته لوزینا معرفي کول او هغې ته یې اشاره وکړه او ویې ویل:

دا لوزینا ده. د جیف سون پر ځای اوس د دې قرارګاه مسؤلیت ورسره دی. هر څه چې لرې، همدغې ته یې ووایه.

اشرف یو ګام مخکې راغی او ویې ویل:

زه د وسله والو له لوري راغلی یم. هغوی زه د استازي په توګه رالیږلی یم.

د دې خبرې په اورېدو سره لوزینا سمدلاسه له خپلې څوکۍ پورته شوه. ریناله هم ودرېد.

لوزینا وویل:

څه پیغام یې راوړی؟

ځکه چې اشرف په انګلیسي نه پوهېده، قاسم د دواړو تر منځ ژباړه کوله.

اشرف وویل:

هغه بندیان چې تاسې نیولي دي، د جابر کسان دي. هغوی غواړي چې د قومندان حمید په بدل کې خپل کسان خوشې کړي.

لوزینا د قاسم پر لور وکتل او ورو یې وپوښتل:

دا سړی مخکې چېرې و؟

اشرف خپله خبره وغځوله.

زه هغه څوک یم چې حمید نیولي وم، خو وروسته د هغه مرسته کوونکی شوم. ما ورته د ډېرو کسانو په اړه معلومات ورکړل. بیا یې زه د جاسوسۍ لپاره کلي ته ولیږلم. اوس د همدې پیغام لپاره راغلی یم.

رینالډ اشرف ته ځیر شو او ویې ویل:

نو ته هماغه سړی یې چې ما د جابر له کسانو سره نیولی وې، او ما ستا د اعدام پرېکړه کړې وه؟

اشرف په ارامه سر وخوځاوه.

لوزینا وپوښتل:

نور کوم شرط لري؟

اشرف وویل:

نه، بل شرط نه لري. یوازې غواړي چې خپل کسان واخلي او په بدل کې حمید دروسپاري.

لوزینا لږ فکر وکړ، بیا یې وویل:

سمه ده، خو معامله به زموږ په شرط وي. لومړی به حمید خوشې کوئ او موږ ته به یې راوسپارئ. له هغه وروسته به زه ستاسو کسان خوشې کړم.

موږ لاس په لاس تبادله نه کوو.

اشرف چوپ شو. داسې ښکارېده چې د دې شرط په اړه یې مخکې فکر نه و کړی.

قاسم هم وویل:

اشرفه، همدا سمه خبره ده. لومړی باید قومندان حمید خوشې شي.

اشرف لږه شېبه فکر وکړ، بیا یې په رضا سر وخوځاوه او له دفتره ووت. د هغه له تلو سره په دفتر کې درنه چوپتیا خوره شوه، ځکه ټولو پوهېدل چې راتلونکې څو ساعته به د حمید د برخلیک پرېکړه وکړي.

اشرف په بیړه د جابر کور ته ورسېد. ساه یې لا نه وه برابره شوې چې د لوزینا او رینالډ پیغام یې ورته ورساوه.

جابر په غور ورته وکتل او ویې پوښتل:

هغوی خو پوه نه شول چې زموږ سړی یې؟

اشرف په ډاډ ځواب ورکړ:

نه، هېڅ شک یې راباندې ونه کړ.

جابر لږ فکر وکړ، بیا یې په ارام غږ وویل:

بله لار نه لرو. باید حمید خوشې کړو. که زموږ کسان د هغوی په لاس ووژل شي، زه به یې د وینې حساب ټول عمر پر خپل وجدان احساسوم.

هغه له خپلې پټې اډې ووت او کور ته راغی.

په انګړ کې یې کوچنی زوی یاسر په لوبو بوخت و. جابر څو شیبې د خپل زوی معصومې څېرې ته وکتل. په زړه کې یې یو دروند احساس راوګرځېد، بیا ورو د هغې خونې پر لور روان شو چې حمید پکې بندي و.

حمید هماغسې په چوپتیا ناست و.

جابر ورنږدې شو، د هغه د لاسونو او پښو تړلې رسۍ یې خلاصې کړې او د سترګو تړلی ټوکر یې هم ترې لرې کړ.

حمید څو ځله سترګې ورپولې. د څو ورځو تیارې وروسته د خونې رڼا سترګو ته درنه ښکارېده.

جابر په نرم غږ وویل:

قومندانه، موږ نن تا خوشې کوو. دا احسان نه دی، دا زموږ د اصولو برخه ده. خو یوه خبره درنه غواړم. نور د امریکایانو لپاره کار مه کوه. هغوی اشغالګر دي. زه باور لرم چې ته بد انسان نه یې، خو په داسې لار کې روان یې چې پایله یې ښه نه ده.

ځوانه، خپل دین، خپل وجدان او خپله لاره وپېژنه. خپله ځواني د پردیو د ګټو لپاره مه سوځوه.

حمید غلی و. یوازې د جابر خبرو ته یې غوږ نیولی و.

جابر خپله خبره وغځوله.

موږ له ماشومتوبه په سنګرونو کې لوی شوي یو. زموږ د ژوند ډېره برخه په جګړه کې تېره شوې

ده. نه د مال لپاره جنګيږو او نه د څوکۍ لپاره. موږ دا هر څه د خپل دين او خپلې خاورې د دفاع لپاره کړي دي. زه له الله څخه غواړم چې که زه په حق يم، تاته هم حق دروپېژني، او که زه په خطا يم، الله دې ما هم سمې لارې ته راولي.

حميد د اوږدې چوپتيا وروسته يوازې دومره وويل:

مننه.

جابر د هغه لاس ونيو.

راځه.

دواړه ورو ورو د کور د انګړ پر لور ووتل.

کله چې د انګړ منځ ته ورسېدل، حميد په نااشنا ډول شاوخوا وکتل. ناڅاپه يې سترګې د يوې کړکۍ پر لور ودرېدې.

ذاهده هلته ولاړه وه په خاموشۍ يې حميد ته کتل.

کله چې د حمید سترګې ورسره ولګېدې، ذاهده وارخطا شوه او ژر له کړکۍ شاته پټه شوه.

د حمید پر شونډو یو ډېر کمزوری، خو له درد ډک موسکا تېره شوه.

هغه پوه شو چې ذاهده ور څخه مخ پټوي خو هغه وخت یي هم یاد شو چې ذاهده پخپله ورته راغلي وه او خبري یي ورسره کړي وي، او همدا یو فکر د هغه زړه ته یو څه سکون ورکړ.

له کوره ووتل او د کلي په تنګه لاره یو د بل تر څنګ روان شول.

حمید د جابر په خبرو کې ډوب و. د هغه ډېرې خبرې یې ذهن بوخت کړی و. هغه نه غوښتل ومني، خو احساس یې کاوه چې ځینې خبرې یې د فکر وړ دي.

جابر د حمید د خبرې بدلون ولید.

ویې ویل:

ځوانه، نړۍ دومره ساده نه ده لکه څنګه چې تاته ښودل شوې ده. موږ ترهګر نه یو. موږ ته دا نوم راکړل شوی دی. که یوه ورځ موږ له نږدې وپېژنې، بیا به پر موږ د ډېر کولو زړه ونه کړې.

حمید ورو وویل:

زما په نظر زموږ او ستاسو تر منځ دومره لوی توپیر نشته. موږ هم د خپلې خاورې د ساتنې دعوه کوو، تاسو هم. موږ هم ځان د دین خدمتګار بولو، تاسو هم. موږ هم د خپلو کورنیو لپاره ژوند کوو، تاسو هم.

جابر لږ موسکی شو، خو په سترګو کې یې جدیت پاتې و.

نه، توپیر شته.

موږ د الله د رضا لپاره جګړه کوو، خو تاسو د هغه حکومت تر قوماندې لاندې یاست چې د

امریکا په ملاتړ ولاړ دی. همدا توپیر زموږ او ستاسو تر منځ کرښه جوړوي.

حمید نور څه ونه ویل.

هماغه شېبه د غرمې اذان د کلي په فضا کې خپور شو.

دواړه چوپ شول.

د اذان هره کلمه د کلي پر خاموشه فضا خپرېده.

اذان چې پای ته ورسېد، جابر وویل:

که ستا خوښه وي، لومړی به د ماسپښین لمونځ په مسجد کې وکړو، بیا به دې ستا کسانو ته وسپارو.

حمید بې له ځنډه وویل:

سمه ده.

دواړه مسجد ته ننوتل.

د اوداسه په وخت کې حمید جابر ته کتل

هغه لا هم زخمي و او په زحمت سره يې اودس وکړ

د حميد فکر ګډوډ شو بيايې د خپل حربي اکاډمۍ افسران او ټولګيوال ياد سول چې هغوي هم اودس او لمونځ کاوه دوی دواړه مسلمانان وه مګر په يو دوکه کې ساتل شوي وه ، حميد دوي ته ويل کيدل چې وسله وال غواړي د دين په نامه حکومت وکړي او هيواد خراب کړي

خو جابر دوي ته بيا ويل شوي وه چې هر کس چې په دې حکومت کې يې هغه لاره غلطه کړي ده بايد سني لاري ته راوستل شي هغه که په هره طريقه سره وي يا د هر کس په مرګ سره وي .خو په حقيقت کې دوی دواړه په حق وه خو خبره بله وه ...

وروسته د جماعت په صف کې ودرېدل. د امام تر شا يې په پوره خشوع لمونځ ادا کړ.

حميد د دعا پر مهال دواړه لاسونه پورته کړل.

خدايه، ستا شکر کوم چې ژوندی پاتې شوم.

که زه په ناپوهۍ يا غلطه لار روان يم، ته مې سمې لارې ته برابر کړه.

او خدايه... يوازې يو ځل بيا مې له ذاهدې سره يو ځای کړه، ځکه زړه مې لا هم د هغې په فراق کې ارام نه مومي.

د دعا له پای وروسته دواړه له مسجده راووتل.

د کلي په وروستۍ ځنډه کې جابر ودرېد او په ټينګ غږ يې وويل:

يوه خبره درپه ياد وي. که په دې معامله کې دوکه وشي او زموږ کسان خوشې نه شي، په الله قسم چې د قرارګاه هره برخه به د اور لمبه شي.

حميد بې له وېرې د هغه سترګو ته وکتل.

ستا کسان به خوشې کېږي.

دا زما وعده ده.

جابر د سړک پر غاړه یو ټکسي ودراوه. د موټر دروازه یې خلاصه کړه.

حمید سپور شو.

د موټر له حرکت مخکې دواړو یو ځل بیا یو بل ته وکتل.

دوی د جګړې په دوو بېلابېلو مورچلونو کې ولاړ وو، خو دواړو ښه پوهېدل چې دا جګړه یوازې د مرمیو جګړه نه ده، بلکې د باورونو، فکرونو او برخلیکونو جګړه هم ده.

ټکسي ورو ورو د قرارګاه پر لور روان شو، او جابر تر هغه ځایه د موټر شاته کتل، څو له سترګو پناه شو. بیا په درنو ګامونو بېرته د نړۍ کلي ته

ننوت، په داسې حال کې چې د راتلونکو ساعتونو پایلې لا هم نامعلومې وې.

د ۲۰۰۸م کال د ډسمبر څلورویشتمه نېټه وه.

حمید په ټکسي کې ناست و او د تېرو څو ورځو پېښو یې یو په بل پسې په ذهن کې راګرځېدې. کله به یې د ذاهدې له اوښلنو سترګو ډکه څېره سترګو ته ودرېده، کله به یې د جابر ارام، خو ټینګ شخصیت په یاد شو او کله به یې د هغه خبرې په ذهن کې انګازې کولې.

د واورې سپین پوښ د سړک دواړو غاړو ته خپور و. واوره لا هم ورو ورو ورېده او یخ باد د ژمي سړه فضا نوره هم درنه کړې وه.

ناڅاپه په یو چیکپواینو راغلل ،

یو عسکر موټر تم کړي ویل تلاشی کوم.

حمید وویل ، زه قومندان حمید یم بیایي ځان پوره ورته وپیژانده ، عسکر وویل، ماته ویل شوي وه چي تا را روان شوي يې او دا هم راته ویل شوي وه کله ته خوشي شی نو زه په مخابره کې نږدې قرارګاه او رینالډ ته خبر ورکړم.

حمید د عسکر څخه مخابره واخیستل او په رینالډ يې غږ وکړي .

رینالډ د لوزینا په اجازه وختي لا د کلي په یوه څنډه کي چاودیدونکي توکي ځای په ځای کړي وه
.
بس دې کار ته په تمه و چي کله حمید د کلي څخه ووځي او رینالډ برید وکړي.

همداسي وشول کله چي رینالډ ته خبر ورسید چي حمید تر عسکرو پوري رسیدلي دي نو سم دستي يې د حملي کولي امر وکړئ.

امریکایي ځواکونو هم جابر لیدلي و چي د مسجد په خوا تللي و نو هغه مسجد یې په نښه کړي او په چاودني یې د چاودلو بڼن کښیکاږه .

ټول کلي ولړزیده او د مسجد په شاخوا خړ او تور لوګي پورته شول ، د مسجد په شهید کولو سربیره یې د چاودني په خوا ډزي او د درنو وسلو ټکان پیل کړل لس دقیقي یي ټوله کلي د غلبیل په شان کړي او بیا یې خپل ټانکونه په چټکتیا سره د قرارګاه په خوا روان کړل ،

ددې عملیاتو مشري قومندان ظفر او ډین بیږ افسر کوله.

خو حمید لاهم لاره لنډول او په هیڅ نه و خبر چي په کلي کي دده د تګ وروسته څه پیښ شوي.

ټکسي د قرارګاه مخې ته ودرېد.

حمید ښکته شو. ساتونکو چې هغه ولید، سمدستي یې دننه خبر ورکړ.

څو شېبې وروسته د قرارګاه دروازه خلاصه شوه.

قاسم په منډه راووت.

د حمید تر رسېدو سملاسي یې غېږ ورته خلاصه کړه او په ټینګه یې ونیولو.

الحمدلله... قومندانه، روغ راغلې!

د قاسم غږ له خوښۍ رپېده.

حمید هم په موسکا هغه غېږه ټینګه کړه.

زه هم خوشحاله یم چې بېرته مو ولیدم.

د قرارګاه نور عسکر هم راټول شول. هر یو یې په خوښۍ مبارکي ورکوله. د څو ورځو اندېښنه او بې باورۍ نن په یوې شېبې کې بدله شوې وه.

حمید د قرارګاه شاوخوا ته وکتل.

د ځينو دېوالونو پر مخ لا هم د مرميو نښې ښکارېدې، په ځينو ځايونو کې کارګر د رنګمالۍ او ترميم په کار بوخت وو. جګړې خپل نښانونه پرې ايښي وو.

لږ وروسته لوزينا او رينالډ هم راغلل.

لوزينا که څه هم خپله هم خوشحاله وه، خو هڅه يې کوله احساسات پټ وساتي. او د لومړي ځل لپاره يې قومندان حميد وليده .

هغې وويل:

ښه راغلې، قومندان.

حميد په درناوي سر وخوځاوه.

بيا يې بې له ځنډه وويل:

اوس بايد د جابر کسان هم خوشې شي. ما ورسره همداسې ژمنه کړې ده.

لوزینا لږه شیبه چوپه شوه، بیا یې وویل:

ته بېرته راغلې، همدا زموږ لپاره مهمه خبره ده. خو هغه کسان لا هم زموږ بندیان دي. کېدای شي لا تر اوسه ګټور معلومات ترې ترلاسه کړو.

حمید ژوره ساه واخیسته.

د جابر وروستۍ خبرې یې ذهن ته راغلې.

هغه په ارام، خو جدي غږ وویل:

که موږ خپله ژمنه ماته کړو، د دې پایلې به ډېرې خطرناکې وي. هغوی به دا خیانت وبولي او بیا به هیڅوک زموږ په خبرو باور ونه کړي.

رینالډ لږ په تنده لهجه وویل:

ته هر ځل چې د دښمن کوم کس نیول کیږي، د هغه د خوشې کولو خبره کوې.

حمید د هغه سترګو ته وکتل.

زه د دښمن ملاتړ نه کوم. زه د هغې ژمنې ملاتړ کوم چې ورکړل شوې ده.

که موږ پر خپله خبره ونه دریږو، بیا زموږ او هغوی تر منځ څه توپیر پاتې کیږي؟

څو شېبې چوپتیا خپره شوه.

قاسم ورو وویل:

زه فکر کوم حمید سمه خبره کوي. هغه بندیان نور زموږ لپاره کوم ارزښت نه لري، خو که ژمنه ماته کړو، راتلونکې خبرې اترې به ډېرې ستونزمنې شي.

لوزینا د ټولو خبرې واورېدې.

څو شېبې یې فکر وکړ، بیا یې پرېکړه وکړه.

سمه ده. زه فکر ورباندې کوم .

دوه ساعته وروسته قرارګاه ته د ظفر او ډین بیړ ټانکونه راغلل هغوي خپل عملیات تر سره کړي وه او بیرته راستانه شول.

هغوي لوزینا ته وویل چي باوري ندي خو داسی معلومیږی چي د دښمن ملا یي ماته کړي ده.

لوزینا هم ددې خبر په اوریدو خوشحاله شول ویل اوس نو بندیان ور ایله کړي هغوي اوس هیڅ نشی کولای.

هماغه ماښام د جابر ټول کسان له قرارګاه ووتل او د تبادلې معامله په بشپړه توګه پای ته ورسېده.

ماښام ناوخته و.حمید په خپله کوټه کې ناست و. د کړکۍ له ښیښې یې د ورو ورو ورېدونکې واورې ننداره کوله.

دروازه ورو وټکېده.

راشه.

قاسم دننه شو او د حمید مخې ته کښېناست.

څو شېبې دواړه غلي وو.

بیا قاسم موسکی شو.

قومندان صاحب، نن باید خوشحاله واوسې، خو ته لا هم خواشینی ښکارې.

حمید وخندل.

قاسمه... زه خوشحال یم

قاسم وویل نه خوشحال ته معلومیږي نه پوهیږم څه خبره ده ؟

حمید وویل ،

نه پوهیږم دا څنګه درته ووایم.

قاسم په حیرانۍ ورته وکتل.

څه خبره ده؟

حمید د کړکۍ خوا ته وکتل.

زما زړه هلته پاتې شوی دی...

د جابر په کور کې.

قاسم لا هم نه پوهېده چې د څه خبرې کوي.

حمید وویل:

زه... په ذاهدې مین شوی یم.

له هغې ورځې راهیسې چې مې لیدلې ده، هره شپېه مې ذهن ورسره بوخت وي. هر ځل چې سترګې پټوم، هماغه څېره راته ولاړه وي.

قاسم لومړی فکر وکړ چې ښايي حمید د ملیکې خبره کوي، خو د ذاهدې نوم یې چې واورېد، سترګې یې غټې شوې.

قومندان صاحب!

ته د جابر په خور مین شوی یې؟

حمید په بې وسۍ موسکی شو.

نه پوهیږم دا څنګه وشول.

بیا یې له لومړي ملاقاته نیولې، د شپې تر هغه وخته چې د قاسم ټلیفون راغی، ټوله کیسه په تفصیل ورته وکړه.

قاسم په خاموشۍ هر څه واورېدل.

کله چې حمید غلی شو، قاسم هم لږ موسکی شو.

قومندان صاحب...

زه هم یوه خبره لرم.

خو نه پوهېږم وبه خاندې که نه.

حمید وخندل.

وایه، څه خبره ده؟

قاسم لږ شرمېدلی شو.

هغه ورځ چې لوزینا او سومیا راغلي ...

له هغې وریځې څخه زه او سومیا هم د یو بل سره اړیکي لرو او سومیا پخپله غوښتل چي زه ورته نږدې کس وواوسم

حمید سمدستي وخندل.

نو داسې ده؟

ته هم په دام کې لوېدلی یې؟

قاسم هم وخندل.

والله، څه ووایم.

هر څه د الله کار دی.

حمدي وویل،

دا د جابر ټوله کورنۍ عجیبه جذابیت لري.

د دواړو له خولې بې اختیاره خندا ووتله.

هماغه شېبه دروازه وټکېده.

حمید وویل:

راشه.

دروازه خلاصه شوه.

سوميا دننه راغله.

هغې تازه غسل کړی و. اوږده لامده ويښتان يې پر اوږو خپاره وو. ساده کورنۍ نرۍ او نازکي جامې يې اغوستې وې او په عادي ډول کوټې ته راننوته.

هغې په مستقيم ډول قاسم ته وکتل.

قاسمه، له تا سره لږ کار لرم.

قاسم په حيرانۍ وپوښتل:

له ما سره؟

هو.

خو دلته نه.

زما کوټې ته راشه.

قاسم په حيرانۍ حميد ته وکتل.

بيا يې وويل:

سمه ده، همدا اوس درځم.

سوميا ووتله.

قاسم د هغې له وتلو وروسته ورو وويل:

دا نجلۍ هم عجيبه ده. نه پوهيږم څه کار به راسره لري.

حميد په شوخۍ وخندل.

يوازې دومره پام کوه چې خپل د دين څخه دې تير نکړي نور نو خير دی

بايد سوميا مسلمانه کړي .

قاسم هم وخندل او ويې ويل:

قومندان صاحب، لومړی به وګورم څه غواړي، بيا به د دين خبره هم معلومه شي.

حميد په موسکا سر وخوځاوه.

قاسم له کوټې ووت، خو نه پوهېده چې د سومیا دغه ناڅاپي بلنه به د هغه د ژوند یوه نوې پاڼه پرانیزي.

قاسم له حمید سره تر خبرو وروسته له کوټې ووت. د قرارګاه بلې څنډې ته روان شو.

شپه سړه وه. نرۍ واوره د ځمکې پر مخ پرته وه او یخ باد د قرارګاه د دېوالونو تر منځ چلېده.
څو شېبې وروسته د سومیا د کوټې مخې ته ودرېد.

ورو یې دروازه وټکوله.
له دننه د سومیا غږ راغی.
راشه.

قاسم ورو دروازه خلاصه کړه او دننه ننوت.

سومیا د هنداري مخې ته ولاړه وه او خپل لامده ویښتان یې په وچوونکي ماشین وچول. هماغه ساده کورنۍ او جذابي جامي یې اغوستې وې چې لږ مخکې یې په تن وې.

قاسم د ادب له مخې سترګې ښکته کړې.

ویې ویل:

تا راغوښتی وم، څه خبره ده؟

سومیا بې له دې چې ورته وګوري، د خپلې څوکۍ ترخنګ بلې څوکۍ ته اشاره وکړه.

راشه، دلته کښېنه.

قاسم په جدي غږ وویل:

ډېر وخت نه لرم. که کومه خبره لرې، همدلته يې وکړه.

سوميا ماشين بند کړ، ورو ورنږدې شوه او د قاسم لاس يې ونيو.

راځه، دومره رسمي مه اوسه.

قاسم خپل لاس ورو خلاص کړ.

زه رسمي نه يم، خو بې ضرورته ناسته هم نه کوم.

سوميا لږه موسکا وکړه.

ته ډېر مغرور يې.

قاسم ځواب ورکړ:

نه، يوازې غواړم بېرته خپلې دندې ته ولاړ شم.

سوميا د المارۍ دروازه خلاصه کړه. له هغې يې يو بوتل او دوه کوچني ګيلاسونه راوايستل او د مېز پر سر يې کېښودل.

قاسم په حيرانۍ وويل:

دا د څه لپاره؟

سوميا په ارام غږ وويل:

يوازې غوښتل مې لږ درسره خبرې وکړم.

قاسم د ناارامۍ احساس وکړ. غوښتل يې ژر ووځي.

له څوکۍ پورته شو.

زه ځم.

سوميا د قاسم لاس ونيو په هيله مندۍ يې وويل

مه ځه لږ صبر وکړه ولي دي تلوار دي .

قاسم هم کيناست

سوميا ګيلاس خولې ته ونيو ، خو سترګي يي د قاسم څخه نه اړولي ،

هغي په جدې غږ وويل

قاسمه ته پوهيږي ؟ کله چي د کوم چا سره د سکون احساس کوي نو بايد خامخا هغه ته د زړه خبره وشي .

قاسم غلي ناست و

سوميا خبره وغځول ، ويل هو دا خبره سمه ده چي ستا او زما دين مختلف دي خو ريححانه مو يو دي ، زړونه مو يو دي ، او احساسات مو يو دي ، زه غواړم ستاسره زيات وخت تير کړم.

قاسم يواځي ورته کتل ، هغه کله هم د داسي صحنې سره نه و مخ شوي ، هغه ته د حميد خبري يادې شوي چي شيبه مخکي يي ويل ، هغه مسلمانه که او تا بايد له دين څخه ليري نکړي .

قاسم وويل ، سوميا که زه يي شرط لرم.

سوميا د قاسم خبرو ته متوجه شوه ويل هو ووايه څه شرط لري ؟

قاسم وويل

مورې تر هغه وخت پوري د يوې انجلۍ سره اړيکه نه پالي تر څو چي هغه مسلمانه نه وي .

سوميا پو شوه چي د قاسم مقصد څه دی ؟

هغې په بې پروايي وويل ،

قاسمه دا خبرى اوس پرېږده ، ته نه ګوري ما ستا لپاره ځان سينګار کړئ دي ؟ خو ته لکه بت همداسي راته ناست يې !

قاسم جدي وويل ، يعني څه بايد وکړم ؟

سوميا پورته شول او د قاسم د څوکۍ شاته ودريدل

هغې غوښتل چې د قاسم په غاړه کي لاسونه واچوئ خو په .يې وخت کي قاسم ناڅاپه له څوکۍ څخه پورته شو

د دواړو توازن خراب شو او يوې خواته کاږه شول او دواړه په ځمکه داسي ولويدل چې سوميا په قاسم باندي سربيره شوه .

قاسم سمدستي ځان يوې خوا ته کړ او ژر پاڅېد.

هماغه شېبه د کوټې دروازه خلاصه شوه.

لوزينا دننه راغله.

هغې یوه شېبه دواړو ته وکتل. د کوټې فضا ناڅاپه سړه شوه.

قاسم ژر ولاړ شو او یو څو ګامه شاته ودرېد. بیا یې عسکري سلام وکړ.

لوزینا په جدي لهجه وپوښتل:

دلته څه روان دي؟

قاسم بې له ځنډه ټوله کیسه له پیله تر پایه بیان کړه. ویې ویل چې سومیا راغوښتې وم او یوازې د خبرو لپاره راغلی وم.

لوزینا بیا سومیا ته وکتل.

همداسې ده؟

سومیا په ارامۍ سر وخوځاوه.

هو، ما راغوښتی و.

لوزينا څو شېبې غلې پاتې شوه، بيا يې قاسم ته وويل:

ته خپل کوټې ته لاړ شه. زه له سوميا سره لږې خبرې لرم.

قاسم يو ځل بيا عسکري سلام وکړ او په چټکو ګامونو له کوټې ووت.

هغه نېغ د حميد کوټې ته ورغی.

دروازه يې په بيړه وټکوله.

حميد له دننه وويل:

راشه.

قاسم چې دننه شو، ساه يې تېزه روانه وه.

قومندان صاحب... قومندان صاحب...

حميد وارخطا له ځايه پورته شو.

څه شوي؟

قاسم څو ژورې ساهګانې واخیستې او بیا یې ټوله پېښه په ترتیب ورته وکړه.

حمید په پیل کې حیران شو، خو د کیسې تر پای ته رسېدو وروسته یې خندا ونه شوه تمولای.

په موسکا یې وویل:

قاسمه، داسې ښکاري چې ته هره ورځ په نوې ستونزه کې ګیرېږې.

قاسم په وارخطایۍ وویل:

قومندان صاحب، قسم خورم، زما هېڅ قصد نه و. زه خو نه پوهېږم چې هغه څنګه په ما را ولویدل.

حمید د هغه پر اوږه لاس کېښود.

ښه، نور پرې فکر مه کوه.

لاړ شه، لږ استراحت وکړه.

سبا که اړتیا وه، بیا به یې په اړه خبرې وکړو.

قاسم په اوږده ساه وویل:

همدا به ښه وي.

هغه له کوټې ووت، خو ذهن یې لا هم د هماغې پېښې په فکرونو بوخت و. تر ناوخته پورې یې خوب سترګو ته رانغی، ځکه نه پوهېده چې د سومیا اصلي موخه څه وه او لوزینا به د دې پېښې په اړه څه پرېکړه کوي. د همدې ناڅرګند فکرونو سره په پای کې ویده شو.

په بله ورځ په کلي کې د جابر او د هغه د ملګرو تر منځ د خوښۍ فضا وه. هغوی د یو کس په بدل

کې اته کسان بېرته ترلاسه کړي وو او دا د هغوی لپاره د یوې بریالۍ معاملې په معنا وه.

نصیر جابر ته وویل:

جابره، هغوی زموږ کورونه او د کلي ډېر ځایونه لیدلي دي. اوس به څه کوو؟

جابر په ارام او ډاډمن غږ ځواب ورکړ:

ما د هر څه لپاره چمتووالی نیولی دی. موږ نور له دې کلي څخه ځو. بل ځای ته به انتقالیږو، څو د خلکو لپاره ستونزې جوړې نه شي.

ټولو د جابر خبره ومنله.

د جابر په کور کې ذاهده د صوفیې تر څنګ ناسته وه.

هغې ظاهراً د نورو خبرو ته غوږ نیولی و، خو فکرونه یې بل ځای ګرځېدل. هغې ته ویل شوي وو چې نور به له دې کلي څخه ځي او بل ځای به ژوند پیلوي.

د دې خبرې فکر هغې ته ډېر دروند و.

هغې په زړه کې وویل:

بیا به ښایي هېڅکله قومندان حمید ونه وینم.

خو هر ځل چې به یې دا فکر ډېر کړ، ځان به یې کنټرول کړ او هڅه به یې وکړه چې هیله له لاسه ور نه کړي.

صوفیې د هغې بدلې شوې څېرې ته وکتل او ویې ویل:

ذاهدې، نن لږ اندېښمنه ښکاري.

ذاهدی ژر ځان سمبال کړ.

نه وريندارۍ، اندېښمنه نه يم. يوازې لږه تبه لرم، ځکه مې بدن ښه نه دی.

بيا له ځايه پورته شوه او خپلې پخوانۍ خونې ته ننوته.

مليکې او صوفيې يو بل ته وکتل.

د ذاهدې مور، چې د عمر له امله يې ملا لږه کږوپه شوې وه، په سختۍ پورته شوه او د لور پسې ورغله.

کله چې خونې ته ننوتله، ذاهده يې وليده چې د احساساتو له امله يې سترګې له اوښکو ډکې وې.

بوډۍ مور په اندېښنه وويل:

لورې، څه شوي دي؟ ډاکټر ته دې يوسم؟

ذاهدې ژر خپلې اوښکې پاکې کړې.

نه مورې، زه ناروغه نه يم. ډاکټر ته اړتيا نشته.

هماغه وخت ملیکه هم خونې ته راغله.

مورې، تاسو لاړ شئ، زه به ورسره خبرې وکړم.

بوډۍ مور له خونې ووتله.

ملیکه د ذاهدې څنګ ته کښېناسته.

خورې، راته ووایه. څه شوي دي؟ ولې ژاړې؟

ذاهدې غوښتل موضوع بدله کړي. مخ یې بلې خوا ته واړاوه او د ټیکري په څنډه یې خپلې سترګې وچې کړې.

ویې ویل:

جابر نن سهار وویل چې موږ به له دې ځایه ځو. دا ځای مې ډېر خوښ شوی و. ښایي ځکه مې زړه درووند شوی وي.

ملیکې د هغې لاس ونیو.

خورېږي، هر ځای چې انسان وي، هماغه ځای کور جوړېږي. مه خپه کېږه.

دواړه د یو بل تر څنګ ناستي وې، خو د ذاهدې په زړه کې لا هم د یوه نامعلوم احساس اور بل و.

په قرارګاه کې ورځ هم د نورو ورځو په شان روانه وه.

حمید او لوزینا په یوه مهمه موضوع خبرې کولې چې سومیا راغله او د لوزینا تر څنګ ودرېده.

حمید چې هغه ولیده، د تېرې شپې پېښه یې په ذهن کې تازه شوه.

هغه د خبرو په منځ کې ودرېد او ویې پوښتل:

دا نجلۍ څوک ده؟

لوزینا وویل:

دا زما ملګرې ده او د قرارګاه د تجهیزاتو د تنظیم مسؤلیت لري.

حمید لږ چوپ شو، بیا یې وویل:

پرون شپه هغې زما له ملګري قاسم سره داسې چلند وکړ چې زه حیران شوم.

بیا یې ټوله پېښه لوزینا ته بیان کړه.

لوزینا سومیا ته وکتل.

ته باید خپل چلند ورته روښانه کړې.

سومیا په عادي انداز وویل:

ما هېڅ بد کار نه دی کړی. یوازې مې غوښتل له قاسم سره خبرې وکړم. نه پوهېږم ولې دا موضوع دومره جدي ونیول شوه ، قاسم خو څه کوچنی ماشوم ندي چي له ماسره ناسته نشي کولای ؟

حمید په جدي غږ وویل:

کېدای شي ستا لپاره دا عادي خبره وي، خو زموږ د کلتور او باورونو له مخې داسې کړنې مناسبې نه دي. موږ ورته جدي ګورو.

سومیا په ناخوښ نظر حمید ته وکتل او بې له دې چې نور څه ووايي، له کوټې ووتله.

حمید د هغې پر لور وکتل، بیا یې لوزینا ته وویل:

خپله ملګرې دې پوهه کړه چې بیا داسې کار تکرار نه کړي. دا ډول چلند د یو انسان عزت ته زیان رسوي.

لوزینا د خپلې ملګرې د سپکاوي له امله خپه شوه. په تنده لهجه یې وویل:

قومندانه، خپلو خبرو ته پام وکړه. ته پرون له بند څخه خلاص شوې موږ له هغو وحشيانو څخه خوشي کړي موږ درسره مرسته وکړه، خو دا معنا نه لري چې زما ملګرو ته به زما مخې ته سپکاوی کوې.

حمید چوپ شو.

خو په زړه کې يې له ځان سره وويل:

هغوی چې ته يې وحشيان بولې، ښايي دومره ساده هم نه وي لکه څنګه چې ته فکر کوې. همدا تاسو ياست چې موږ ته مي زموږ افغانان او هغه کسان بد معرفي کړي دي چې خپل هيواد او اسلام ته ژمن او خدمت کوونکي دي .

هغه له لوزينا څخه مخ واړاوه او خپلې کوټې ته ولاړ.

په قرارګاه کي اذان وشو او هغه کسان چي مسلمانان وه هغوي راغلل او په يو صف کي

ودريدل ټولو ښه په خشوع سره لمونځ وکړي ،
حميد دوي ټولو ته کتل ،

د ځان سره يي وويل ، نه هغوي وحشيان دي يعني د جابر دوي ډله ، او نه هم موږ ، مګر زموږ تر منځ دا د امريکا روزل شوي پوځ هرڅه موږ ته غلط او خراب معرفي کړي دي ، کاش چي زموږ له منځه دا نفرت او دښمنۍ شاته پاتي سي ، نو د اسلام بيرغ به بيا يو ځلي په ټوله نړۍ واکمني وکړي .

د امريکا لاس پوځي مشران په دې پوهيږي ، که چيري ټول مسلمانان سره يو لاس او متحد شي ، نو بيا به ددوي هيوادونه او ټولې ځمکې تر خپل تسلط لاندي راولي ، لکه عثمان ، صلاح الدين ايوبي ، محمد ابن قاسم طارق ابن زياد موسى ابن نصير سلطان محمد فاتح احمد شاه بابا ابدالي ميرويس نيکه محمود غزنوي او داسي نور کسان چي د اسلام په تاريخ کي يي داسي نوم پريښودي چي دښمن او دوست دواړه يې په ښه نوم يادوي .

خير...

مازيګر لوزينا بيا د افسرانو غونډه راوبلله.

ټول افسران حاضر وو.

خو دا ځل د لوزينا په څېره کې سختوالی ښکاره و.

له مرکز څخه ورته راپور رسېدلی و چې پر قرارګاه د بيا بريد امکان شته.

هغې وويل:

ما ته خبر را رسېدلی چې زموږ ديارلس سرتېري د وسله والو له خوا وژل شوي دي. معلومات ښيي چې هغوی غواړي پر قرارګاه بريد وکړي.

خو زه انتظار نه کوم.

زما پلان دا دی چې له هغوی مخکې پر کلي عمليات وکړو.

ريناليډ ويوښتل:

موږ به د کلي پر کومو کورونو چاپه وهو؟

لوزینا په کلک غږ وویل:

دا ځل به ټول کلی تر محاصرې لاندې راولو. ما د شپې لپاره بشپړ پلان جوړ کړی دی. دښمن ته به د پټېدو هېڅ موقع ور نه کړو.

حمید خبرې ته داخل شو.

که موږ د کلي عام خلک وځورو او بې ګناه خلک له ستونزو سره مخ کړو، دا به سمه پرېکړه نه وي.

په هغه کلي کې ښايي څو کورونه د وسله والو وي، خو د څو کسانو لپاره ټول کلی هدف ګرځول عادلانه نه دي.

د لوزینا احساسات نور هم زیات شول.

هغې خپل لاس د غاړې صليب ته يووړ. څو شيبې يې هغه ټينګ ونيو، بيا يې په لوړ غږ وويل:

ما په دې سپېڅلي صليب قسم کړی چې د خپل هېواد د هر وژل شوي سرتېري بدله به اخلم.

زه هيله لرم چې په دې کوټه کې داسې څوک نه وي چې زما د پرېکړې مخالفت وکړي.

په کوټه کې چوپتيا خپره شوه.

حميد قاسم ته وکتل.

قاسم هم د هغه په څېر خپه و.

دواړه پوهېدل چې دا پرېکړه بنايي د يوې نوې ستونزې پيل وي.

غونډه په همدې خبرو پای ته ورسېده.

حمید او قاسم یو ځای ناست وو. حمید په اندېښمن غږ وویل:

که هغوی هغه کلي ته داخل شي، نو عامه وژنه به وکړي، او زه هېڅکله دې کار ته اجازه نه ورکوم.

قاسم د حمید د خبرې په ملاتړ وویل:

هو، قومندان صاحب! ماته هم د لوزینا نیت سم نه ښکاري.

بل لور ته د مجاهدینو سالار، جابر، څادر پر ځان اچولی و. د هغوی په مجلس کې هم درنه چوپتیا خپره وه.

اشرف چوپتیا ماته کړه او ویې ویل:

جابره، نه پوهېږم ځنګه، خو هغوی خبر شوي دي چې موږ پر قرارګاه د حملې نیت لرو.

جابر خپلې سترګې د اشرف پر لور واړولې او په فکر کې ډوب وويل:

زه هم همدې خبرې حيران کړی يم. څنګه او ولې زموږ د منځ خبره تر قرارګاه پورې ورسېده؟ چا دا راز ورساوه؟

ټولو يو بل ته وکتل. د هر چا په زړه کې شک پيدا شوی و، او هر څوک په بل شکمن وو.

له اوږدې چوپتيا وروسته جابر وويل:

هر چا چې زموږ سره دا خيانت کړی وي، هم به په دې دنيا کې شرمېدلی وي او هم به د آخرت حساب ورکوي. دا د تاريخ تکرار دی. تل باطل د حق پر وړاندې سر پورته کوي، خو د الله په مرسته به د هغه د دين داعيان او مجاهدين همېشه

ولاړ وي، تاريخ شاهد دی چي دې د غرب او روم ساتونکو تل د خپل عزت دلاسه ورکولو پرواه هم نده کړي او تل يې د الله تعالی پر بندګانو باندي ظلم کړي دي او هغوي يي کاپي کړولي دي ، که چيري موږ اوس هم چپ پاتي شو نو دابه د آخيرت په ورځ زموږ سره ددې خبري حساب وشي ، او موږ به د خپلو پتمنو خويندو بي عزتي په خپلو سترګو وګورو ، بيا جابر خپلو ملګرو ته وکتل ويي ويل :

موږ مخکې د رينالډ کافر سره په جګړه کي و ، مګر اوس يوه بله ستونزه پيداشوي ده او هغه ستونزمن شخصيت د قرارګاه نوي ساتونکي او مسؤله لوزينا ده ، انشاالله چي په هغی باندی به هم ميدان پريږدو ،

د جابر خبرو د مجلس پر ټولو ژور اغېز وکړ او بيا چوپتيا خپره شوه.

بل لور ته حمید قاسم ته مخ ور واړاوه او ویې ویل:

زه بله لاره نه لرم. باید جابر ته ځان ورسوم او خبر یې کړم چې حمله کیږي، لږ تر لږه دې هغوی چمتو وي.

قاسم په حیرانۍ وویل:

قومندان صاحب! دا ته څه کوئ؟ آیا د دښمن مرسته به کوئ او هغوی به زموږ پر وړاندې لا پیاوړي کوئ؟

حمید په ټینګ غږ وویل:

هغوی زموږ دښمنان دي که نه، دا بېله خبره ده، خو د ولس دفاع باید وشي. ما په پوځي اکاډمۍ کې پر همدې قسم کړی چې د خپل ولس او هېواد

ساتنه به کوم، نه دا چې پردي پوځیان یې زما د
سترګو په وړاندې ووژني ، حمید زیاته کړه ، نه
پوهیږم چي ته څنګه د هغې کافري سومیا په جال
کې ونښتی او ته څنګه د هغې ملګرتیا کوي ایا ته
نه پوهیږي چي سومیا عیسوي ده او زموږ تر منځ
زیات اختلاف دی.

قاسم وویل :

قومندان صاحب ، زه یوائې د هغې سره خبري
کوم زه نور هیڅ نیت نلرم ، ایا هغه ستا ملګري
نده ؟

که چیري ستا ملګري نده نو ولي هغه په همدې
قرارګاه کي ژوند کوي او ولي ته د هغې سومیا په
ملتیا کار کوي ؟

حمید په غوسه وویل :

قاسمه خبرو ته دي پام کوه !

زه دهغي ملتيا نه کوم او نه يي هم په دې کارونو راضي يم ، خو زه مجبور يمه ځکه ماته مي دنده ګرانه ده ما قسم کړي دي چي د هيواد لپاره به هرڅه کوم ، که چيرې راته وويل شي چي په انګار کي په لوڅو پښو تګ وکړه نو زه به ځان حاضر کړم ، دا خو لا د يو مخالف کس سره ګډ ژوند دي .

قاسم نور څه ويل چي،

هماغه مهال د دروازې ټک ټک واورېدل شو.

حميد په تېزه لهجه وويل:

راشه.

سوميا دننه شوه. لومړی يې دواړو ته وکتل، بيا يې حميد ته وويل:

ستا مرستیال، قاسم، د څو دقیقو لپاره ورسره کار لرم.

حمید په غوسه قاسم ته وکتل او ویې ویل:

قاسمه، ورشه او خپل وجدان دې نن بیا ځلي تر پښو لاندي کړه او ځان دې د قهار رب په وړاندې ملامت که !

قاسم په شرمېدلي لهجه وویل:

سومیا، که هر څه لرې، همدلته یې ووایه. زه ستا کوټې ته نه شم تلای.

سومیا په جدي او امر کوونکې لهجه وویل:

نه، ته باید زما کوټې ته راشې. مهمې خبرې درسره لرم.

حمید د هغې په سترګو کې وکتل. د هغه په سترګو کې د غوسې لمبې بلې وې. بیا یې قاسم ته وویل:

ورشه، وګوره چې څه وايي.

قاسم په زړه نا زړه له کوټې ووت او د سومیا تر څنګ روان شو.

د قرارګاه په انګړ کې د واورې وړې وړې ذرې الوتې او سړه هوا چلېده.

سومیا په کراره خپل کوټې ته ننوته او د مېز تر شا کښېناسته. قاسم لا هم ولاړ و.

هغې نږدې څوکۍ ته اشاره وکړه او ویې ویل:

کښېنه، قاسمه.

قاسم په سړه لهجه وویل:

خپله خبره وکړه، بیا باید ولاړ شم.

سومیا دواړه لاسونه په غوسه پر مېز ووهل، بیا پاڅېده او د قاسم مخې ته ودرېده. خپلې سترګې یې د هغه په سترګو کې ښخې کړې او ویې ویل:

قاسمه ، زه پوهېږم چې تاسې همدا اوس څه ویل.

هغې لږه شېبه چوپتیا وکړه، بیا یې په ورو غږ وویل:

که زه دا خبرې اغلې لوزینا ته وکړم...

خبره یې نیمګړې پرېښوده او په نازک لاس یې د قاسم د یونیفورم کالر سم کړ.

قاسم ځان ناپوه واچاوه او ویې ویل:

# کومې خبرې؟

د سومیا پر شونډو یوه موسکا خپره شوه، خو دا د خوښۍ نه، بلکې د پټې غوسې موسکا وه.

هغې وویل:

تاسې د ترهګرو مرسته کوئ، او نن شپه حمید غواړي هغوی ته د حملې خبر ورسوي او زما په اړه چي تاسو کومي خبري وکړي هغه مې هم واوریدي.

د سومیا خبرې د قاسم پر زړه د دروند ګوزار په څېر ولګېدې. هغه پوه شو چې راز افشا شوی او سومیا د دوی ټولې خبرې اورېدلې دي.

قاسم په ارام غږ وویل:

زه په دې پرېکړه کې بې طرفه يم. نه غواړم ځان ته ستونزه جوړه کړم او زه خو ستا ملګري يم ايا زه او ته د يو بل سره نشو جوړيداى ؟

سوميا په نرمه لهجه وويل:

قاسمه، ته پوهيږې چې ما دا خبرې تر اوسه لوزينا ته نه دي کړې. که مې غوښتل، تر تا مخکې مې هغې ته ويلاى شوې.

قاسم په غوسه وويل:

نو ته څه غواړې، اغلې سوميا؟

سوميا د خپلې پخوانۍ خبرې له دوام تېر شوه او ويې ويل:

هر ځل چې تا وینم، زړه مې په درزا شي. نه پوهیږم دا احساس څنګه بیان کړم، خو ستا په لیدو عجیبه ارامي احساسوم.

قاسم په حیرانۍ ورته کتل.

سومیا بیا وویل:

زموږ تر منځ ډېر توپیرونه شته، خو زه نه غواړم دین، رتبه او اختلافونه زموږ تر منځ خنډ شي.

هغه یو ګام نور هم ورنږدې شوه او په ارام غږ یې وویل:

زه ستا لپاره د لویو پرېکړو کولو ته هم تیاره یم. آیا ته زما ملګرتیا منې؟

قاسم غلی ولاړ و. ذهن یې ګډوډ شوی و او نه پوهېده چې د دې خبرې په ځواب کې څه ووایي.

قاسم په ریږدېدلي غږ ووېل:

وګوره، اغلې سومیا... زه پوهېږم چې په تیرو څو ورځو کي زه او ته یو بل ته زیات نږدې شوي یو ، که ریښتیا ووایم زه هم غواړم تا پخپلو احساساتو کې شریکه کړم او غواړم ستا په ملتیا د دښمن ملا ماته کړم خو زه یوڅه وخت ته اړتیا لرم ځکه زما کورنۍ زما لپاره یوه بله انجلي هم انتخاب کړئ ده زه باید زما د کورنۍ سره په دې اړه خبري وکړم .

د سومیا پر شونډو نرمه موسکا خپره شوه. هغې په داسې غږ ووېل چې د مهربانۍ رنګ پکې څرګند و:

سمه ده، هر څومره وخت چې غواړې. زه به انتظار وباسم.

د دې خبرو له پای ته رسېدو وروسته قاسم ورو له کوټې ووت. ذهن یې له بېلابېلو فکرونو ډک و. هغه هڅه کوله خپل احساسات له عقل سره وتړي، خو د سومیا نرمې خبرې او د هغې ربښتینې چلند د ده د زړه پر کلکو دېوالونو ورو ورو اغېز کړی و. هغه نه غوښتل په احساساتو کې ډوب شي، خو دا هم نه شو انکارولای چې د سومیا حضور یې په زړه کې یو نوی اضطراب راویښ کړی و.

د باندې هوا هم بدله شوې وه. واوره بنده شوې وه او پر ځای یې سخت باران پیل شوی و. درنې څاڅکې پر ځمکه لګېدې او د قرارګاه خاموشه فضا یې له باران او باد سره لا درنه کړې وه.

قاسم ناڅاپه د حمید خبره ورياده کړه.

د هغه زړه درزا واخیسته.

که ربښتیا هم قومندان تللی وي...

نور يې فکر ونه کړ. په منډه د حميد د کوټې پر لور روان شو. باران يې يونيفورم تر هډوکو لوند کړ، خو هغه هيڅ پروا نه لرله.

د کوټې مخې ته ودرېد، دروازه يې وټکوله.

قومندان صاحب!

ځواب رانغی.

بيا يې دروازه وټکوله.

قومندان صاحب، زه يم... قاسم.

بيا هم چوپتيا وه.

هغه نور انتظار ونه کړ. دروازه يې ورو خلاصه کړه او دننه ننوت.

کوټه تشه وه.

قاسم د کوټې په منځ کې ودرېد. سترګې يې هر لور ته وګرځېدې، خو د حميد هېڅ نښه نه وه.

يوه سړه انديښنه يې په زړه کې تېره شوه.

هماغه مهال يې سترګې د حميد پر نظامي يونيفورم ولګېدې چې لا هم د کوټې په يو کونج کې ځوړند و.

هغه له ځانه سره ورو وويل:

يعنې... په ملکي جامو وتلی دی؟

دغه فکر د هغه زړه نور هم دروند کړ.

بې له ځنډه يې خپله مخابره راواخيسته.

قومندان صاحب، که غږ مې اورئ، ځواب راکړئ.

خو د خپلې خبرې تر ځنګ يې د مخابرې بل غږ هم واورېد.

هغه ورو سر وګرځاوه.

د حميد مخابره د مېز پر سر پرته وه.

قاسم په یوه شیبه کې پوه شو چې حمید قصداً مخابره نه ده وړې، ترڅو څوک د هغه ځای معلوم نه کړي.

هغه څو شیبې بې حرکته ودرېد، خو بیا یې په بیړه پرېکړه وکړه. باید لوزینا خبره کړم.

له کوټې راووت او د باران تر سختو څاڅکو لاندې د لوزینا د دفتر پر لور په منډه روان شو.

په لاره کې سومیا ورسره مخامخ شوه.

هغې د اندېښنې په غږ وویل:

قاسمه! څه پېښه شوې؟ ولې دومره په بیړه یې؟

خو قاسم د وخت د کمښت له امله ونه درېده.

یوازې دومره یې وویل:

وروسته درته وایم.

او روان شو.

څو شېبې وروسته د لوزينا دفتر ته ورسېد.

د دفتر مخې ته دوه ساتونکي ولاړ وو.

قاسم په بيړه وويل:

اجازه راکړئ، بايد سمدستي له اغلې لوزينا سره وګورم.

يو ساتونکي ځواب ورکړ:

هغه په دفتر کې نشته. خپلې کوټې ته تللې ده.

قاسم په ناخوښۍ ساه وايسته او يو ځل بيا د باران تر څاڅکو لاندې د استوګنځي پر لور په منډه روان شو.

کله چې د لوزينا کوټې ته ورسېد، بې له دې چې د دروازې ځواب ته انتظار وباسي، دروازه يې خلاصه کړه او دننه ننوت.

د هغه ناڅاپي ورتګ د کوټې ارامه فضا يو دم بدله کړه.

لوزينا او رينالډ د يو بل تر څنګ ناست وو رينالډ د لوزينا په اوږه سر ايښي و د هغې په ايله زلفو کې يې لاس تيراوه دواړه په ټيټ غږ خبرې کولې او د نږدې والي له اندازې څرګندېده چې د مهمو شخصي موضوعاتو په اړه خبرې روانې دي.

د دروازې له ناڅاپي خلاصېدو سره دواړه سمدستي ودرېدل.

لوزينا په کورنيو جامو کې وه، خو د يوه مسلکي افسرې په څېر يې خپل احتياط له لاسه نه و ورکړی.

هغې د سترګو په رپ کې خپل کمربند ته لاس یووړ، تومانچه یې راوایسته او نبغ یې د قاسم پر لور ونیوله.

قاسم دواړه لاسونه لږ پورته کړل او په بیړه یې وویل:

وبښئ... بې اجازې ننوتلم، خو خبره بېخي عاجله ده.

لوزینا د هغه خبره پرې کړه.

هغه څو ګامه ورنږدې شوه، سترګې یې له غوسې ډکې وې.

ته پوهېږې چې دا څه کار دې وکړ؟ د یو افسر شخصي کوټې ته بې اجازې ننوتل د نظم او پوځي اصولو ښکاره سرغړونه ده.

قاسم سر ټيټ کړ.

حق له تاسو سره دی، اغلې لوزينا، خو که څو شپې ناوخته شوی وای، ښايي ډېر ناوخته شوې وای.

رينالډ د دواړو تر منځ ودرېد. په ارامۍ يې د لوزينا له لاسه تومانچه ښکته کړه او بيا يې قاسم ته مخ واړاوه.

ژر ووايه، څه پېښه شوې؟

قاسم بې له ځنډه وويل:

قومندان حميد له قرارګاه وتلی دی. زما شک دا دی چې غواړي د جابر کسانو ته زموږ د عملياتو ټول پلان ورسوي.

د دې خبرې په اورېدو لوزينا او رينالډ يو بل ته وکتل.

د دواړو د څېرو رنګ بدل شو.

هماغه شېبه سوميا هم د ساه په اخيستو کوټې ته راورسېده.

رينالډ په جدي غږ وپوښتل:

ډاډه يې؟

قاسم وويل:

سل په سلو کې نه، خو ټولې نښې همدا ښيي. حميد نه په کوټه کې و، نه يې مخابره له ځان سره وړې وه، او مخکې يې هم همدا نيت څرګند کړی و.

سومیا مخکې شوه او په ټینګ غږ یې وویل:

قاسم ربښتیا وایي. ما خپله د حمید خبرې اورېدلې دي. هغه ویل چې باید ځان جابر ته ورسوي او د حملې له پلان څخه یې خبر کړي، څو هغوی مخکې له مخکې چمتو شي.

د دې خبرو په اورېدو د لوزینا د مخ رنګ سور واوښت. د غوسې رګونه یې په تندي کې راښکاره شول، لاسونه یې بې اختیاره کلک سره وتړل او څو شیبې یې هېڅ ونه ویل.

د کوټې فضا یو ځل بیا په درنې چوپتیا کې ډوبه شوه، داسې چوپتیا چې هر څوک پکې د راتلونکې خونړۍ شپې انځور په خپلو ذهنونو کې لیدي.

لوزینا نور وخت ضایع نه کړ. په ټینګ او قاطع غږ یې امر وکړ:

ټول پوځیان دې سمدستي د حرکت لپاره چمتو شي. د ملي اردو قومندان ظفر هم له خپلو ځواکونو سره راوبولئ. هغه باید له ما مخکې کلي ته ورسیږي او ټولې لارې تر خپل کنټرول لاندې راولي. زه هم سمدستي درپسې راځم. دا زموږ لپاره د چټک او بریالي عملیاتو ښه فرصت دی.

بیا یې رینالډ ته مخ واړاوه.

ته هم بې له ځنډه حرکت وکړه. زه نه غواړم یوې شیبې هم ضایع شي.

رینالډ په لنډه اشاره سر وخوځاوه او ژر له کوټې ووت. ورپسې قاسم، سومیا او نور افسران هم ووتل.

لوزینا یوازې پاتې شوه.

هغې په بیړه خپل رسمي پوځي یونیفورم واغوست، ویښتان یې کلک وتړل، زغره یې پر تن کړه، تومانچه یې په کمربند کې کېښوده او د نقشې مخې ته ودرېده. یو ځل یې د عملیاتو ټول پلان په ځیر سره وکوت، بیا یې ژوره ساه واخیسته.

هغې له ځان سره وویل:

که حمید رښتیا هم ور رسېدلی وي، نو هره ثانیه زموږ پر ضد تماميږي.

هغې خپله خولۍ پر سر کړه او په چټکو ګامونو له کوټې ووته.

بل لور ته، حمید هماغه څه وکړل چې اراده یې لرله.

هغه د قرارګاه له شا په پټه وتلی و، څو جابر د راتلونکي برید څخه خبر کړي.

د موټرسایکل انجن د باران تر شور لاندې په سختۍ اورېدل کېده. حمید په ډېر سرعت روان و او د تیارو، باران او ختو پروا یې نه کوله.

د باران درانه څاڅکي د مرمیو په څېر پر مخ لګېدې، یخ باد یې د وجود تر هډوکو رسېده، خو هغه یوازې یو فکر درلود.

باید جابر ته ځان ورسوم... تر دې چې ناوخته شي.

له نږدې نیم ساعت مزل وروسته د کلي لومړنیو کورونو ته ورسېد.

کلی په عجیبه چوپتیا کې ډوب و.
یوازې د څو سپیو غپا د باران له غږ سره ګډه شوې وه. د کورونو څراغونه مړه وو او داسې ښکارېدل لکه د کلي خلک چې لا هم د را روان خطر څخه بې خبره، په خپلو کورونو کې په ارامه ویده وي.

حمید خپل موټرسایکل د یوې کنډوالې تر شا ودراوه، انجن یې بند کړ او پاتې لاره یې په پښو پیل کړه.
ختې دومره زیاتې وې چې څو ځله یې پښه وښوېده، خو بیا هم مخته روان و.

په پای کې د جابر د کور مخې ته ورسېد.

په بېړه يې دروازه وټکوله.

ځواب رانغی.

بيا يې په لوړ غږ دروازه ووهله.

جابره! زه حميد يم. مهمه خبره لرم.

بيا هم چوپتيا وه.

دريم ځل يې هم دروازه وټکوله، خو هېڅ غبرګون ونه شو.

هماغه مهال يې سترګې د دروازې پر قلف ولګېدې.

کور تړلی و.

حميد ورو له ځان سره وويل:

يعنې... هغوی له وړاندې وتلي دي؟

هغه څو شېبې په فکر کې ډوب شو.

اوس به يې څنګه پيدا کوم؟

ناڅاپه د شا له لوري د وسلې د چارج کېدو روښانه غږ واورېدل شو.

د حميد ټول بدن يو دم کلک شو.

له شا څخه يو ټيټ، خو جدي غږ پورته شو.

حرکت مه کوه... که دې لږ هم ځان وخوځاوه، ډز به وکړم.

حميد ورو دواړه لاسونه پورته کړل.

هغه هڅه وکړه د باران تر تيارو د شا ولاړ کس وپېژني، خو د تور څادر او باران له امله يې څېره نه ښکارېده.

حمید په ارام غږ وویل:

ما د جابر لپاره ډېر مهم خبر راوړی دي. باید همدا اوس هغه ته ځان ورسوم.

ناآشنا کس وپوښتل:

ته څوک یې؟

زه قومندان حمید یم... د قرارګاه څخه راغلی یم. وخت ډېر کم دی.

سړي څو شېبې چوپ پاتې شو.

بیا یې تومانچه ښکته کړه او څو ګامه مخته راغی.

د باران په رڼا کې یې څېره څرګنده شوه.

هغه پخپله جابر و.

حمید په حیرانۍ وویل:
جابره... ته وې؟

جابر په سړه لهجه وویل:
هو، زه یم. خو ته ولې په دې وخت کې راغلی یې؟ ما خو درته ویلي وو چې نور به یو بل نه وینو.

حمید یوه شېبه هم ضایع نه کړه.
د خبرو وخت نشته. نن شپه پر کلي برید کېږي. باید همدا اوس خپل ټول کسان او د کلي ملکي خلک خوندي ځای ته وباسې. که ناوخته شو، ډېرې بې ګناه وینې به تویې شي.

د جابر د څېرې حالت بدل شو.

هغه پوه شو چې حمید بې له ضرورته دومره خطر نه شي منلی.

جابر په چټکۍ شاوخوا وکتل، ډاډه شو چې څوک يې نه څاري، بیا يې ورو وويل:

دا ځای خوندي نه دی. راځه، بل ځای خبرې کوو.

حمید بې له کومې پوښتنې ورپسې روان شو.

دواړه د تنګو او تيارو کوڅو له لارې څو شېبې روان وو، تر دې چې یوې پټې کوڅې ته ورسېدل.

جابر ودرېد.

خپل موبایل يې راوایست او یو لنډ زنګ يې وواهه.

یوازې دومره يې وويل:

دروازه خلاصه کړئ.

ځو شیبې وروسته د یو کور لرګین دروازه ورو خلاصه شوه.

دواړه په بیړه دننه ننوتل، او دروازه بېرته د هغوی تر شا ورو وتړل شوه.

دا کور هم د تېر کور په څېر زوړ او له ختو جوړ و، خو تر هغه ډېر لوی و. ځو خونې، یو پراخ انګړ او تنګې دهلېزونه یې لرل، چې د پټنځای لپاره مناسب ښکاره کېدل.

جابر د حمید پر لور اشاره وکړه.

هغې خونې ته ننوځه. زه همدا اوس راځم.

حمید بې له کومې پوښتنې خونې ته داخل شو، خو جابر د دروازې ترڅنګ ودرېد او له هغه کس

سره چې دروازه يې خلاصه کړې وه، په ټيټ غږ يې څو خبرې وکړې.

خونه تياره وه. يوازې د تېلو يو کوچنى څراغ بل و او ژېړه رڼا يې د خټو پر دېوالونو خپروله. هلته بل څوک نه وو.

حميد خېل لوند څادر له اوږو لرې کړ، دواړه لاسونه يې په ويښتانو تېر کړل او د باران اوبه يې ترې وڅنډلې.

له دباندې د تندر درز او د برېښنا پړک شپه لا پسې وېرووونکې کړې وه. هر ځل چې برېښنا وځلېده، د خونې دېوالونه د يوې شېبې لپاره روښانه شول او بيا به هر څه بېرته په تيارو کې ورک شول.

څو شېبې وروسته جابر د څلورو مچاهدینو کسانو سره خونې ته راننوت.

ټولو سلام وکړ.

حمید د هغوی سلام ته ځواب ورکړ، خو د هغه په څېره کې لا هم بېړه او اندېښنه ښکنده وه.

هغه بې له ځنډه وویل:

جابره، وخت ډېر کم دی. لوزینا او رینالډ پلان لري چې د همدې شپې په وروستیو ساعتونو کې پر ټول کلي پراخ برید وکړي. دوی د جنګیالو او ملکي خلکو ترمنځ هېڅ توپیر نه کوي. که همدا اوس ونه وځو، ډېر بېګناه خلک به ووژل شي.

د خونې فضا درنه شوه.

ځلور واړه کسان يو بل ته وکتل، خو هېچا څه ونه ويل.

جابر خپلې سترګې د حميد پر مخ ټينګې کړې.

زه څنګه پر تا باور وکړم؟ ته د دښمن قومندان يې. کېدای شي دا هم ستاسو د پلان يوه برخه وي، څو موږ له خپلو سنګرونو وباسئ او بيا مو په کمين کې له منځه يوسئ.

حميد يوه ژوره ساه واخيسته. د هغه په سترګو کې د ستړيا او صداقت ګډ انځور ښکارېده.

جابره... اوس د دروغو وخت نه دی. که غوښتل مې تا ته زيان ورسوم، نو دلته به مې ځان نه راښکاره کاوه. ما خپل ژوند په خطر کې اچولی دی، يوازې د دې لپاره چې د کلي خلک وژغورل شي. باور وکړه، وخت له لاسه مه ورکوه.

هغه یو ګام د دروازې پر لور واخیست، غوښتل یې بهر ووځي، خو جابر د هغه لاس ونیو.

حمید حیران ور وکتل.

جابر په ارام، خو شکمن غږ وویل:

ګوره ځوانه... زه ستا په سترګو کې دروغ نه وینم، خو لا هم نه پوهېږم چې ولې دا هر څه کوې. ته زموږ دښمن یې، خو د خپلو خلکو پر ضد ولاړ یې. دا زما لپاره د منلو خبره نه ده.

حمید په توند غږ وویل:

ځکه چې زه د بېګناه انسانانو د وینې تویېدو ته نه شم کتلای. زه نه غواړم سبا د ماشومانو، ښځو او سپین ږیرو جسدونه د همدې کوڅو په منځ کې

پراته ووینم. جګړه دې له جنګیالو سره وي، نه له ولس سره.

د حمید خبرو د خونې چوپتیا نوره هم درنه کړه.

په همدې وخت کې نصیر، چې د جابر تر ټولو نږدې او باوري ملګرى و، یو ګام مخته شو.

هغه په جدي لهجه وویل:

قومندانه، خبرو ته مو پام وکړئ.

بیایې جابر ته وکتل ویې ویل :

که دا سړی دوکه کوي، نو همدا اوس باید پرېکړه وکړو. وخت د انتظار نه دی.

جابر لاس پورته کړ او نصیر یې چوپ کړ.

نصیره... لږ صبر وکړه. زه د دې سړي له خبرو د دروغو بوی نه احساسوم. کېدای شي رښتیا ووایي.

حمید غوښتل بیا څه ووایي، خو ناڅاپه د کور له باندې د موټرو د درېدو غږونه واورېدل شول.

ورپسې د سرتېرو د چټکو قدمونو شور پورته شو.

د خونې دننه ټول یو دم غلي شول.

هماغه شېبه د لوډسپیکر غږ د باران او تندر شور مات کړ.

د قومندان ظفر غږ په ټوله کوڅه کې خپور شو:

قومندان حمید... جابره... کور مو کلابند شوی دی. خپلې وسلې پر ځمکه کېږدئ او ځانونه راوسپارئ. که مقاومت وکړئ، ټول به ووژل شئ.

په خونې کې د هر چا سترګې د جابر پر لور واوښتې.

د ټولو په ذهن کې یوازې یوه پوښتنه ګرځېده.

ایا جګړه همدا اوس پیلېږي؟

جابر په حیرانۍ حمید ته وکتل.

تا خو ویل چې لا څو ساعته وروسته به برید کېږي، خو هغوی خو همدا اوس راورسېدل.

په خونه کې ولاړ ټول کسان وارخطا شول.

حمید هم حیران و.

هغه نه پوهېده چې پوځ څنګه دومره ژر د دوی تر پټنځای پورې رسېدلی دی.

هغه په ټېنګ غږ وویل: ما درته ویلي وو چې همدا اوس ووځئ، خو تاسې وخت ضایع کړ. نور د بحث وخت نه شته.

هغه د جابر لاس ونیو.

راځه، باید ووځو.

جابر خپل لاس ورو خلاص کړ او په کلک غږ یې وویل:

یو مجاهد له جګړې نه تښتي.

بیا یې په لوړ غږ داسې وویل چې د تندر تر غږه هم واورېدل شو.

په تندې مې د مرمۍ داغونه ښه دي

پیغله نه یم چې خالونه مي خوښیږي

هغه بیا وویل :

زه مجاهد یمه جهاد په هر صورت کومه

زه په جنت کې هم دنیا غونډې سنګر لرمه

حمید په حیرانۍ ورته وکتل.

جابره... زما مقصد تېښته نه ده. لومړی باید ځان وژغورو، بیا که اړتیا وه، جګړه به هم کوو.

جابر د هغه خبرې ته ځواب ور نه کړ.

هغه نصیر ته مخ واړاوه.

ټول چمتو شئ. که جګړه راباندې تحمیلیږي، نو په مېړانه به یې کوو ، او د خپلو پخوانیو سالارانو او رهبرانو په قدم به قدم ږدو که اړتیا سوه ځان به د لوي څښتن تعالی لپاره قرباني کړو ، خو ځان قصداً باید دښمن ته تسلیم نکړو ، ځکه دابه زموږ په غیرت او تکتیکونو باندې سوال پیداکړي .

بیا یې له جیبه یو کوچنی موبایل راوایست او یوه خوندي شمېره یې ونیوله.

هو... عملیات پیل کړئ.

همدومره یې وویل او زنګ یې پرې کړ.

څو شېبې وروسته د باندې یوه درنه چاودنه وشوه.

ټوله سیمه ولړزېده.

ورپسې د درنو وسلو، راکټونو او ماشیندارو ډزې پیل شوې.

باران لا هم په شدت اورېده او د مرمیو سره کرښې د تیارې اسمان په اوږدو کې د سره اور د مارانو په څېر تېرېدلې.

دا هغه برید و چې جابر د خپلو کسانو د پام اړولو لپاره امر کړی و، څو د پوځ تمرکز د کلي بلې خوا ته واوړي.

جابر بېرته خونې ته راغی.

دا ځل يې په لاس کې يو نوی روسی کلاشینکوف و.

هغه په لنډه وویل:

اوس وخت راغی. راځئ.

ټول له کوټې ووتل.

د شپې چوپتیا د جګړې شور خوړلې وه.

د باران، چاودنو او مرمیو ګډ غږ د کلي فضا په دوزخ بدله کړې وه.

دوی د دېوالونو په سیوري کې په ټیټ تګ روان وو.

کله چې د کور دروازې ته ورسېدل، جابر ورو دروازه خلاصه کړه.

د کورونو د پرلهپسې بدلولو له امله پوځیان نه پوهېدل چې جابر په کوم کور کې دی، نو د هغوی ډېری ځواکونه د کلي هغې برخې ته تللي وو چې د مجاهدینو برید له هماغه لوري پیل شوی و.

همدا ګډوډي د جابر لپاره د وتلو ښه فرصت و.

حمید د جګړې لور ته وکتل او و يې وویل:

جابره، همدا مناسب وخت دی. مخکې له دې چې هغوی بېرته راټول شي، باید ووځو.

جابر سر وخوځاوه.

سمه ده، راځه.

څو کوښې وروسته د یو کور مخې ته ودرېدل.

هلته دوه موټر چمتو ولاړ وو.

جابر نصير ته وويل:

ته قومندان حميد او نور کسان په لومړي موټر کې وباسه. زه خپله کورنۍ له ځان سره په دويم موټر کې انتقالوم.

حميد سمدستي وويل:

نه، زه ستا ترڅنګ پاتې کېږم.

جابر په کلکه وويل:

هماغه به کېږي چې زه يې وايم.

حميد يو ګام ورنږدې شو.

باراني اوبه يې له ويښتانو او مخ څخه روانې وې.

هغه په جدي غږ وويل:

که نن څوک شاته پاتې کیږي، زه او ته به یو. نور باید ژوندي ووځي.

جابر لا غوښتل څه ووایي چې ناڅاپه د چټکو قدمونو غږونه واورېدل شول.

هغه سمدستي په ورو غږ وویل:

نصیره، ژر! ټول پټ شئ.

نصیر او نور کسان د تنګې کوڅې له بلې لارې ورک شول.

خو جابر او حمید نږدې کور ته ننوتل او د دروازې شاته ودرېدل.

دواړو خپلې وسلې تیارې کړې.

د قدمونو غږونه نور هم رانږدې شول.

یوه شېبه وروسته څو پوځیان په منډه له کوڅې تېر شول. هغوی یو بل ته په لاسونو اشارې کولې او د نصیر د ډلې د تعقیب په نیت د کوڅې بل لور ته روان وو.

حمید او جابر یو بل ته وکتل.

دواړه پوهېدل چې دا یوازې د څو شېبو فرصت دی، او که لږ هم ناوخته شي، د تېښتې ټولې لارې به وتړل شي.

جابر په ټیټ غږ وویل:

همدلته انتظار وکړه، زه همدا اوس راځم.

د خبرې له پای ته رسېدو سره سم په منډه د کور بلې خونې ته ننوت.

حمید د کور د دروازې تر څنګ، د باران لاندې، ولاړ پاتې شو. خپله تومانچه یې چمتو نیولې و او

د کوڅې دواړو لورو ته يې ځير ځير کتل. هره شېبه يې تمه لرله چې پوځيان به راښکاره شي.

باران لا هم په شدت اورېده. د برېښنا هر ځل ځلېدو به ټوله کوڅه د څو شېبو لپاره روښانه کړه، بيا به هر څه بېرته په تورو تيارو کې ورک شول.

بل لور ته لوزينا له خپلو ځواکونو سره د کلي څنډې ته ورسېده.

څو ټانکونه، زرهي موټر او د ملي اردو سرتېري د هغې تر قوماندې لاندې د پرمختګ په حال کې وو.

لوزينا له موټر څخه ښکته شوه او د شپې په تياره کې يې د جګړې روان حالت وڅاره.

د لرې ځخه د درنو وسلو، راکټونو او ماشیندارو ډزو غږونه اورېدل کېدل.

هماغه مهال قوماندان ظفر ورننږدې شو.

اغلې لوزینا، جګړه په شدت روانه ده. د ترهګرو ډېرى کسان د کلي په لوېدیځه برخه کې دي او زموږ ځواکونه ورسره بوخت دي.

لوزینا د څو شېبو لپاره هېڅ ونه ويل.

هغې د نقشې او د جګړې د غږونو تر منځ ذهن کې پرتله وکړه.

ناڅاپه يې په غوسه وويل:

ما لويه تېروتنه کړې ده، ظفره چې ته مې ددې ډلې قوماندان کړې .

ظفر حیران شو.

مګر ولي ؟

لوزینا په ټینګ غږ وویل:

هغوی موږ له اصلي هدفه اړولي یو. دا جګړه یوازې د پام اړولو لپاره ده او ته هم د هغوي په لاسونو کي لویدلي یي.

هغې په لوړ غږ ناري کړې:

رینالډ!

رینالډ سمدستي حاضر شو.

حاضر یم.

سمدستي امر وکړه چې د کلي ټولې څلور خواوې کلابندې شي. هېڅ څوک، حتی یو ماشوم هم، باید له دې ځایه ونه وځي. اصلي هدف جابر دی، نه دا ډزې.

رينالډ بې له ځنډه د مخابرې له لارې امرونه خپاره کړل.

لوزينا په چټکو ګامونو د مخکښ ټانک پر لور روانه شوه.

ظفر په خاموشۍ هغې ته کتل.

هغې ويښتان کلک تړلي وو، د خولۍ له شا يې يو څو لندې ځنې راوتلې وې او د باران له امله يې پر شا نښتې وې.

لوزينا د ټانک دروازه خلاصه کړه او په ټينګ غږ يې وويل:

نن شپه د دې جګړې پای غواړم. څوک چې د دې عملياتو برخه وي، زما تر شا دې راشي.

رينالډ، ظفر، قاسم او يو شمېر ځانګړي سرتېري سمدستي زرهي موټرونو ته وخوتل.

لوزينا د ټانک د برج تر شا خپل ځای ونيو او د شپې ليد ځانګړې دوربين يې سترګو ته ونيو.

څو دقيقې وروسته د کلي ټولې څنډې د حکومتي ځواکونو تر محاصرې لاندې راغلې.

په همدې وخت کې حميد لا هم د جابر په انتظار ولاړ و.

د جابر نه راتګ هغه بې حوصلې کړ.

هغه په بيړه د هغې خونې پر لور روان شو چې جابر ورته تللی و.

پرده يې پورته کړه او بې اختياره يې وويل:

جابره، وخت نه شته، ژر...

خو خبره یې نیمګړې پاتې شوه.

هغه په حیرانۍ ودرېد.

په خونه کې ذاهده، ملیکه، یاسر، صوفیه او د جابر مور، خالده، ناست وو ټولو چمتوالي نیوه تر څو حرکت وکړي .

ټولو یو دم د هغه پر لور وکتل.

د حمید او ذاهدې سترګې سره ولګېدې.

د څو شېبو لپاره داسې احساس کېده چې د خونې شور او د باندې د جګړې غږونه دواړه غلي شوي وي.

د حمید ذهن ته هغه ورځ راغله چې په مسجد کې یې ذاهده د دعا پر مهال غوښتې وه.

هغه ورو وویل:

وبښئ...

او سمدستي يې پرده بېرته راښکته کړه.

د ده زړه په بې اختیاره ډول درزا واخيسته، خو ځان يې ژر بېرته کابو کړ.

همدا شېبه جابر له بلې خونې راووت.

ټول چمتو شئ، حرکت کوو.

ټولو ښځو خپل حجابونه لا کلک کړل او په بيړه د وتلو لپاره چمتو شوې.

حميد يو ځل بيا په ناخبرۍ د ذاهدې پر لور وکتل، خو دا ځل د ټولو ښځو مخونه په حجاب کې پټ وو او هغه ونه توانېد چې څېره يې بيا ووينې.

جابر ورو دروازه خلاصه کړه.

حميد وويل:

زه لومړی موټر چالانوم، بیا به ټول سپاره شئ.

جابر د هغه خبره ومنله.

خو لا حمید لومړی ګام له دروازې دباندې نه و ایښی چې د کوڅې له دواړو خواوو د بوټونو د منډو غږونه پورته شول.

یوه شیبه وروسته څو ځانګړي سرتېري رابښکاره شول.

د هغوی د وسلو شپېني لیزرونه نېغ د حمید پر سینه ودرېدل.

یو افسر په لوړ غږ ناري کړې:

وسلې وغورځوئ! لاسونه پورته کړئ! کور کلابند دی.

حمید په یوه شېبه کې پوه شو چې د کور دننه ټول کسان له مرګ سره مخامخ دي.

هغه په پټه د جابر پر لور وکتل.

د جابر لاس د ماشې پر سر کلک نیول شوی و او سترګې یې د جګړې اور اخیستی و.

حمید ورو خپله وسله د سرتېرو پر لور برابره کړه.

د باران، تیارې او د برېښنا د لنډو ځلاوو له امله پوځیانو دا حرکت ونه لید.

په ناڅاپي ډول حمید ځان یو ګام شاته وغورځاوه.

هماغه شېبه یې پر سرتېرو پرلهپسې ډزې پیل کړې.

د لومړنیو مرمیو له لګېدو سره دوه سرتېري پر ځمکه ولوېدل او نور بې اختیاره د دېوالونو شا ته پناه شول.

په مقابل کې هم سخته ډزې پیل شوې.

مرمۍ د کور د دېوالونو، دروازې او شاوخوا ختځو ته لګېدې، خو د باران او تیارې له امله ډېری ډزې بې هدفه تېرېدې.

د کور دننه ښځې په وارخطایۍ ببېرته خونې ته په منډه شوې.

هماغه شېبه جابر هم له دروازې راووت.

بې له دې چې ځان ښکاره کړي، د دېوال له سیوري څخه یې پر سرتېرو متمرکزې ډزې پیل کړې.

حمید او جابر، سره له دې چې د دوو مخالفو ډلو کسان وو، د څو شېبو لپاره اوږه په اوږه ودرېدل.

د باران، تندر او بریښنا تر منځ د دواړو وسلو اور د کوڅې فضا داسې بدله کړې وه، لکه ټوله شپه چې په یوه لمبېدونکي میدان بدله شوې وي.

جابر د پخوانۍ مېړانې په څېر د جګړې په لومړۍ کرښه کې ولاړ و. هره مرمۍ یې په دقت ویشتله

او له یوه سنګر څخه بل ته په چټکۍ خوځېده. حمید یې شاته ولاړ و او د هغه د خوندي پاتې کېدو لپاره یې پر پرلهپسې ډزو د دښمن سرونه ټيټ ساتل.

د امریکایي ځواکونو لومړۍ ډله د سخت مقاومت له امله څو متره شاته شوه. هغه تنګه کوڅه د هغوی لپاره مناسب ځای نه و؛ نه ټانکونه په اسانۍ حرکت کولای شول او نه یې عسکر د کورونو تر منځ واضح لید درلود.

جابر په بیړه له سنګره راووت، موټر ته ورسېد او انجن یې چالان کړ.

حمید کور ته ننوت. ټولې ښځې یې راوبللې او په ټینګ غږ یې وویل:

هېڅوک شاته مه ګورئ. ژر موټر ته وخېژئ، وخت ډېر کم دی.

د کور ټولې ښځې په وار وار موټر ته پورته شوې.

کله چې ذاهده له دروازې راووتله، د اسمان د برېښنا ناڅاپي ځلا ټوله کوځه روښانه کړه.

هغې د کوڅې په منځ کې د څو پوځیانو جسدونه ولیدل. باران یې پر مخونو او جامو روان و او د وینو سره ګډې اوبه د کوڅې په ژیړو ختو کې ورو ورو روانې وې.

دغه منظره د ذاهدې پر زړه درونړ ګوزار وکړ.

هغه بې اختیاره ودرېده. پښې یې نور حرکت نه کاوه او سترګې یې د جګړې پر هغه خونړي انځور کلکې پاتې شوې.

حمید چې له کوره وروستی راووت، ولیدل یوه نجلۍ لا هم په کوڅه کې ولاړه ده.

هغه، چې د حجاب له امله یې نه وه پېژندلې، په غوسه غږ وکړ:

انجلۍ! څه کوې؟ ژر موټر ته وخېژه!

خو چې هغې حرکت ونه کړ، حمید ورنږدې شو، د لاس مړوند یې ونیو او په بیړه یې موټر ته پورته کړه.

بیا خپله د جابر تر څنګ په مخکینۍ څوکۍ کې کښېناست.

حرکت وکړه!

جابر بې له ځنډه موټر روان کړ.

د باران اوبه د ټایرونو لاندې دواړو غاړو ته شیندل کېدې. د ښیښې پاکوونکي په پرله‌پسې ډول ښیښه پاکوله، خو د باران شدت دومره زیات و چې لید یې لا هم محدود کړی و.

جابر په ډېر احتیاط او لوړ سرعت موټر د تنګو کوڅو له منځه ایسته.

څو کوڅې وړاندې ناڅاپه د یوه کور مخې ته ودرېد.

هغه حمید ته وویل:

یوه شېبه... همدا اوس راځم.

حمید په حیرانتیا ورته وکتل.

اوس د درېدو وخت نه دی، څه کوې؟

خو جابر هېڅ ځواب ورنه کړ او په منډه کور ته ننوت.

حمید هم له موټره ښکته شو، غوښتل د جابر پسې ولاړ شي، خو د شا له څوکۍ یو نرم او اندېښمن غږ واورېدل شو.

مه ځئ...مورې يوازې مه پرېږدئ.

حميد ودرېد.

هغه د غږ پر لور وکتل، خو په تياره کې يې ونه پېژندله چې څوک خبرې کوي.

بېرته موټر ته راغی، د موټر چلونکي په څوکۍ کښېناست او انجن يې چالان وساته.

د انتظار په ترخ کې يې د مخکينۍ کوچنۍ هندارې له لارې شاته وکتل.

د ذاهدې سترګې يې وپېژندلې.

هغې هم په پټه حميد ته کتل.

خو کله چې د دواړو سترګې سره ولګېدې، ذاهدې ژر خپل نظر بل لور ته واړاوه او داسې وښودله لکه هېڅ نه وي شوي.

حميد هم بې اختياره څو شيبې هماغې هنداري ته کتل. هغه نه پوهېده چې ولې د جګړې په داسې سختو شيبو کې د دې نجلۍ اندېښمنې سترګې د ده پام ځان ته راکاږي.

هماغه مهال جابر ببرته راووت.

د هغه پر اوږه يو راکټ لانچر پروت و او په بل لاس کې يې څو اضافي وسلې نيولې وې.

حميد حيران شو.

دا دې له کومه کړل؟

جابر په موټر کې کښېناست او په لنډه موسکا يې وويل:

نن شپه به خامخا په کار راځي.

باران لږ وروو شوی و، خو د اسمان تندر لا هم په پرلهپسې ډول غرېده او تیاره شپه یې لا وېرونکې کړې وه.

حمید موټر ته حرکت ورکړ.

بل لور ته لوزینا د کلي له هغې لارې څو سوه متره لرې ولاړه وه چې عمومي سړک ته وتله.

هغه د یوه ټانک پر سر ناسته وه او شپنی دوربین یې سترګو ته نیولی و.

هر څو شېبې وروسته به یې دوربین ښکته کړ، شاوخوا به یې وکتل او بیا به یې سترګو ته ونیو.

رینالډ په حیرانتیا وویل:

اغلې لوزینا، اصلي جګړه په کلي کې روانه ده. موږ ولې دلته ولاړ یو؟

لوزینا یوازې موسکا وکړه.

هغې ځواب ورنه کړ.

هغه پوهېده چې که حمید رښتیا هم د جابر مرسته کوي، نو د کلي د محاصرې تر ماتېدو وروسته به همدا لاره د وتلو تر ټولو مناسب انتخاب وي.

ناڅاپه د هغې مخابره وغږېده.

اغلې لوزینا! قومندان ظفر د مخامخ نښتې پر مهال ووژل شو. له هغه سره څو نور سرتېري هم وژل شوي دي.

دا هماغه ډله وه چې پر هغه کور یې برید کړی و.

د دې خبر په اورېدو د لوزینا د څېرې رنګ بدل شو.

هغې په غوسه وویل:

ظفر هېڅکله د ساحوي قوماندې وړتیا نه لرله...

بیا یې سمدستي امر وکړ:

د ختیځ لوري فشار کم کړئ، خو د عمومي سړک
ټولې لارې کلکې وتړئ. هېڅ موټر باید ونه وځي.

په همدې وخت کې د کلي خلک په خپلو کورونو
کې بند پاتې وو.

د ماشومانو ژړا، د ښځو دعاګانې او د مرمیو
پرلهپسې غږونه سره ګډ شوي وو.

په هغو سیمو کې چې پوځیان ورسېدل، کورونه یې
یو په بل پسې تلاشي کول، خو د کلي په لوېدیځه
غاړه لا هم سخته جګړه روانه وه.

لوزینا هره لحظه وضعیت څاره.

ناڅاپه یې د یوه موټر د انجن غږ واورېد.

غږ ورو ورو رانږدې کېده، خو د تیارې او باران
له امله موټر نه ښکارېده.

هغې خپل لاسونه سترګو ته پورته کړه ، خو پوه شوه چې دوربین یې له ځانه سره نه دی.

په بیړه ټانک ته وخته، دوربین یې راواخیست او بېرته خپل ځای ته راغله.

دا ځل چې یې دوربین سترګو ته ونیو، د باران تر منځ یې د یوه موټر څراغونه ولیدل.

هغې په غور وکتل.

موټر په لوړ سرعت د دوی پر لور روان و.

هماغه مهال حمید هم خطر احساس کړی و.

هغه جابر ته وویل:

دا پوخ سړک ډېر مناسب نه ښکاري. کېدای شي کمین وي، ښه ده بله لاره ونیسو.

جابر په ډاډه غږ ځواب ورکړ:

نه. همدا تر ټولو لنډه لاره ده. که سرعت مو لوړ وي، تېرېږو.

د دوی خبرې لا پای ته نه وې رسېدلې چې لوزینا د دوربین له لارې موټر وپېژاند.

هغې په لوړ غږ امر وکړ:

اور ....

په خپله هم د ټانک د درنې وسلې تر شا کښېناسته.

حمید د امر له اورېدو سره سم سټیرینګ تاو کړ.

د برېښنا په څلا کې د ټانکونو سیوري ورته ښکاره شول.

کمین دي.

هماغه شېبه د مرمیو سخت باران پر موټر پیل شو.

د موټر دواړو غاړو ته مرمۍ ولګېدې. د ښیښې ټوټې په هوا کې خورې شوې او د دروازو فلزونه د مرمیو په لګېدو سوری سوری شول.

خو حمید خپله پوځي روزنه هېره نه کړه.

هغه موټر په مستقیمه کرښه نه چلاوه، بلکې په پرله‌پسې ډول یې ښي او چپ ته حرکت ورکاوه، څو د ټانکونو نښه ګرځېدل ورته ستونزمن شي.

دا هغه تاکتیک و چې په پوځي اکاډمۍ کې یې د کمین د ماتولو لپاره زده کړی و.

جابر په لوړ غږ چیغه کړه:

ټول ځانونه ښکته کړئ! سرونه مو پټ وساتئ!

بیا یې راکټ لانچر پورته کړ ، حمید ته یې وکتل او په خوږه مسکا یې وویل :

موټر مه دروه د راکټ د توغول همدا وخت دی ، ما ویلي وه چي نن دغه وسله په ښه راځي.

حمید هم د جابر په دې خبره باندې موسک شو .

لوزینا په یوه شېبه کې درک کړه چې د هغوی له لاسه وتل اوس د عملیاتو لپاره ستر ګواښ دی.
هغې بې له ځنډه رینالډ ته مخ واړاوه او په ټینګ غږ یې وویل:

رینالډ! له څو کسانو سره سمدستي د هغوی تعقیب پیل کړه. په هېڅ صورت باید له لاسه ونه وځي.

رینالډ بې له ځنډه د زغروال موټر پر لور منډه کړه. څو سرتېري هم ورپسې وخوځېدل. په څو شېبو کې د تعقیب ډله له هغه ځایه روان شوه.

بل لور ته حمید د موټر چلوونکي څوکۍ ته ناست و. ښنه یې تر پایه پر اسکلیټر ایښې وه او موټر د باران له لمدې لارې په ډېر سرعت روان و.

د موټر مخکینۍ ښیښه او د غاړو هنداري د مرمیو په لګېدو ماتې شوې وې. د باران سړې څاڅکې د ماتې ښیښې له درزونو دننه راتلل او د سپرلیو پر مخونو لګېدل.

کله چې حالت لږ ارام شو، حمید شاته وکتل او په اندېښمن غږ یې وویل:

ټول ښه یاست؟ څوک خو نه دي لګېدلي؟

ذاهده په ژړغوني غږ وویل:

د مور حالت ډېر خراب دی...

جابر په بیړه د خپلې مور خوا ته وکتل.

مورې... څه شوي دي.

خالدې څو مرمۍ خوړلې وې. یوه مرمۍ یې اوږه سوري کړې وه او څو نورې د بدن په بېلابېلو برخو لګېدلې وې. د هغې ساه ورو ورو لنډېدله او د ژوند وروستۍ شېبې یې تېرولې.

لا یې خبرې نه وې پای ته رسېدلې چې د شا له لوري یو ځل بیا د ډزو او مرمیو د لګېدو غږونه پورته شول.

حمید په هنداره کې وکتل.

د دوی تر شا دوه زغروال ټانکونه په لوړ سرعت ورپسې روان وو او پر موټر یې پرله‌پسې ډزې کولې.

حمید په بېړه وویل:

جابره! هغوی راورسېدل. باید څه وکړو.

جابر په ټینګ غږ وویل:

موټر نور هم تېز کړه!

بیا یې د راکټ ویشتونکي وسلې لاس ته کړ. د موټر له کړکۍ نیم بدن دباندې کړ، څو لومړی ټانک په نښه کړي.

خو د تعقیب کوونکي ټانک پر سر ناست رینالډ هم خپل نښه ویشتونکی تیار کړی و.

د دواړو سترګې په یوه شېبه کې سره مخامخ شوې.

رینالډ ماشه کش کړه.

څو مرمۍ د جابر پر سینه ولګېدې.

د مرمیو له سخت درد سره سره جابر خپل توازن له لاسه ورنه کړ. هغه د وروستي ځواک په راټولولو راکټ وتوغاوه.

راکټ د هوا له منځه د اور د یوه لمبې په څېر تېر شو او نېغ د مخکیني ټانک برج ته ولګېد.

په بله شېبه کې یوه درنه چاودنه وشوه.

د اور لمبې او تور لوګی اسمان ته پورته شول. د ټانک برج د چاودنې له زور څخه وشلېد او د سړک غاړې ته وغورځېد.

د چاودنې څپه دومره زوروره وه چې د شا روان دوهم ټانک چلوونکي بېړنی بریک ونیو. هغوی د خپل قومندان د ژغورلو لپاره تم شول.

رینالډ، چې د ټانک په سخته چاودنې کې و بدن یې څو ټوټې شوی و، د ټیپیانو له منځه د راایستلو هڅه یې روانه وه.

په همدې وخت کې جابر د مرمیو د سخت درد له امله خپل هوش له لاسه ورکاوه. راکټ ویشتونکی یې له لاسه ولوېد او نیم بدن یې د موټر له کړکۍ بهر ځوړند پاتې شو.

حمید په چټکۍ سره یو لاس له سټیرنګ څخه خوشې کړ، جابر یې په خپل چپ لاس راکش کړ او بېرته یې په څوکۍ کې کېناوه.

جابر د درد له امله خپل غاښونه کلک سره چیچلي وو.

وینې یې د باران له اوبو سره ګډې شوې او پر جامو یې بهېدلې.

ساه یې لنډه لنډه روانه وه.

د موټر دننه ناستو ښځو لا نه وو پوه شوي چې جابر هم سخت ټپي شوی دی، ځکه حمید هڅه کړې وه دا کار په پټه ترسره کړي.

خو غم لا پسې درووند شو.

د جابر مور، خالده، وروستۍ ساه ورکړه.

هغې خپلې سترګې نیمې پرانیستې پرېښودې او د ژوند څرک یې د تل لپاره مړ شو.

ډا هغه بوډۍ ښځه وه، چې له لومړۍ ورځې راهیسې له حمید سره ښه نه وه، د سختو ټپونو له امله ساه ورکړه.

په موټر کې د ژړا او ویر غږونه پورته شول.

هر څوک په خپل درد کې ډوب و.

حمید په لوړ غږ وویل:

هیله کوم! ټول ارام شئ. که همداسې وارخطا شو، هېڅوک به ژوندی ونه وځو.

د هغه غږ کې هم درد و او هم د یو قوماندان ټینګوالی.

خو لا خطر نه و ختم شوی.

د شا له لرې واټنه لا هم د دښمن د وسلو مرمۍ راتېرېدلې.

ناڅاپه یوه مرمۍ د موټر له ماتې ښیښې دننه شوه او د ملیکې په ښي اوږه ولګېده.

هغې له سخت درده چیغه کړه.

آاااه...

لاس يې پر اوږه کېښود.

ذاهده وارخطا ورنږدې شوه.

ملیکې! څه شوي؟

ملیکې په سخته ساه وویل:

اوږه مې... داسې احساس کوم لکه اور چې پکې بل شوی وي... ټول بدن مې بې حسه کېږي...

حمید یو ځل مخامخ سړک ته کتل او بل ځل یې شاته د تعقیب لوری څاره.

هغه پوهېده چې که لږه تېروتنه وکړي، ټول به له منځه ولاړ شي.

ورو يې د جابر لاس ونيو او په ټيټ، خو ډاډمن غږ يې وويل:

جابره... هيله کوم مقاومت وکړه. ډېر لږ ه لاره پاتې ده. يوازې ځان مه بايله. زه به تاسو ټول خوندي ځای ته ورسوم، که هر څومره قيمت پرې تمام شي.

جابر په سختۍ خپلې سترګې پرانيستې.

د هغه پر شونډو يوه کمزورې موسکا راښکاره شوه، خو د وينو د ډېر بهېدو له امله يې نور د خبرو توان نه درلود.

موټر د باران، لوګي او مرګ له سيوري سره د نامعلوم برخليک پر لور په بشپړ سرعت روان و.

کله چې د رينالډ ټوټه ټوټه شوی جسد او د درې ويشتو امريکايي سرتېرو مړي د لوزينا مخې ته کېښودل شول، د هغې ټول وجود ولړزېد.

هغې هېڅکله دا تصور نه و کړی چې رينالډ به په داسې دردناک حالت کې له لاسه ورکړي. هغه سړی چې څو ساعته وړاندې يې ورسره د راتلونکو عملياتو په اړه خبرې کولې، اوس يې يوازې د وينو لړلی، ټوټه ټوټه وجود تر سترګو کېده.

د هغې پښې بې وسه شوې.

ورو په ختو کې پر ګونډو کښېناسته.

نری باران لا هم اورېده. د باران څاڅکي د هغې پر ويښتانو، مخ او اوږو لګېدل او د اوښکو له څاڅکو سره يو ځای د هغې پر مخ بهېدل.

لوزينا په لومړي ځل د جګړې پر ميدان داسې ماته احساسوله.

دا اوښکې یوازې د رینالډ د مرګ لپاره نه وې. رینالډ د هغې د کورنۍ غړی نه و، خو د اوږدو کلونو همکار، د جګړو ملګری او هغه څوک و چې له هغې سره یې بې شمېره خطرونه تېر کړي وو. دا اوښکې د هغې د ماتې، د خپلو سرتېرو د قربانۍ او د یوې ناکامې قوماندانې د دروند احساس اوښکې وې.

شاوخوا جګړه پای ته رسېدلې وه.
د کلي خلک ورو ورو له خپلو کورونو راوتلي وو. ځینې د سوځېدلو کورونو خواته ولاړ وو، ځینې د خپلو خپلوانو په لټه کې وو او ځینې په چوپتیا د جګړې د پاتې شونو ننداره کوله.

امریکایي سرتېرو چې خپله قوماندانه پر ګونډو ولیده، یو په بل پسې یې خپلې وسلې پر ځمکه

کېښودې او د احترام په توګه ټول پر ګونډو کښېناستل.

د جګړې ډګر، چې څو شېبې وړاندې د ډزو او چاودنو له غږونو ډک و، اوس په عجیبه چوپتیا کې ډوب شوی و.

د قوماندان ظفر، سلاکار رینالډ او درې ویشتو سرتېرو مرګ د ټولو پر زړونو دروند بار ایښی و.

په دې چوپتیا کې یوازې د باران د څاڅکو غږ اورېدل کېده.

باران د الله رحمت و، خو په دې شېبه کې د ماتې او ویر بڼه یې خپله کړې وه. داسې ښکارېده لکه

هر څاڅکی چې د جګړې کیسه بیانوي او هره څاڅکه د دې ورځې د خونړیو خاطرو یوه نوې پاڼه وي.

لوزینا هماغسې بې حرکته ناسته وه.

څو شېبې وروسته قاسم ورنږدې شو. سومیا هم د هغه تر شا ولاړه وه.

قاسم په احتیاط د لوزینا پر اوږه لاس کېښود او په ټینګ غږ یې وویل:

لوزینا... پورته شه. زه درسره ژمنه کوم، چاچې دا کار کړی، یوه ورځ به همداسې د خپلو اعمالو سزا ووینې.

لوزینا سر پورته کړ.

سترګې يې له اوښکو او بې خوبۍ سورې شوې وې.

هغې په مات غږ وويل:

قاسمه... زما پر اوږو ډېر لوی مسؤلیت و، خو نن مې هغه مسؤلیت له لاسه ووت.

بیا یې د مړو پر لور اشاره وکړه.

دا کسان که څه هم اوس غلي پراته دي، خو زه داسې احساس کوم لکه هر یو یې له ما پوښتنه کوي... موږ د خپلې دندې لپاره خپل ژوند قربان کړ، نو زموږ د وینو حساب به څوک اخلي؟

د هغې غږ ورو ورو په غوسه بدل شو.

هغې په قهر خپل بوټ پر ځمکه ووهه.

ځمکې او خړې اوبه هرې خوا وپاشل شوې.

بیا یې یوه موټی لمدې ځمکې راواخیستې او په کلکه یې په مټ کې ونیولې.

ورو پاځېده.

له هغې سره سم ټول سرتېري هم ودرېدل او بېرته د احتیاط په حالت کې ودرېدل.

لوزینا د هغوی مخې ته ودرېده.

د هغې په څېره کې نور د پرونۍ مغرورې قوماندانې نښې نه ښکارېدې.

غږ یې رېږدېده، خو اراده یې د فولادو په څېر کلکه شوې وه.

هغې وویل:

نن ورځ مې سخته ماته وخوړه... خو جګړه همدا ده. کله بریا زموږ وي او کله د دښمن.

هغې یوه شېبه چوپتیا وکړه.

بیا یې په ټینګ غږ وویل:

له نن وروسته به هېڅ بریا ونه لمانځم، تر هغې چې جابر، حمید او د هغوی د ډلې مشران زما د عدالت مخې ته نه وي راولاړ شوي.

هغې خپل لاس خلاص کړ.

هغه موټې ختې ببېرته د باران په اوبو کې ولوېد او ورو ورو له اوبو سره ګډې شوې.

بل لور ته...

حمید، جابر، ذاهده او ملیکه په موټر کې روان وو.

موټر د باران له امله په ختو لړلې لاره ورو ورو وهله.

په موټر کې درنه چوپتیا خپره وه.

ناڅاپه د جابر موبایل وشرنګېد.

جابر بې هوښه پروت و او هېڅ غبرګون یې ونه ښود.

حمید موبایل راواخیست.

د پردې پر مخ د اشرف نوم ښکارېده.

حمید هغه پېژانده.

زنګ یې ځواب کړ.

سلام، اشرفه.

اشرف په بېړه وویل:

ته څوک یې؟ جابر چېرې دی؟

حمید په لنډو ټکو د جګړې ټول حال ورته بیان کړ.

بیا یې وویل:

جابر سخت ټپي دی. باید ژر تر ژره خوندي ځای ته ورسوو. وواېه، تاسې چېرته یاست؟

اشرف خپل ځای ورته وښود.

تر هغوی پورې ډېر واټن نه و پاتې. د یوه لوی کلي په څنډه کې یې پټنځای جوړ کړی و.

زنګ پای ته ورسېد.

یو ځل بیا په موټر کې چوپتیا خپره شوه.

یوازې د ذاهدې ورو ورو سلګۍ اورېدل کېدې.

هغې په ژړغوني غږ وویل:

قومندانه... موږ چېرته ځو؟

حمید د سترګو له کونج څخه هغې ته وکتل او په ارامه یې وویل:

هماغه ځای ته چې اشرف یاد کړ. هلته زموږ ملګري انتظار باسي.

د دې خبرې په اورېدو ذاهده بیا په ژړا شوه.

زما مور... نور زموږ سره نشته...

هغې د خپلې مور یخ شوی لاس په دواړو لاسونو کې ونیو.

سترګې یې لا هم نیمې پرانیستې پاتې وې، لکه وروستۍ هیله یې چې لا نه وي مړه شوې.

ذاهدې بیا د ملیکې پر اوږه لاس کېښود.

لاس یې په وینو سور شو.

په وارخطا غږ یې وویل:

قومندانه... موټر تېز کړه. زه نه غواړم ملیکه خور مې هم له لاسه ورکړم.

حمید هېڅ ونه ویل.

لاسونه یې د سټیرنګ پر سر لا کلک شول.

د باران څاڅکي د ښیښې پر مخ راپرېوتل، خو د هغه ذهن د راتلونکو پېښو په فکرونو کې ډوب و. هغه پوهېده چې د نن شپې جګړه پای ته رسېدلې، خو اصلي جګړه لا اوس پیلېږي.

بالاخره د اشرف په لارښوونه د حمید موټر هغه خوندي ځای ته ورسېد چې هغوی پکې پناه اخیستې وه.

کله چې موټر ودرېد، ټول کسان په بیړه ښکته شول.

هغه څه چې د دوی مخې ته وو، د یوې سختې شپې دردناک انځور و.

ملیکه بې هوښه پرته وه. صوفیه هم له هوشه تللې وه. یاسر په ژړا و. خالده ژوند له لاسه ورکړی و. جابر هم بې هوښه پروت و، مخ یې ژیړ اوښتی و او د بدن له ډېرو ټپونو څخه یې وینه ډېره ضایع شوې وه.

په ټول موټر کې یوازې حمید او ذاهده روغ پاتې وو، خو دواړه له هغه څه وروسته چې تېر شوي وو، له سخت ذهني فشار سره مخ وو.

د موټر څوکۍ ټولې په وینو لړلې وې. د مرګ، درد او ویرې نښې هرې خوا ته ښکاره وې.

اشرف له مخکې د دې حالت لپاره تیاری نیولی و. هغه یو ډاکټر جراح، نرس او د درملنې اړین وسایل برابر کړي وو، څو د ټپیانو ژوند وژغورل شي.

د سهار رڼا ورو ورو خپرېده، خو لمر لا نه و راختلی. د شپې تیاره لا د اسمان پر یوه برخه پرته وه.

حمید په یوه جلا کوټه کې ناست و. فکر یې ټول د جابر پر حالت خراب و، ځکه هغه یې تر ټولو سخت ټپي لیدلی و.

هغه د جابر هغه خبره نه هېروله چې د جګړې په منځ کې یې د خپل ژوند په بیه د نورو د ژغورلو هڅه کوله.

څه شیبې وروسته اشرف په بیړه کوټې ته راغی.

قومندانه، ژر راځه.

حمید سمدستي پاڅېد او د اشرف په ملګرتیا د جابر کوټې ته ولاړ.

جابر په وینو لړلی پروت و. ساه یې درنه اخیسته او د درد له امله یې سترګې نیمه پټې وې.

حمید د هغه سر ته کښېناست او په اندېښنه یې وویل:

جابره، څنګه یې؟

جابر په ډېره سختۍ سترګې خلاصې کړې. پر شونډو يې کمزورې موسکا راغله.

قومندانه... تا راته هغه لومړۍ ورځ رایاده کړه چې په قرارګاه کې مو یو بل ولیدل.

ده لږه شېبه ساه واخیسته.

هغه وخت زه او ته د یو بل دښمنان وو... خو اوس...

خبره يې نيمګړې پاتې شوه. ټوخی پرې راغی او تندی يې د درد له امله راټول شو.

حمید ژر خپل لاس د جابر پر لاس کېښود.

بس جابره، ډېرې خبرې مه کوه. ته اوس آرام ته اړتیا لرې.

جابر په سختۍ وویل:

نه قومندانه... ځینې خبرې باید وویل شي.

حمید چوپ شو.

بیایي ورو وویل:

ستا خبرې، او ستا ایماني جذبه، او د الله په توفیق زه هم پوه شوم چې انسان باید د حق لاره ونیسي. ستا دا احسان به هېڅکله هېر نه کړم.

حمید د جابر سترګو ته وکتل. په هغو سترګو کې یې د یو داسې انسان درد لیده چې د خپل تېر ژوند او راتلونکي تر منځ ولاړ و.

جابر په کمزوري غږ وویل:

زما د کورنۍ غړي څنګه دي؟

حمید یو ځل اشرف ته وکتل.

اشرف سر وخوځاوه، اشاره یې کوله چې د دوی د حالت بشپړ حقیقت مه ورته وایه.

حمید څو شیبې غلی پاتې شو، بیا یې وویل:

جابره، هغوی ټول ښه دي. ستا مور هم ښه کېږي.

جابر سترګې پټې کړې. داسې ښکارېده لکه د زړه یو درونډ بار یې لږ سپک شوی وي.

وروسته یې وویل:

زما هوښیاره خور ملیکه چېرته ده؟ هغه راوغواړه.

حمید بیا اشرف ته وکتل.

اشرف په نرم غږ وویل:

هغه اوس ستا د مور سره ده او د هغې خدمت کوي.

جابر ورو موسکا وکړه.

هو... هغه همداسې ده. رښتينې او باوفا ده.

بيا يې په انديښمن غږ وپوښتل:

زما مېرمن او زما باوقاره مجاهده خور ذاهده ښنګه ده؟ چېرته ده؟

حميد وويل:

هغه ښه ده. که غواړې، همدا اوس يې درته راولم.

جابر په کمزوري خو له مينې ډک غږ وويل:

هو، غواړم يو ځل يې ووينم.

حميد له کوټې ووت او د ذاهدې پر لور روان شو.

په بله کوټه کې ښځې وې. هغه ورغی او دروازه يې په احتياط خلاصه کړه.

دننه ملیکه پر یوې وړې بستري پرته وه. سیروم یې روان و او سترګې یې پټې وې. د ستړیا او ټپونو له امله لا هم بې هوښه وه.

بل لور ته ذاهده د سهار په لمانځه ولاړه وه. په ډېرې خشوع او سکون سره یې د الله عبادت کاوه. د هغې په هر حرکت کې د صبر، وفادارۍ او وقار احساس څرګندېده.

حمید یوې خوا ته ولاړ و او هغې ته یې کتل.

هغه د جګړې، وېرې او وینو تر منځ هم د ذاهدې په څېر د یوې داسې ښځې شتون احساساوه چې خپل باور او عزت یې له لاسه نه و ورکړی.

کله چې ذاهدې سلام وګرځاوه او لمونځ یې پای ته ورساوه، سترګې یې په حمید ولګېدې.

هغې سمدستي خپل مخ ته د لمانځه پړونی راوړ، ځکه لا يې حجاب نه و برابر کړی.

په سترګو يې حميد ته اشاره وکړه چې څه خبره ده.

حميد په لوړ غږ وويل:

جابر غواړي له تا سره ووينـي.

خو لا د حميد خبره نه وه بشپړه شوې چې ذاهدې په لاس اشاره وکړه.

هغې د مليکې خوا ته وکتل، يعنې هغه ويده ده، په لوړ غږ خبرې مه کوه.

حميد د هغې دا پاملرنه ولیده او ورو يې وويل:

وبخښه...

د ذاهدې سترګې له ژړا سره سرې شوې وې. د هغې په خبره کې د تېرو پېښو درد ښکاره و، خو بيا يې هم خپل ځان ټينګ ساتلی و.

هغه په ورو او درنو قدمونو د حمید خواته راغله او ویې ویل:

راځه.

حمید پرده پورته کړه او ذاهده له کوټې راووتله.

کله چې دواړه د کوټې له دروازې ووتل، حمید غوښتل چې د دهلېز پر لور لاړ شي، خو ناڅاپه یې د ذاهدې مړوند ونیو.

لږ صبر... ذاهدې.

ذاهده ودرېده او حیرانه یې ورته وکتل.

حمید د هغې لاس ته وکتل.

یوه ناڅاپه خاطره یې ذهن ته راغله.

نن شپه چې جګړه روانه وه او دوی هڅه کوله خلک له خطره وباسي، هغه ښځه چې تر ټولو وروستۍ حمید موټر ته پورته کړه او لاس یې ورته ورکړ، همدا ذاهده وه.

هغه شېبه د مرګ او ژوند تر منځ يوه لنډه شېبه وه، خو د حميد په ذهن کې پاتې شوې وه.

اوس چې بيا يې هماغه لاس نيولی و، هغه پخوانی احساس يې يو ځل بيا حس کړ.

ذاهدې خپل لاس د حميد له لاسه خلاص کړ او په ارام خو جدي غږ يې وويل:

څه خبره ده؟

حميد څو شېبې غلی پاتې شو، بيا يې وويل:

جابر حالت ښه نه دي. هغه غواړي تا ويني.

خو... بايد يوه شي چې ته روغه يې، په داسې حال کې چې نور ډېر کسان ټپيان دي او ځينې مو له لاسه ورکړي دي.

ذاهده يوازې حميد ته وکتل.

د هغې په سرو سترګو کې د درد، اندېښنې او نه ویل شویو خبرو یو ګډ احساس و.

هغې هېڅ ونه ویل، یوازې ورو روانه شوه او د جابر د کوټې پر لور لاړه.

حمید هم ورپسې روان شو.

دواړه چوپ وو، خو د دوی تر منځ هغه چوپتیا وه چې ډېرې خبرې یې پټې کړې وې.

په همدې وخت کې جابر له اشرف سره خبرې کولې.

هو، دا سمه پرېکړه ده، ځکه هغه اوس زموږ ملګری دی.

د حمید او ذاهدې د راتګ په لیدلو سره جابر خپلې خبرې ودرولې.

ذاهده ژر د خپل ورور خواته ورغله او هغه یې په غېږ کې ونیو.

د هغې سترګې له اوښکو ډکې وې. داسې یې ورسره چلند کاوه لکه غواړي په همدې غېږ کې د خپل ورور ټول دردونه او تکلیفونه له منځه یوسي.

اشرف غوښتل له کوټې ووځي، څو جابر له خپلې کورنۍ سره یوازې پرېږدي، خو جابر په کمزورې اشاره هغه ودرولو.

اشرف هم بېرته کښېناست.

جابر څو شېبې چوپ پاتې شو، بیا یې په سختۍ ساه واخیسته او ویې ویل:

کېدای شي زه د دې ټپونو له امله بېرته روغ نه شم، نو غواړم له تاسو ټولو سره څو مهمې خبرې وکړم.

ذاهده په ژړغوني غږ وويل:

نه وروره، داسې خبرې مه کوه. خدای دې داسې ورځ نه راولي چې ته زموږ په منځ کې نه وې. موږ به ستا له نشتوالي سره څنګه ژوند وکړو؟

حميد د جابر لاس ونيو او په ډاډ ورکونکي غږ يې وويل:

هر څه چې وايې، اوس يې ووايه. موږ ستا خبرې اورو.

جابر څو شېبې حميد ته وکتل، بيا يې په ارام خو دروند غږ وويل:

حميده، له نن وروسته د مجاهدينو د مشرۍ او د دې مبارزې مسؤليت زما له اوږو واوړي او ستا پر غاړه شي.

کوټه د څو شېبو لپاره چوپه شوه.

جابر بیا وپوښتل:

ایا ته دې مسؤلیت ته تیار یې؟

اشرف په حیرانۍ جابر ته وکتل.

جابره، ته څه وایې؟ دا څنګه خبره ده؟

خو جابر یوازې حمید ته کتل.

حمید ژوره ساه واخیسته او ویې ویل:

که زه په خپل زړه کې د الله تعالی رښتینې بندګي غواړم، نو باید د حق لاره وپېژنم او د هر انسان د عمل قضاوت د انصاف له مخې وکړم.

هغه لږه شېبه چوپ شو، بیا یې وویل:

جابره، کېدای شي موږ ډېر وخت یو بل ته د دښمنانو په سترګه کتل، خو نن زه دا منم چې انسان کله ناکله د حقیقت په پېژندلو کې تېروځي.

حمید د جابر لاس ټینګ ونیو.

ما د اصلي ترهګرو څېره هغه وخت ولیده چې بې ګناه خلک د جګړې په اور کې وسوځېدل. هغه څوک چې د خلکو پر ژوند لوبې کوي، ظلم کوي او د خپلو ګټو لپاره د انسانانو وینې تویوي، هغوی د انسانیت پر ضد کار کوي.

او هغوي اصلي ترهګر دي نه ته او ستا مجاهدین ، او نه هم هغه ملي اردو ترهګر دي چې د خپل هیواد ساتنه کوي او ځان یې د همدې هدف لپاره خاوري کړي وي او ځان یې له خپلې کورنۍ څخه لیري کړي وي او د سر بایللو په میدان کې هره ورځ او هره شپه ولاړ وي . بلکې اصلی ترهګر او وحشیان خو هغه امریکایې پوځیان او افسران

دي چي د ملکي وګړو او د مجاهدینو توپیر نه کوي ، بلکې یواځې خپل هدفونو ته ځان رسوي هغه که د بل بې عزتي وي او یا دا چي ددوي ټول مال او شتمني مصرف شي ، خو دوي ځانونه د همدې هېواد منابعو او سرچینو ته وقف کوي ترڅو ددې هېواد او اسلام جرړی وکاږي ...

د حمید خبرو د جابر په سترګو کې د ارامۍ احساس پیدا کړ.

هغه وویل:

حمیده، کوم مسؤلیت چې زه یې تا ته سپارم، داسې یې ترسره کړه چې یوه ورځ زه په دې پرېکړه پښېمانه نه شم. ما ته به دا ډاډ راکړې چې د خلکو امانت به په ښه ډول ساتې.

ده لږه شېبه ساه واخیسته.

زما کورنۍ، زما ملګري او هغه ټول کسان چې پر ما يې باور کړی، ستا امانت دي. له الله تعالی څخه غواړم چې تا په دې لاره کې بریالی کړي.

د جابر غږ ورو ورو کمزوری کېده.

هغه سترګې پټې کړې. د درد نښې يې پر مخ ښکاره شوې.

ذاهدې په خاموشۍ ژړل. هغې د خپل ورور حالت په خپلو سترګو لیده او هېڅ يې نه شو کولای.

اشرف د جابر تر څنګ ناست و. د هغه سترګې له غم څخه ډکې وې.

څو شېبې جابر هېڅ خبرې ونه کړې.

بیا يې په ډېر کمزوري غږ د شهادت کلمه وویل.

شونډې یې لا څو شېبې خوځېدې، خو غږ یې ورو شو او نه اوریدل کیدی بیایي غږ د تل لپاره خاموش شو هغه یواځې د اسمان خواته کتل چي روح یي له تن څخه پورته شو او د شهادت لوړ مقام یي خپل کړ ،

ورو ورو د هغه ساه ارامه شوه.

د کوټې فضا بدله شوه.

هغه سړی چې تر همدې څو شېبو مخکې یې د خپلې کورنۍ، خپلو ملګرو او خپلې مبارزې لپاره خبرې کولې، اوس د تل لپاره چوپ شوی و.

جابر د دې نړۍ له ستونزو سترګې پټې کړې او د خپل باور له مخې یې د شهادت مقام ته سفر وکړ.

ذاهده په ژړا شوه. حمید سر ټیټ کړ او اشرف هم له درانه غم سره چوپ ناست و.

د یو انسان ژوند پای ته ورسېد، خو هغه خبرې چې له ځان سره یې پرېښودې، د پاتې کسانو پر اوږو یو نوی مسؤلیت شو.

او دا مسؤلیت قومندان حمید پخپله غاړه واخیست...

د اصلي ترهګر ناول لومړي پړاو په همدي ځاي پای ته ورسیدي...

## پاي

**په درنښت**

**ډاکتر عتیق الله ژمن**

د بشپړ کیدو تاریخ

# 2026/8/10

## د ناول پیغام

تر ټولو ستره جګړه د انسان په زړه کې ده؛ هغه ورځ چې انسان له ظلم، ناحق او د خپل وجدان له چوپړلو سره مبارزه پیل کړي، هماغه ورځ د حق پر لور د هغه د بدلون پیل وي. انسان د خپل مقام او نوم له مخې نه، بلکې د خپلو کړنو له مخې پېژندل کیږي؛ ځکه اصلي بریا د انسان وژلو کې نه، بلکې د ظلم له منځه وړلو او د انسانیت د ژغورلو کې ده.

## یادونه:

زما هدف نه د یو نظام **سپکاوی** دی او نه هم یوې ډلي ته **تبلیغ.**

## د لیکوال لیکل سوي آثار:

1. ناحقه سزا(**ناول)**
2. له نړۍ بهر لس ورځې(**ناول)**
3. مجرم(**ناول)**
4. د روح چیغه(**شعري ټولګه)**
5. هغه ګناه چې توبه سوه(**ناول)**
6. آنلاین مینه(**ناول)**
7. دوهم مخ(**ناول)**
8. اوسنی کتاب (**اصلي ترهګر)**

د واتساف شمېره:

**+93744405671**